# فانوس

## غزلونه



شهزاده شیرین‌زوی

Ketabton.com

۱۴۰۳ ل

ketabton.com - The Digital Library



# فانوس

شهزاده شیرین‌زوی

۱۴۰۳ ل

ketabton.com - The Digital Library




## د کتاب ځانگړني

**د کتاب نوم:** فانوس (غزلونه)

**ویناوال :** شهزاده شېرين زوی

**اهتمام او بیاکتنه:** نظیرالحق قریشي او جاوید مسرور

**کمپوز :** شاهین شېرين زوی

**ډیزاین:** هجرت الله ناصري

**د پښتی ډیزاین:** شېرین زوی

**خپرندوی:** مومند خپرندویه ټولنه

**د چاپکال:** ۱۴۰۲ ل، ۲۰۲۳م

**د چاپوار:** لومړی

**د چاپشمېر:**۱۰۰۰ټوکه

**چاپځای:** د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانگه


**د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.**


**ننگرهار:** عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی، پښتونستان واټ، ننگرهار مارکېټ، دویم پوړ

**دویمه څانگه:** اسحاقزی مارکېټ، جلال آباد

اړیکي: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱–۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱–۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

**کابل:** مستقبل کتابپلورنځی، پکتوس کتابپلورنځی، اکسوس کتابپلورنځی، سروش کتابپلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتابپلورنځی، آریانا کتابپلورنځی. **کندهار:** امیر کروړ کتابپلورنځی، افغان کتابپلورنځی، عرفان کتابپلورنځی. **خوست:** غرغښت کتابپلورنځی، رحیمي کتابپلورنځی، سباوون کتابپلورنځی، ژوندون کتابپلورنځی، ابدالي کتابپلورنځی

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ!

هغـو درنـو تـه، چـې غـزل هېڅکلـه هـم يـوائې
نــه ګڼــي صرف بــې اساســه مخيلــه وينــا
لــه نجونکــو سره د مينــې، محبــت خــبرې
غـزل تـه نـه ګڼـي پـوره دغـه نېمګـړې معنـا
غزل فقط د رنـګ او خونـد منظـوم کـلام نـه بـولي
بلکـې د خونـد ترڅنـګ لـرې ترېنـه د پنـد تمنـا

**په ډېره مينه او ادب**

**شيرين زوی**

ketabton.com - The Digital Library



## د سریزې پرځای

هیله ده ذهن دې معطر شي پرې زما لوستونکیه!
بیا مې د زړه د ګل ورېمې دروړې هوا لوستونکیه!

نظر پرې وکړه ګوندې ښکلې وي او خوښه دې شي
زما د اندونو او واندونو دا دنیا لوستونکیه!

سپورږمۍ او ستورو پورې زه ورپسې تللی نه یم
د زړه پرهر نه مې اخیستې ده رڼا لوستونکیه!

ketabton.com - The Digital Library



ما د رنګينو تصويرونو هڅه کړې نه ده
ما په بدرنګه منظر کړې ده ژړا لوستونکيه!

يو څو نغمې دي د شپېلۍ له تش ګوګله وتې
يو څو نغمې دي د بلبل زړه د ثنا لوستونکيه!

زه ظالم شوی يم ما غرونه په ښيښه ايښي دي
ما ماته کړې د غزل نازکه ملا لوستونکيه!

غمونه غرونه غرونه او دردونه غرونه غرونه
ما د خپل زړه ولي سپک کړي له بلا لوستونکيه!

ما مصنوعي خوښي پخپل غزل کې نغښتې نه ده
تمثيل مې نه زده، دا کمی لرم رښتيا لوستونکيه!

نه مازيګر شته، نه ګودر، نه په کې شرنګ د بنګړو
بربنډ درواغ به وي که کړم يې راپيدا لوستونکيه!

ketabton.com - The Digital Library



فن مې له پنده قربان کړی ګوره فکر دې وي
دا مې ګڼلې د خپل قام ستره اړتيا لوستونکيه!

ښايي چې نه به يم پېښ شوی په ګبين درملو
ښايي ډالۍ مې وي ترخه غوندې دوا لوستونکيه!

امين پرې وايه ګوندې لوی خدای يې قبوله کاندي
زما له خولې وتې هر لفظ سره دعا لوستونکيه!

زه دې هم ښکومی يم اثر مې هم خپل ښکومی ګڼه
نه دی د لارې او کوخې يار او اشنا لوستونکيه!

دا تور توتان له تا قربان، نور نو د خدای په امان
ما **شيرين زوی** يې نور سپارلی په مولا لوستونکيه!

درنښت

شهزاده شيرين زوی

لغمان، مهترلام ۲۴ / ۱۳۹۱/۷ ل

ketabton.com - The Digital Library



پیل زما په نوم د هغه اوچت شان دی
چې بښونکی، لوروونکی، مهربان دی

له ده پرته بل لایق د سجدې نشته
زما دغه عقیده، دا مې ایمان دی

دی هیچا ته اړتیا نه لري، خو ده ته
ټولو شتو سره اړ ځمکه او آسمان دی

نه دی دی له چا، نه څوک له ده پیدا دی
مُنزه او پاک له داسې این و ان دی

نه مثال لري، نه سیال، نه به پیدا شي
نه ده دی د چا، نه څوک د ده یکسان دی

**شیرین زویه!** په یوه یې ودان کړی
په یوه کن فیکُن یې جهان وران دی

ketabton.com - The Digital Library

## ◊ غزلونه ◊ ۲

ستا له خولې وتې خبرې مرغلرې
غرونه، غرونه سترې، سترې مرغلرې

د عرب او د عجم مقام دې یو کړو
تا کړې یو نژدې او لرې مرغلرې

تا توپیر د تور او سپین له منځه و ایست
ستا په وجه شوې گورگورې مرغلرې

ستاگران بیه فرمودې دومره خوږې دي
لکه وي چې شات شکرې مرغلرې

په وینا دې د نقص غشي اغیز نکړي
تاوې کړي تر ځان زغرې مرغلرې

ستا له مخه ارزښتونه برابر شول
د انصارې، مهاجرې مرغلرې

**شیرین زوی** یې چې کړم ستا په صفت جوړې
شي زما هغه سندرې مرغلرې

ketabton.com - The Digital Library



بلې مو ذهنونو کې ډېوې کړې لويه ربه
تورې تورې شپې په کې رڼې کړې لويه ربه

دا د پښو پنې د سر شملې کړې لويه ربه
لوړې مو لوېدلې حوصلې کړې لويه ربه

مونږ لره ده ستره، خو ده تاته مو وړه هيله
پوه مونږه د ژوند په فلسفې کړې لويه ربه

غوښې د کمزورو، زورور شپېلوي ځار دې شم
دا فرهنګ په دار ځوړند له پښې کړې لويه ربه

دا حالات چې نور د تم کېدو اسره و نلري
دا د بلا سپورې بې اسرې کړې لويه ربه

ما **شيرين زوی** خپلې ارزوګانې په کې نغښتې دي
در کې دې قبولې دا مسرې کړې لويه ربه

۵ / ۱ / ۱۳۸۷ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ٤

ستا لا خوبونه شته دي، ستا لا سر کې شور نشته
لکه زما دې زړه کې بل د مينې اور نشته

اغزي اغزي ماحول دی هېڅ يې پاکولو لره
د چا په لاس کې د غښتلي تدبير لور نشته

زمونږ وګړي لکه وي چې کربلا کې پيدا
د چا اوبه، د چا ډوډۍ او د چا کور نشته

سپين ښايي نه وي خو دا هېڅ کله هم و نه وايئ
چې انسانانو کې هېڅ زړه له رنګه تور نشته

چې قبولېږي او که نه، خو زه دعا کې وايم
ربه زما د خوار و زار ولس غمخور نشته

زه **شيرين زوی** مې ځان د خپل قام پوروړی بولم
زه **شيرين زوی** نه وايم دا چې پر ما پور نشته

۹ / ۱ / ۱۳۸۷ل

ketabton.com - The Digital Library



خیال کې چې جنت لرم او حور لرم
لپه کې د مور د دعا نور لرم
هم مې دی یتیم واسطه رب لره
هم ورته شهید په وینو سور لرم
وینې په پېزو او اوښکې لپو کې
د زخمي غازي او د رنځور لرم
ګوندې یوه نه، یوه قبوله وي
خلاصه په توبو خوله د مجبور لرم
یه خدایه دا څه حال دی هر څوک وایي
زړه کې سرې لمبې لکه تنور لرم
دا بد خوی مې نه زده، بد یې نه بولم
زه خو وایم شکر، چې تربور لرم
زده راته د یار د رضا ژبه ده
تل وایم ببښکه زه قصور لرم
حق به په دار ما **شیرین زوی** څوړند کړي
زه هم دا یو خوی لکه منصور لرم

۱۷ /۱ /۱۳۸۷ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه◊ ٦

قلم راپورته کړه د سپيني توري شرنگ پيدا کړه
چا سره ځواك د سولې چا سره د جنگ پيدا کړه

که سلامي دې ضمير نه مني ځواکمن دښمن ته
نو بيا په خپل علم دې اوسپني ته زنگ پيدا کړه

لکه اوبه په هر يو رنگ کې رنگېدل څه په کار
د خپل هويت غوره اظهار ته غوره رنگ پيدا کړه

که څه بلا دربانديې خپل قسمت نازله کړله
ورته اړم شه، ورگوزار يې کړه گړنگ پيدا کړه

ولسمشرۍ ته که احمد غوره کوې، نوگوره
دې انتخاب ته صابر شاه غوندې ملنگ پيدا کړه

د پرمختگ له پاره ورانه لاره و رغوه
پيڅې دې بهوهه، بيل واخله او کلنگ پيدا کړه

ستا اندېښنې دومره غم زيات کاندې زما **شيرين زوی**
چې ځان ته وايم لېونتوب غوره کړه بنگ پيدا کړه
٢١ / ١ / ١٣٨٧ل

ketabton.com - The Digital Library



يوازې اسوېلي نه وي، څه نور هم ورسره وي
له خولې، چې د يتيم وځي، نو اور هم ورسره وي

له درده که له سترګو اوښکې ځي، له خولې زګېروي ځي
که سيند څپه څپه درومي، نو شور هم ورسره وي

منم چې عقل ښه دی، خو په دې اړ، چې تر څنګ يې
هنر، طالع او لږ څه زر او زور هم ورسره وي

دښمن مې مړه صورت ته هم کاږه کتلی نه شي
چې وژني مې، نو زما سکنی ورور هم ورسره وي

درې توکي ذريعه د نېکمرغۍ او نېکبختۍ دي
ښه ښځه، ښه سورلۍ او چې ښه کور هم ورسره وي

ښه فکر او ښه خيال غزل ته ښه دی **شيرين زويه!**
خو ډېر ښه وي بيا دا، چې ښه انځور هم ورسره وي

۳ / ۲ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۸

عادي انسان يې کله دومره ظلم و زور ته نيسي
زړه خو مين لکه کباب د مينې اور ته نيسي

له ډېرزړو پرته بل نوم به څوك خنګه ورکړي
هغوی چې خلك د ګډانو په څېر لور ته نيسي

چې سرې تڼاکې لاس بل چا ته غځولی نه شي
لپې يې ډکې شه چې تل يې د خدای لور ته نيسي

دا چې ټول ژوند يې د دنيا په ماڼۍ ولګاوه
دا به تصميم کله د بلې دنيا کور ته نيسي؟

سر له حيا ښکته او ټيټ نيولی ښه وي تر دې
چې يې له کبره د خالق په مخلوق پورته نيسي

که د پرهر له څړيکو نه ورځې خوبونه ورته
هغوی دې غوږ زما د زړه د درياب شور ته نيسي

قلم وړيا غزلې نه ليکي په بيعه کې يې
**شيرين زوی** جام د زړه د وينو دې ميخور ته نيسي

۸ / ۲ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



لکه څراغ په هر یو توري وي اور بل، چې درومي
د زړه تنور نه مې محفل ته د غزل، چې درومي

په دې باور لرم الله به یې پوښتنه کوي
د چا له لاسه څوک په وینو سور بخمل، چې درومي

حیرت پر هغه، چې ماینپاک غوندې په مرګ پسې ځي
هغه پرې نه دی ورپسې خپله اجل، چې درومي

دا به یې زړونه وي اوبړده ژوند پورې کلک تړلي
دا د ښېګڼو پر خوا هم په پایپل، چې درومي

له ماضي حال ته او له حاله د راتلونکي پر لور
پښتون ملت دی بدمرغیو سره مل، چې درومي

زه بد نصیبه **شیرین زوی** د ګل کمي سره ځم
هغه نېکمرغه دی تر یاره مکمل، چې درومي

۱۵/ ۲/ ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام بناړ

ketabton.com - The Digital Library



زلفې د خوښۍ چې خپرې شوې په ځان غواړې ته
دا خو لکه پل چې کېښودل پر آسمان غواړې ته

بس ښه خوب یې وګڼه د هیلې په مړوند باندې
دلته که له چا پوره کول د ارمان غواړې ته

اوس زړونه کلک شوي دي اثر پرې اوښکې نه کوي
کانې د صحرا که نرمول په باران غواړې ته

لا خو رغږېدلی د نفرت په مېنه خر نه دی
څنګه به، نو مینه مینه واړه جهان غواړې ته؟

دومره ساده کېږه مه درمل له چا نه مه غواړه
غواړه **شیرین زویه!** که دردونه پرېمان غواړې ته

۱۷ / ۲ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



ناپوهان که لېوني دي، پوهان هم دي لېوني
عام ذهنيت نه په ذهنيت کې زيات و کم دي لېوني

خپله برخه لېونتوب دی هر انسان ته رسېدلی
ځينې کوم وخت شي نادان، ځينې هر دم دي لېوني

چا ته مست لېونی وايي مشهوره اصطلاح ده
څوک له درده لېوني دي څوک له غم دي لېوني

چې څيرلی ګرېوان ګرځي دا يې هم يو ډول بولۍ
تر ده پرته نور هم ډېر رقم رقم دي لېوني

چاکې وي د واک و ځواک، چا کې د مال، جمال جنون
ډېر د پيو مجنونان، ډېر د صنم دي ليوني

که معيار يې ټاکل کېږي د نظر په اکثريت
د بلها کړو په رايه بلها سم دي لېوني

لږ خو نه دي کرار کښېنه يو عالم دي لېوني
چا شمارلي **شيرين زويه!** په قلم دي لېوني

۲۱ / ۲/ ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۲

څوک وايي، چې ښکلو په وعدو باندې زاړه کړلو ؟
مـونږه خــو ښـاغلو پــه وعــدو بانــدې زاړه کړلــو

ژوبـل کـه پرديـو کـړو، پرهـر تـه پـه مـرهم پسـې
څـو بـې درده خپلـو پـه وعـدو بانـدې زاړه کړلـو

جنګ مو ځوانۍ وخوړلې سولې وايـه چېرتـه يـې
تــا خــو د راتللــو پــه وعــدو بانــدې زاړه کړلــو

چا مو په رڼـا پسـې د سـتورو، ړيـرې سـپينې کـړې
چــا د لمــر ختلــو پــه وعــدو بانــدې زاړه کړلــو

ډېــر يــې **شــيرين زويــه!** اورېــدلو لــره تــرې يــو
نــور دې د غزلــو پــه وعــدو بانــدې زاړه کړلــو

۲۳ / ۲ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



مه يې غواړه، نه يې مومې، مه يې ګوره دلته نشته
په قبرو له ډيوو پرته رڼا نوره دلته نشته

که بادام غوندې تول جسم وريسې شي سترګې سترګې
دا دنيا د غم دنيا ده خوښي وروره دلته نشته
تور وېښته به پسې سپين کړې بيا به هم په لاس درنه شي
غوړه چربه مړۍ څه چې، سوې سپوره دلته نشته
زموږ کوخې لرې زګېروي، ساندې، سلګۍ او ژړاګانې
که سيندونه غواړې غلي او بې شوره، دلته نشته
دا منم چې نغري او تنورونه مو ساړه دي
خو په زړونو کې هېڅ زړه خالي له اوره دلته نشته
دغه ځمکه ښوره کړې ده باران د تروو اوښکو
يو ګلاب، يوه غوټۍ پاتې سمسوره دلته نشته
خانه! ستا دې يو په دوه شي، خو دا مه وايه چې نور، نو
ملنګان پاتې بې کلي او بې کوره دلته نشته

پخوا وې په سرپټوب، خو د دې عصر **شيرين زويه**!
هېڅ شمله دنګه بې زره او بې زوره دلته نشته

۲۸ / ۲ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library



چې پردې شوې ورور بيا خپل ځان سره ورور نه کړې څوک
دا مې باور دی جوړ به خپل وران شوی کور نه کړي څوک

په زړو کيفيت له لاسه وتی فرصت نشي موندی
وينته چې سپين شي د پخوا شان به يې تور نه کړي څوک

دښمن مو ډېر په بې رحمۍ په داسې ډول وژني
چې مو سالم جسد په ذهن کې انځور نه کړي څوک

خام به يې هېڅوک د عمل په ژامې و نه ژوي
پلان چې ښه پوخ د خپل ژور فکر په اور نه کړي څوک

خپل ځان که څومره کړي سينګار په سرو او سپينو زرو
هېڅ ګټه نه لري، چې ښکلې پرې خپل ګور نه کړي څوک

غزل دې دروند په دروند پيغام کړ **شيرين زويه!** اشنا
لکه بنګړي به يې چمبې سره په شور نه کړي څوک

٣ / ٣ / ١٣٨٧ لغمان، مهترلام

ketabton.com - The Digital Library



خزانـــې نـــه مرغلـــرې وي راوتـــې
چې له زړه کـومې خبـرې وي راوتـې

فن پوهان وايـې رسـا زړه تـه کـوزېږي
چــې رسـا لـه زړه سـندرې وي راوتـې

د قلـــم ژبـــه د ســـتغو ســـپورو نـــه ده
لــه‌ګنــې بويــه شـــکرې وي راوتـــې

پـه هغـه د درد لښـکر کـړی یرغـل وي
چې ترې اوښکې مهـاجرې وي راوتـې

زړه چې څو صبر کې نغاړم ورته بيا هـم
د بنـو څـوکې لـه زغـرې وي راوتـې

شـــيرين زوی تـر خونـدرو مسـرو ډېـر
خوښ په دې يم چې مثمرې وي راوتې

۷ / ۳ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



نه په چین کې چا لیدلی، نه په روس او امریکه کې
اختلاف زموږ نصیب دی، په جنډه او په سکه کې

وحدت نه لرو، نو ځکه، خو د وخت په ژرنده دل یو
نه په وړي کې غنم یو نه د جوار داني توکه کې

انسانان یو، خو کیفیت د انسانیت مو بدل شوی
لکه خوند چې د شیدو او مستو نه وي په چکه کې

نه مو زړونو کې شته مینه، نه باور پر یو او بل
مونږ ته ښکاري جنتونه په فرېب او په دوکه کې

پخوانیــو کینـهګــرو، میرنــی ورور یــادوه، خــو
اوسني کینـهګـر بـولي د دښـمن نښــې ســکه کــې

له اختره به کم نه وي، هغه وخت ما **شیرین زوی** ته
چې بانه پر خاورو کېږدم د اشنا کلي مکه کې

۱۳ / ۳ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



د ستر فنکار د فن شاهکار سترګې دي
دومره زيبا د ښکلي يار سترګې دي
لکه جوړه بوراګان ناست په ګلو
په داسې شان يې په رخسار سترګې دي
نه يې مثال شته او نه سيال د ښايست
جوړې يې داسې په معيار سترګې دي
جوړه پړانګان دي د ښترو منځ کې
که ترېنه تاو باڼه قطار سترګې دي؟
د ښکار کېدو وخت کې چشمان د هوسۍ
دي ورته هيڅ ځکه د ښکار سترګې دي
احسان پرې نشته د کجل او رنجو
بې له سينګاره يې سينګار، سترګې دي
له همدو لارو درد او غم ور درومي
زړه ته سبب د هر ازار سترګې دي
زه يې چې وايستم له کسب و کاره
**شيرينه!** پوه شه چې د کار سترګې دي

۱۷ / ۳ / ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۸

چې پيغامونه مې له زړه غزل ته ورسپړي
لکه چې ستړي لاروي منزل ته ورسپړي

الله به بيا ورته مقام ورکړي، عزت به ورکړي
خاورو کې پروت ګلاب به بيا اوربل ته ورسپړي

سکون ترې لاړ شي اسوېلي غوندې بهر ووځي
ارمان چې کله د کوم زړه و تل ته ورسپړي

وېرېږي نه؟ چې په جونګړو بلوې اورونه
که ژبه ور شي او ستا خپل محل ته ورسپړي

د ماتې نوم يې د حريف په تندي وليکل شي
افغان چې توره واخلي او مرچل ته ورسپړي

د ښو او بدو قضاوت به خامخا پرې کوي
د **شيرين زوی** غزل چې يو او بل ته ورسپړي

ketabton.com - The Digital Library



بحران ته مې له درده نن ارزو په ژړا سر ده
که مور ده بوره شوې د بچو په ژړا سر ده؟

رسمونه د پرديو لکه غنې کوي ځالې
ټولنه مې په خپلو عنعنو په ژړا سر ده

غوټيو د حيا پاڼې کړې تويې شوې سرتورې
له دې غمه په قبر کې نازو په ژړا سر ده

زه نه وينم په دې کې څه د ژباړې ضرورت
پښتو خو پښتنو ته په پښتو په ژړا سر ده

درواغ وايي هېڅ غم د قام د درد ورسره نشته
د مړي سر ته ناسته په پيسو په ژړا سر ده

نن بيا په **شيرين زوی** کې د جنون اثر ښکارېږي
کڼو ته يې چې ژبه د ګيلو په ژړا سر ده

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۰

لکه کرام الکاتبین مې مله غمونه همېش
ما په اوږو دي ګرځولي دغه غرونه همېش

زما ورغوي له تناکو خالي شوي نه دي
زما په موټو کې موجود وي دا لالونه همېش

د وجود غوښې مې شکرو غوندې وړي راځنې
لکه مېږي ورځنې تاو بولۍ دردونه همېش

له څلور خواوو يې وهي په شنو کوتکو باندې
لکه ګونډې مې ټکوي احساس وختونه همېش

څه رنګ چې ښځو په سوباړو به کالي ټکول
ستونزو مې هسې ټکولي اندامونه همېش

لکه له ونې چې توتان خاورو کې وغنډېږي څوک
غربت زما خنډلي داسې اوميدونه همېش

حالاتو داسې نخرې کړې دي په ما **شيرين زوی**
لکه ماشوم چې کوي مور باندې نازونه همېش

ketabton.com - The Digital Library



ترهغې دې لټون وبوله نيمګړی
څو چې نه يې پسې سترې لکه مړی

پخلاتوب د مرور سکون که غواړې
قناعت دی تر هر څه غوره منځګړی

د يقين څراغ چې بل په زړه کې نه وي
د ګمان تيارو کې مار غوندې وي پړی

پوهېدل په هر يو راز باندې ډېر ګران دي
خو په فکر مکلف دی هر وګړی

په ګلونو سور کوي تنور بې نيازه
سوځوي انسان په اور لکه سرګړی

که دې هيله د نعمت وي **شيرين زويه!**
کړه د زړه پر ځمکه شين د مينې زړی

۳ / ۴/ ۱۳۸۷ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۲

ما تــه مــه اخلــئ ملگــرو نــور نامــه د پســرلي
دلتــه هــر خــزان راغلــی پــه جامــه د پســرلي

زه يې نه پېژنم ما ليـدلی نـه دی پـه ژونـدون
نــه پــوهېږم پــه راتــگ او علامــه د پســرلي

د شپونکي شپېلۍ کنه کړه د ټوپک تـوري شـپېلۍ
اوس د غـره لمـن کـې نشـته زمزمـه د پسـرلي

د دې بڼ د بلبلانو پستې شـونډې دي گنـډلې
ځکه نه راځــي تـر غـوږه تـرې نغمـه د پسـرلي

د باروتو برېوکۍ دي ليک زمـوږ پـه برخليـک
موږ خواران چېرته او چېرته ده ورمه د پسـرلي

نه مو پای د خزان وليد، نه مو وليده په سـترگو
گلورينـــــه، عنبرينـــــه، پيلامـــــه د پســـــرلي

گوندې جوړه ستا غزل کړي **شيرين زويه**! لر او بر
لــه بلهــا خونــدونو ډکــه هنگامــه د پســرلي

۱ / ۱ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library



نورو کې شته نورو کې وینم سل او زر نازونه
زموږ له پېغلو دي خښتنه مرور نازونه

نه یې د سترګو په ګوټونو کې اداوې وینم
نه یې پر سر د بارخو ناخې نخاګر نازونه

چې زړونه خوږ شي پرې بلها ډېر لاملونه لري
چې زړونه وړي، نه لري هغه زورور نازونه

د خړو خاورو خړ باران یې له خړ رنګه اوري
په کې ځلېږي نه رانه او منور نازونه

د ځوانیمرګو ورونېو ویر کوي ویرجنې خویندې
ورته وژلي کوم ظالم او کوم جابر نازونه

شوندېو یې وچ پترې نیولي دي ناز نه پېژني
نه یې لیدلي چا په کور نه په ګودر نازونه

مونږ **شیرین زویه**! بدشامته یو مونږ څه لیدلي
دي په نصیب د بختورو بختور نازونه

۶ / ۱ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



په امان د تېرو تورو له ګوزار نه يو اشنا
مونږ د خپلو زخمو شمار لره وزګار نه يو اشنا [١]

بدمرغيو دوزخ کړی دی زمونږ جنت وطن
په کې سوځوو، په کې سوځوو، خو کفار نه يو اشنا

پل په پل په اوښکو وينو، لمدې شوي په کې لوېږو
مطمئن د خپل ټاټوبي په هيڅ لار نه يو اشنا

لکه مزي د بريښنا مو زړونه ډک دي له لمبو
د کباب په شان که ايښي په انګار نه يو اشنا

د لستوڼو مو لاسونه، د اساوو مو پښې دي
بيا هم شکر چې ژوندي يو په مړو شمار نه يو اشنا

**شيرين زوی** وايم پردي مو سره نه پرېږدي نژدې
کنه مونږ خو يو له بل ځني بېزار نه يو اشنا

١٠ / ١ / ١٣٨٨ لغمان، مهترلام ښار

---

[١] اوس د اوښـکو مرحـله ده، اوس د غم د اظهار وخت دی
جنګ دی پای ته رسېدلی، د زخمونو د شمار وخت دی
پورتنی غزل مې د ښاغلي درويش دراني د پورتني بيت په تاثير ليکلی. کابې کې هېنداره، ٢١ مخ

ketabton.com - The Digital Library



سیند مو وچ کړی وچکالۍ ځکه ښېږي نه راځي
گودر ته پېغلې په مستي پرله پسې نه راځي

د غره لمن کې هم بهانده چینه وچه شوله
زرکې، سیخۍ اوس اوبو وړلو ته تر دې نه راځي

اوس د بوډۍ د ټال رنگونه مازدیگر نه لري
اوس په نظر په کې رنگینې لوپټې نه راځي

له خندا ډکې خولې به تللې په دې لاره خو اوس
د اختر درې ورځو ته ورته هغه درې نه راځي

چې یې راتلو سره راتله د زړه په سیمه باندې
اوس په دې خوا هغه سبب د زلزلې نه راځي

هم یې راتلو کې سوځېدل دي هم په نه راتلو کې
انتظار اور شي **شیرین زویه!** چې لمبې نه راځي

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۶

چې بنې د اننگو کې مو گلونه نشته نشته
زموږ خوارو پر برخه بهارونه نشته نشته

د ظلم سرو غرمو مو لکه مار پوټکي وکښل
چې سیوري پرې جوړېږي چنارونه نشته نشته

شملې شوې په قبرو چې لوپټې په بازارو شوې
ځوک وايي، چې په جنگک کې تاوانونه نشته نشته؟

هر څو مې که څادر د تلاش لنگک کړ وریسې
چې روغ وي له پرهره داسې زړونه نشته نشته

که نښه د مئینو وي، یارانو! شوگیرونه
زما **شیرین زوی** هم په خدای خوبونه نشته نشته

۱۷/ ۱ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



تفـاوت د ښــو او بــدو پــه کــې گــران دی
حال زمورږ د تکې تورې شپې پـه شـان دی
د کــافر ویــل یزیــد تــه جــایز نــه دي
ننــنــی مســلمان ځکــه مســلمان دی
هــر گلرویــه بلاخویــه شــو خښــتنه
هــر انســان د وینــو تــږی د انســان دی
خنګه کړي ښیښې خوندي لـه تـورو کـاڼو
**شیرین زوی** له دې امله هـک حیـران دی

۲۷ / ۱ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

د لیلا مخ نه خورې که وړانګې نه وای
روغ گرېوان به د مجنون ترانګې نه وای
د بلبل په خوله به سوې ساندې نه وې
که د سرو او سپینو گلو خانګې نه وای
په لیدو به یې هېڅ زړه نه لړزېدای که
برگې، برگې سترگې برگې پړانگې نه وای
**شیرین زوی** به نه لیکه د زړه په وینو
که یې شعر د ژوندون له پانگې نه وای

۲۹ / ۱ /۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۸

په دنیا کې یې د خلکو د خندا کړو
څه بلا اخته په څه بده بلا کړو؟

لکه تاک به څو د بل په اوږو بار یوو
راځئ خپل همت ته خپل وجود په شا کړو

غیرت دا دی، چې لپاره د تنهاکو
د سوال لاس راښول له مخې د دنیا کړو

که مو نور په بڼو پاس وړي غوره دا ده
چې اغزو باندې د تلو هنر پیدا کړو

**شیرین زویه!** درناوی دې په لېمو، چې
د خپلواک ژوند په رازونو دې اګاه کړو

۳ / ۲ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



د گودر په خیر ویاړلی کړي منګی مال و منصب
د روڼي له کوچني جوړ کړي لوی سړی مال و منصب

خپل، خو پرېږده چې کوي به درته تل ځار او قربان
په درنښت به درته اړ کاندي پردی مال و منصب

د اړمنو او غوړمالو په سبب نورو ته هم
د ګلاب د ګل په دول کړي اغزی مال و منصب

پېغلې نجونې د پخو، زړو سړیو بد نظر ته
لکه پاڼې د ماڼو کاندي لوګی مال و منصب

له څه شرمه به سرونه ورته نه وي په سجده
کنه ځان ته راټیټ کړی هر زړګی مال و منصب

تر ښو، ښکلو انسانانو **شیرين زويه!** نن سبا
کړي ښاغلی او منلی کوږ لرګی مال و منصب

۹ / ۲ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۳۰

خیال د محدودیت په زنځیر مه تړئ
خپل ازاد فطرت په زنځیر مه تړئ

ستون به یې د اوښکو په جرګو نه کړئ
ژوند مو د غفلت په زنځیر مه تړئ

مه کوئ د اور احتکار مه کوئ
زړونو کې نفرت په زنځیر مه تړئ

ځار مو شم! د یو لاس او د بل ګریوان
نور د شیطانت په زنځیر مه تړئ

دوه لکه ماران یاران، جلا ښه دي
دواړه د وحدت په زنځیر مه تړئ

ډېر څه کې تړل ښه وي، خو علم کې
حرص د قناعت په زنځیر مه تړئ

زه **شیرین زوی** ځان پېژنم خاوره یم
ما ته بل صفت په زنځیر مه تړئ

۱۳ / ۲ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



چې دې پرې ژوبلې نشي پښې، پل پرې د پاسه مه ږده
سرونه وبوله ښيښې، پل پرې د پاسه مه ږده

د ثانيه‌گر په شان له وخت سره په ځغاست روانه!
لاره کې شته ډېرې توښې، پل پرې د پاسه مه ږده

مظلوم، چينچنې غوندې مه نيسه منگولو باندې
خويونه مه کړه د باښې، پل پرې د پاسه مه ږده

که ته يې لمر، نو د بل سر وگڼه غر په نظر
د خپل زوال کړه انديښنې، پل پرې د پاسه مه ږده

لکه بلبل، زړه او گوگل، مه ږده پر گل د دنيا
دا بوټي نه لري ريښې، پل پرې د پاسه مه ږده

په ناز، ناز تل د **شيرين زوی** په ښو پلونه ږده، خو
په غرور نه دي ستا د ښې، پل پرې د پاسه مه ږده

۱۷ / ۱۲ / ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



دا ومنه! په دې سړی تسکین وي په اغزو کې
چې هلته هر يو تور او دلته سپين وي په اغزو کې
باور ولره ژوند منزل ته خامخا رسېږي
روان که هر څو دغه اباسين وي په اغزو کې
که هر څومره لښکرې شوې د ستونزو درنه تاوې
تسل ورکوه زړه ته، چې ګل شين وي په اغزو کې
ټول عمر، خو شبنم هم پروت راحت په بستر نه وي
سهار که وي پر ګل، نو ماسپښين وي په اغزو کې
له ګل سره د مينې په پار دا قرباني ګورئ!
بلبل په خپلو سرو وينو رنګين وي په اغزو کې
دا پوهه ده، په ډېر حکمت او ډېر هنر يې ژغورئ
که کله مو هم چېرته بند استين وي په اغزو کې
که چا ليدلي نه وي، د مچيو وي نښونه
که ژوند ته خواږه غواړئ نو ګبين وي په اغزو کې
غزل دې ګمان نه دی **شيرين زويه!** چې ور واوړې
چې پام ورته ژر نه اوړې يقين وي په اغزو کې

۲۵/ ۱۲/ ۱۳۸۸ لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library



چې تپ نه لري درد نري نه پېژني
چې درد نه لري څرېکه او زګېروی نه پېژني
وريت وريت، کباب کباب، سوی زړګی نه پېژني
لمبه چې په زړه نه لري زړه سوی نه پېژني
له بل که ځارېدل، قربانېدل ګڼي دروغ
پر نه دی شايي دی به سپېلني نه پېژني
د اوښکو مرغلرو ارزښت مه پوښتئ هر چا نه
زرګر چې نه وي کاڼی او غمی نه پېژني
تود باد د سرو غرمو يې چې په ژوند ليدلی نه وي
دا رنګه نازولي اسوېلي نه پېژني
له ډېرې بې اړتيا مستۍ د ځينو معلومېږي
چې ژوند باندې مغرور دي او مرګی نه پېژني
د خلکو نظر کم شو او که بل څه چل پرې شوی
کړو وړو کې ښه سم دم سړی نه پېژني
د شعر او شعار توپير يې نه زده **شيرين زويه!**
بلها زلميان اوس هم ګل او اغزی نه پېژني

۳۰/ ۳/ ۱۳۸۹ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ٣٤

لالهانده ژوندون، مات زړه او ستومان روح
برېبوکۍ شان مې پیدا دی سرګردان روح

یو ځل مړ انسان ژوندی، بیا ژوندی مړ کړي
په درېیم ځل یې کړي عمر جاویدان روح

د ژوندون متاع په ورځو او په شپو خوري
له خپل ځان سره عمل وړي د انسان روح

وجود خاوره به د خاورو د خوراک شي
ځي به روغ رمټ په لوري د آسمان روح

د هر راز کړنې طاقت الله ورکړی
د هېڅ ډول لوبې نه لري توان روح

د خدای امر وي چې راشي تر کالبوته
د خدای امر وي چې بېرته شي روان روح

**شیرین زوی** یې ماشوم ځوان، ځوان یې بابا کړم
خو چې خپله به وي ووړ، زوړ او که ځوان روح ؟!

۱۱/ ۴/ ۱۳۸۹ لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library



خپور مې کـه نظـر پـه هـره لاره لکـه جـال دی
بیـا بـه هـم و نـه نښـلي عقـاب د یـار وصـال دی

خدای دې چا ته هېڅکله نصیب داسې بېلتون نکړی
جوړ زمـا د روح او د کـالبوت تـر مـنځ دېـوال دی

لار تر یار د عقـل، نقـل، حـس، کـه جنـون ښـه ده ؟
ذهن کې جوړ کړی راتـه دې پرېکـړې جنجـال دی

تنـده مـې د تـږې زړه پـه څـه شـې کړمـه ماتـه
هـر څـه تـه چـې ګورمـه پیـدا ورتـه زوال دی

عقل، هوډ، همت او داسې نـور ډېـر مـاتوی شـي
زده د مقــــدر دغـــه هنـــر او دا کمـــال دی

وي بـه یـې سـتر در نـه نـاهیلي سـتره ګنـاه، خـو
هیله د دیدار یې هم پـه ویښـه خـوب او خیـال دی

بـــس د ارزوګـــانو شـــتمني ورســـره پـــاتې
نور **شیرین زوی** هر څه نـه پـه ښـه توګـه کنګـال دی

۲۹/ ۴/ ۱۳۸۹ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



لکـه راوښـتی وي پـه غـره، تـږی یـم
سـتا د دیـدار غـواړم اوبـه، تـږی یـم
ژوند خـو رواج دی د دنیـا کـړم بـه یـې
لـه ژونـده ډېـر د ژوندانـه تـږی یـم
راکـړه کـوثر پـه کـربلا کـې د ژونـد
لکـه حسـن او حسـین زه، تـږی یـم
اوبرنګـه ځـار دې شـم، قربـان دې شـمه
تـه بـه یـې ومنـې کـه نـه، تـږی یـم
د رېګسـتان پـه څېـر یـم جـل وهلـی
سـتا د کـرم د بارانـه، تـږی یـم
له وچـو شـونډو مـې لـه ورایـه ښـکاري
چـې څـومره تنده لـرم، څـه تـږی یـم
سـاقي لـه مخـه مـې پیـالې لـرې کـړه
شـراب پـه لپـو راکـړه تـه تـږی یـم
لـه زړه راوګـوره یـو ځـل پـه مینـه
د یـو خـواږه نظـر لـه زړه، تـږی یـم
زه **شیرین زوی** بـه نـو نـور څـه ووایـم
ته ښه پوهېږې، چـې زه ښـه، تـږی یـم

۴/ ۵/ ۱۳۸۹ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



د ژوند نغمه کې مې اهنگ نه وي
چې مې د زړه رباب کې ترنګ نه وي
غزل یې مه بوله، غزل نه دی
چې د زړګي په وینو رنګ نه وي
چې ترې کمزوري ازاد ژوند وکړي
وچ دې ښامار لوند دې نهنګ نه وي
شمعه به څه احساس لري پردېسي؟!
چې دا بلېږي او پتنګ نه وي
څه به نشه نشه پر لاره لاړ شي
چې ورسره د ځوانۍ بنګ نه وي
چې په کې ځای نه وي هر ښکلي ته بیل
د زړه جهان دې دومره تنګ نه وي
لږ فکر وکړئ پټ به څنګه ساتي؟!
چې پټ ساتلو ته یې لنګ نه وي
ژوند **شیرین زویه!** اسان نه دی دومره
چې سمه لار وي او ګړنګ نه وي

۱۵/ ۵/ ۱۳۸۹ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۳۸

پرې لوړېږي دې معيار د کمال، ښه دی
چې سالم رقابت وکوي سيال ښه دی

بد يې وبولئ لپاره د ښو بد دی
بد يې مه بولئ بدۍ ته زوال ښه دی

موټې خاوره چې پرې الوځي تر سترګو
مات بېشکه د مغرور پروبال ښه دی

دايره د انسانيت کړه تر ځان تاوه
له حيوانه چاپېر دغه دېوال ښه دی

که څه هم حورې بېخاله ښايسته دي
خو محراب کې يې د وروځو بلال ښه دی

په نېکۍ دې **شيرين زوی** ککړ پکړ وي
خو بدۍ نه دې حضور کې کنګال ښه دی

۳۱/ ۵/ ۱۳۸۹ د روژې مبارکې ۱۲مه لغمان

ketabton.com - The Digital Library



که په دې مرام څوک وکړي څومره مړي
سپين به تور او تور به نه کاندي سپين زړي

نه به وکړي اربړمي نه به ماړه شي
چې د نورو مال متاع پسې وړي پړي

بې رحمۍ کې سره ليوان دي لويه ربه
ترحم ته يې دي سست د بدن غړي

بې له مينې چې مشغول په بل روزګار وي
ښايي هسې کاندي خپل ځانونه ستړي

دا اسمان، نو ولې ولي په ډبرو
دا غرور، نو په څه کاندي دا وګړي

شيرين زوی خدايزده د چا ازار وهلی
شيرين زوی خدايزده چې څوک دي ازار کړي

۱/ ۶/ ۱۳۸۹ د روژې مبارکې ۱۳مه لغمان، مهترلام

ketabton.com - The Digital Library



زړه که يې نشته دی په شان د شپېلۍ
سوز خو يې شته لکه نالان د شپېلۍ

فرياد څه نوم د کمزورۍ خو نه دی
ځواک په نغمه کې دی عيان د شپېلۍ

زما د هېواد د شهيدانو سينې
داسې سورۍ وي لکه ځان د شپېلۍ

څومره ډېر زړونه له سينو وباسې
څومره بد غږ دی د اوان د شپېلۍ

غمونو کړی دی يرغل په زړونو
مهاجر شوی ترې ميلان د شپېلۍ

کړلو بې ذوقه د وسلو شپېليو
اوس نشته چا سره ارمان د شپېلۍ

اسرافيل ايښې ده پرې خوله چمتو دی
خو امر نشته له اسمان، د شپېلۍ

له درد يم ډک، لکه نغمه **شيرين زوی**
له خوښۍ تش يم لکه ميان د شپېلۍ

۱۳۸۹/۶/۱۷ لمريز لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



چې څوك يېلې پېښې، څوك لوخ او څوك نهر وي
څه خوښۍ، څه به مېلې، څه به اختر وي

څه به زړه د چا مستۍ نه په هوا شي؟
مارغه نه الوځي مات يې چې وزر وي

په ليدو يې کړي د زړه دېوال درزونه
د چا خيرې چې جامې د چا څادر وي

د قبرونو سر ته ناست يو ورته ژاړو
يادوو هغوی، چې خاورې يې بستر وي

د اختر مبارکۍ څنګك ورته ورکړو؟
چې پر مخ يې جوړ د اوښکو سمندر وي

چا سره ونمانځو مونږ نېکمرغي ورځې؟
چې څوك مړ، څوك مسافر څوك مرور وي

ketabton.com - The Digital Library



څه به سره کړي په نکریزو څوک لاسونه؟
چې هېواد یې د سرو وینو سور پرهر وي

ژوندون اوس دی دې وطن کې هر دم هسې
لکه څوک چې ناست په څنډه د کمر وي

تور ماښام زمونږ د کلي تور ښامار وي
سپین سهار د جلاد لاس کې سپین خنجر وي

په لیدلو یې چې غوني ځیږه کېږي
دلته پل په پل جوړ داسې یو منظر وي

دلته نشته دي چمبې او اتڼونه
دلته خپور همېش د ویر او غم تغر وي

د مرګ سیوري ته مو ژوند دی **شیرین زویه!**
د مرګ سیوری مو ولاړ همېش پر سر وي
۱۳۸۹/۶/۱۹ دکوچني اختر لومړۍ ورځ

ketabton.com - The Digital Library



په ژوندون څکه څوک باور او اعتماد نه لري
چې په هوا جوړ عمارت بېخ او بنیاد نه لري

په جنګ مئینو! راشئ، وګورئ زموږه زړونه
چې کوم یو درد نه لري، کوم یو یې فریاد نه لري

له ربه ووېرېږئ! پام وینه یې تویه نه کړئ
د دې ظلمې کونډه زړه مور بل اولاد نه لري

زما د قام بچې به څوک وروزي نه پوهېږم؟
د ساینس ښوونکی د دیني زده کړو استاد نه لري

کاږه وګړي ضمیر نه لري، چې نه سمېږي
ګنې دا نه ده، چې دا خلک هېڅ نقاد نه لري

شیرین، شیرین، لیلا، لیلا وطن زما **شیرین زوی**
پروردګاره مجنون نه لري فرهاد نه لري

۱۳۸۹/۶/۲۷ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلـونـه◊ ٤٤

ملګرتیا د هلک خویو لوی سړی په خوی هلک کړي
دی متل، چې: دړانده دروند او سپک وګړي سړی سپک کړي

محبت به دې «حمید» کړي تصوف به دې «رحمان» کړي
فردېسي به دې «شیدا» کړي، شجاعت به دې «خټک» کړي

ډېر سرونه ډېره پوهه او ډېر علم کړي ګنجي*
ډېر سرونه وسوسې او اندېښنې بېهوده پک کړي

هغه وخت به د الله د هر نعمت په ارزښت پوه شې
چې غاښونه درنه واخلي هر طعام درته پالک کړي

شیرین زوی په خوی ملنګ و، ملنګ دی، ملنګ به وي
نه له کبره کوږ په لار ځي، نه پېښې د خان، ملک کړي

---

* - «ګنجي» د فوجي او برنجي په وزن او اهنګ، د ګنجی ډېرګړی یا د بې وېښتو او پک په معنا نه دی، بلکې د پښتو ژبې د پانګه وال او د دهخدا د قاموس په حواله د ګنجدار یا خزانه دار په معنا دی.

ketabton.com - The Digital Library



هر څه خپل وار لري په وار تېرېږي
خوند د ځوانۍ ځي او بهار تېرېږي
باور نو څه په کار په ورځو او شپو
چې هم ماښام او هم سهار تېرېږي
ځوانه! شېبې ګڼه څپې د اوبو
نه کوي چا ته انتظار تېرېږي
ژوندي دنيا کې له پيدا تر فنا
بس لاروي دي او پر لار تېرېږي
په **شيرين زوی** کړاو، کړاو زندګي
لکه په خوله کې د ښامار تېرېږي

۱۳۸۹/۹/۴ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

چې دا يې زه تصوير چپه په ډپ اوبو کې وينم
که د ښو پرځای په سر تلل پښتنو کې وينم
چې ارادې د ګناهونو يې توبو کې وينم
پرتې سکروټې د رڼو اوبو چينو کې وينم
شدت د قهر د دوزخ د اور لمبو کې وينم
چې کانې زړونه **شيرين زويه!** په سينو کې وينم

ketabton.com - The Digital Library



د زهروګوټ ورباندې وکړي جبر نور څنګه وي؟
په محبانو د محبوبو کبر نور څنګه وي؟
لکه د توت دړه دې زړه درته په منځ وچوي
پرځای د ژبې ځینې خوله کې تبر نور څنګه وي
د زړه ښیښه چې دې ټوټه ټوټه، ذره ذره کړي
په ګلرویانو کې خصلت د ګبر نور څنګه وي

زه بــې نیــازه نــه یــم نــاز یــې پــر بانــه وړم
چـــې د نــاز وړتیــا لــري نــاز د هغــه وړم
د "خلیل" په خېر د یار او دوســت پــه خوښــه
قربــانۍ لــره دا خپــل اســماعیل زړه وړم
لــرم، زړه کــې ډېــر ســپېڅلي ارمانونــه
هــــدیره د شــــهیدانو یـــار تــــه زه وړم
**شــیرین زوی** یــې پــه رضــا بانــدې رضــا یــم
که موسکا پر لب، کـه اشـک پـرګریوانـه وړم
۱۳۸۹/۸/۱۹ لمریز- لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library



لوند پر اوښکو مخ ښکارېږي ښکلی ګل
وي پر سپينو پرخو پسوللی ګل
زړه د يار په ياد شي هسې رنګ تازه
لکه د باران پر څاڅکو وللی ګل
خومره بې قدري ده پورته نه کړو چا
خاورو کې اوربل ځنې لوېدلی ګل
دی په بم ټوټه، ټوټه زلمی او که
پاڼې، پاڼې پروت دی رژېدلی ګل
لمونځ کې په رکوع ده پښتنه پېغله
او که خدای ته سر ځوړند نيولی ګل
حال د ننني افغان دا وګڼئ
لکه د خزان سيلۍ وهلی ګل
بيا برېبوکۍ لاړه په لاله پسې
بيا ازاروي په زړه داغلی ګل
ژوند دی **شيرين زويه!** نن سبا هسې
لکه په لمبو کې ټوکېدلی ګل

۱۳۸۹/۱۱/۱۳ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



خدای چې کړې پېرزو په بنده، بنده، بنده، دل شي
بس لکه غنم چاودلی زړه په ژرنده، دل شي

ډېر له بېخوندۍ، خولې ځنې وخت ځمکې ته تو کړي
ډېر يې بيا په ژامه کې له ډېره خونده، دل شي

خوښه د هر چا چې په هر ډول دل کېدل غواړي
پاک ذره، ذره ښه دی که ډک له گنده، دل شي؟

ښه دی، چې د دار په پړي ومري د منصور په څېر
نه چې د ډېرو په ويشتو په کنده، دل شي

پام په تجربو د نورو ستر برياليتوب دی
زده کړه چې څوک نه کوي د بل له ژونده، دل شي

غوره دی زما په فکر، فن د پند له پاره
فن چې **شيرين زويه**! وي خالي له پنده، دل شي

۱۳۸۹/۱۱/۱۵ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



چې دې كمې اندېښنې شي له پوښتنې
كړه رايادې د اشنا وعدې او ژمنې

په سبب كه وي، نو ور يې د ښښنې
په عمل ګڼه هر څوك ناست لاس تر زنې

تاته مور غوښتي اووه واړه جنتونه
تاته غوښتې ښه مقام خپلې مېرمنې

تا خوړلي ژوند كې ډېر د ستم كاڼي
ته ثاني يې د ثمر لرونكې ونې

مغفرت لره دې جوړه بهانه كړه
كركه وكړه له هر ډول بدې كړنې

چې رحيم شي په ازمېښت يې صابر اوسه
چې واسع شي د احسان يې كړه منني

سزاوار چې د تخريب په ګناه نه شي
وران هېڅكله چا ته نه كړې خال د زنې

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۵۰

تل له زړه لېږه جرګې د دعاګانو
تل کوه په عاجزۍ خپلې غوښتنې

د شهید د شفاعت طمعدار مه شه
په مقام یې ومره لاندې تر پرستنې

مشغول اوسه تل د خپل نفس په مینځلو
مصروف اوسه د همدې سوچ په پالنې

ښه خو دا چې سړی پاک زړه یار ته ورشي
ډېر ښه دا چې داغ یې نه وي په لمنې

که د خپل بربنډ صورت پرده دې غواړې
راضي مه شه د عیبونو په پاشنې

په رښتنې انسان دا سزا ده ډېره
یو وښته یې چې څوک وکښي د څرمنې

لږ د خپل زړګي په څمکه **شیرین زویه!**
هنر زده کړه د ښو هیلو د کرنې

۱۳۹۰/۱/۱۷ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



څه دې شمارې پرهرونه د زړګي
په هر زړه داغونه شته، داغونه وي

د هر چا په باغ و بڼ خزان راغلی
له هر چا ځنې يې وړي کشمالي

اوس هر زړه ګڼه ګودر، غمونه پېغلې
ډکوي يې له سرو وينو شنه منګي

سړی جوړه کړي بلا له بې دردۍ
بې دردي جوړه بلا کړي له سړي

په رښتيا وينا دې مه شه خاطر ژوبل
په ګوزار د ګل دې مات مه شه بنګړي

غمځپلیه! **شیرین زوی** دې غم شريک دی
خير که نه دې دی شريک د نغري

۱۳۹۰/۱/۲۳ لمريز- لغمان، مهترلام بنار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۵۲

دلگیر مه شه که حالات کړي در له غاړې هار د اور
په همت روغ سر راکښی شي له هر راز ایسار د اور

که آهونه دې لوګي شي، تن لمبه، ځمکه انګار
باوري اوسه په دې چې ځي تېرېږي وار د اور

یو ته نه یې نن سبا د هر انسان د تن هر رګ
لکه مزی د برېښنا دی، په کې شته مدار د اور

د چنار په شان دننه، ګوګل سوی د هر چا
که ځراغ شان د چا نه دی، پر سر ایښی بار د اور

بېهوده، عبث سوچونه دې ټول وباسه له ذهنه
نور نو بس دی، پرېږده، پرېږده، دغه احتکار د اور

که له حاله تر ماضي ځوک په خپل ژوند وکړي نظر
ښايي خپل ځان ورښکاره شي را روان په لار د اور

د خپل ځان په سوځولو، رڼول دي د تیارو
**شیرین زویه!** لکه شمع، کړه پر سر دستار د اور

۱۳۹۰/۱/۲۷ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



هر تار ځنې نازك وبولۍ تار د يارانې
هر پل په الله خير اخلۍ پر لار د يارانې
ږدي شمع په خاطر يې په خپل سر دستار د اور
پتنګ په لمبه ځان سېځي په پار د يارانې
له خاورو سره خاورې شي په لړ غوندې خُشکۍ
د شګو کوټنۍ شان وي اعمار د يارانې
په لړې بې غورۍ، بې پروايۍ وځي له ښې
وي بار ته د بنګړيو ورته بار د يارانې
ماشوم غوندې کړي پاڼه، پاڼه ګل د يار د زړه
چې پوه نه وي په ښه توګه په کار د يارانې
خپل زړه سيخ کې ټومبل دي لکه غوښه د کباب
خپل زړه کبابول دي په انګار د يارانې
درمل غواړي، مرهم غواړي، ټکور غواړي د زړه
له خپل طبيبه ياره خپل بيمار د يارانې
خپل ځان خپه کول، خوشحالولو ته د بل
همدغه دی تر هر څه ښه سينګار د يارانې
ماتېږي نه، د ټول ژوندون د مينې په نشه
په دې شرط چې رښتينی وي خمار د يارانې
ستا قدر او قيمت لري په زړه کې **شيرين زوی**
لاسونه ورته کړه په غاړه هار د يارانې ٢/٤/١٣٩٠ ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ٥٤

چې انسان نشي د جنګ لاسونه پښې
نه کوکنار لري نه بنګ لاسونه پښې*
له شرابو توبه دوه ځل، هم حرام دي
هم يې بولم د پرنګ لاسونه پښې
دلته ډېر په جګړې خوښ دي، دي د ډېرو
سره د وينو په اترنګ لاسونه پښې
ورونړو، وروڼو پسې تورې دي راکښلي
پرې کوي لکه بادرنګ لاسونه پښې
بازيګرو شان د ځينو خلکو ښوري
د پردي رباب په ترنګ لاسونه پښې
ماشومان د ډز له وېرې ګونځ ويدېږي
غځوي نه په پالنګ لاسونه پښې
يه سخت زړو! که له اوسپنو جوړ هم يئ
درنه خوري د خاورو زنګ، لاسونه پښې
پام کوئ پرې، عالمان دي د دين ستنې
شاعران دي د فرهنګ لاسونه پښې
په سينو پورې يې نيسئ **شيرين زوی** هم
نه لري لکه لونګ، لاسونه او پښې

---

* د۱۳۹۰ل کال، د چنګاښ ۵ مه، له نشه يي توکو سره د مبارزې نړيواله ورځ

ketabton.com - The Digital Library



د زړه له سترګو چې مې وخشېږي وینې، اوښکې
شي له اغېزه یې موضوع د غزل سپینې اوښکې

رانجه دي یو ځای ورسره له سترګو وخښېدل
په ګرېوانه دې راغلې تورې لونګینې اوښکې

تر دې نور غوره پانګه نشته، چې په تورو شپو کې
درته په سر د بڼو بلې دي مسکینې! اوښکې

که درد او غم یې بهوي هم خپل ارزښت لري، خو
وي مرغلرې چې له سترګو ځي له مینې اوښکې

تر مست سېلاب یې **شیرین زوی** اثر غښتلی ګڼم
د مور پر مخ چې څوک روانې کړي مهینې اوښکې

۳/۵/۱۳۹۰ل لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



ثانیه‌گر شان چې له وخت سره روان وي
خامخا به یوه ورځ ستړی، ستومان وي
بختور چې وي شبنم پر ګل ودان وي
چې بدبخت شي له اغزي هم اوېزان وي
وخت که لاړ شي د دجال تر خوا ولاړ شي
نو به څه کوي هغه چې مسلمان وي؟
وي بې برخې، چې تقدیر کې وي بې برخې
که په حرص کې لکه ژرنده سرګردان وي
د وړ سترګي او موړ سترګي قسمت دا دی
چې یوه باندې ژوند سخت، پر بل اسان وي
د همت مخالف نه یم غر ګلبڼ کړئ
خو پر ځان خولې لګولو کې تاوان وي
پښه نیول غواړې یارانو ته په دې، چې
نه هر وخت وي پسرلی او نه ګلان وي
**شیرین زویه!** باور وکړه که ژوند ګران وي
چې یقین جوړ، په غفور، رحیم، رحمان وي
۷ / ۵ / ۱۳۹۰ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



ښایي ښتن مو وي لیکلی په الماس مقدر
ځکه مو وي د یو نه یو ځواکمن په لاس مقدر

ناارامي، ناراحتۍ ته چې یې فکر وکړم
په اغزو ایښی دی زما د قام اساس مقدر

په موربږيې وپېژند سور رنګ له وینو، تور له تیارو
خدایزده څه رنګ به مو اغوستی وي لباس مقدر

نه مو زمان په خوښه دروميي، نه مکان بدلیږي
کله مو ښکته ځغلوي او کله پاس مقدر

یو نظر دا دی، چې"جوړېږي" او بل دا چې"جوړ وي"
ما ته خپل درک کړو درپیم ډول هم شناس مقدر

وي د ځواکمن د ارادو په زولنو تړلی
زه **شیرین زوی** چې کله، کله کړم احساس مقدر

۲۱ / ۵ / ۱۳۹۰ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



یا مو د ژوند چارې له ازله ځنې ورانې دي
یا پر موږ تر هر څه ډېرې خپلې خولې ګرانې دي
هڅې په سرو سپينو سينګار شوې شهزادګيانې دي
طمعې خړې پړې خوارې زارې يتيمانې دي

ځئ! چې د ورغويو د تناکو ارزښت وګورو
اوښکې خو مو بيه نه کړې وينې مو ارزانې دي

سترګې مو مړې دي او مړې دې وي، خو خښتې مو
د همدو شتمنو وړې ترې ګاونډيانې دي

خپلو سپورو شونډو ته مو ولې فکر نه اوړي؟
وګورئ! هېنداري ورته هم پاتې حيرانې دي

مونږه لکه شمعې په تيارو کې وسوو، ويلې شوو
نورو ته خيرې پر مونږ د بل اور رڼاګانې دي

غم د قام، وطن دی بل دليل **شيرين زوی** نه ويني
دا چې يې غزلې دي بې شرنګه او پرېشانې دي
۱۳۹۰ لمريز، د وږي ۶ مه، د روژې مبارکې ۲۸ مه، لغمان

ketabton.com - The Digital Library



که شي خاورو کې درون، لکه غنم
خیر دی بیا به شي زرغون، لکه غنم

ځان د نورو د جنت د تلو سبب کړه
نه چې کړي آدم بېرون، لکه غنم

نن یې پوخ، سبا به وچه سواره شي
ځکه وې سمسور پرون، لکه غنم

نه ځان بوس کړې، نه تنور کړي په ځان تود
نه کړې غوره زړه چاودون، لکه غنم

**شيرين زویه!** لکه دلته، هلته مه شه
په کندو کې بند ژوندون، لکه غنم

۱۳۹۰ ل کال، د وږي ۹ مه، د کوچني اختر لومړۍ ورځ.

ketabton.com - The Digital Library



هر انسان چې په کې خوښ، ښاد او خرم وي
طبیعت دې په نغمو په ترنم وي

ژوند دې وي د ژوندانه دښمن دې نه وي
نیش دې مات د هر یو مار او هر لړم وي

په جنت کې چې ادم پرې ازمایښت شو
غنمرنګې ښایي هغسې غنم وي

په روزۍ پسې څوک اړ مه شه ګناه ته
ډک دې تل د هرې خېټې جهنم وي

د جسمي وزن ډېروالی به دې لټ کړي
د ورې د چټکتیا مانع خپل لم وي

**شیرین زویه!** لږ د بل هم منل ښه دي
داسې نه، چې سړی هر وخت خود منم وي

١٣٩٠ ل کال، د ورې ١٠ مه، د کوچنې اختر دوهمه ورځ

ketabton.com - The Digital Library



کــه غــواړې ننــداره د خشــونت د اثــر وکــړې
پــه کونــډو، یتیمــانو، معلولینــو نظــر وکــړې
احساس چې اغېزه د تاوتریخوالي په جنـین کـړې
لږ فکر شړی لانـدې پـه تـودوخې د لمـر وکـړې
کیفیت به مو د خاورې او اوبو تشـدد وران کـړي
ګل زړي به مـو شـنه شـي زهربـوتي بـاور وکـړې

اورورک[*] غوندې دوه رازه په نظر ښکاري شاعر
چا ته څرک د روښنايۍ چا ته شرر ښکاري شاعر
سپینه خوله کې لري ژبه د لاسي څراغ په څېر
د وړانګنو ویناګانو ژبهور ښکاري شاعر
هر انسان ته د هغه خپله څېره ورښکاروي
په همدې صفت هینداري شان بشر ښکاري شاعر
نور وګړي یې که هر څه، هر څه بولي **شیرین زویه!**
ما ته ډېر ښه د حالاتو انځورګر ښکاري شاعر
۱۳۹۰ل، د زمري ۱۷مه، د روژې مبارکې ۸ مه، لغمان

[*] اورورکی د خپې د زیاتوالي د مخنیوي له امله اورورک راغلی

ketabton.com - The Digital Library



ته ګل شه بې اغزيو په ګلبڼ او که په چول يې
يو ځای کې به نرګس او په بل ځای کې به غاټول يې
لپار د ثواب که لکه زېره شې په سل لارو
له ويرې د عذاب به لکه جمع خاطر ټول يې
که ګل شان قدمو کې د بلبل شې پاڼه پاڼه
د ګل شان به محب ته د محبوب يو ښه سمبول شم
دا ستا مربوط چې خپل ځان سر په ګډو وډو بولې
زمونږه له نظره **شيرين زويه!** غزلبول يې

۵ / ۱ / ۱۳۹۱ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

کافي نه ده که وېش کې د رڼا لکه څراغ يې
د زړونو خپلولو ته بايد لکه کچکول شې
نظر کې د مخلوق خير دی، که غر يې که ښکه
حضور کې د خالق بويه چې درونډ په تله تول شې
که غواړې چې خوشبو غوندې ذهنونه معطر کړې
نو ښايي **شيرين زويه!** چې د ګلو له کهول شې

ketabton.com - The Digital Library



چــې درد نــه پېژنــي نــه دی نــه د غوښــو
کـــاڼی وبولمـــــه ځنګـــــه زه د غوښــــو

د زړه سوی مې په لیدو د اوښکو ډېر شــي
لا تـــازه کانـــدې انګـــار اوبـــه د غوښـــو
ته انســان اشــرف مخلــوق بولــه دا پرېــږده
چې جوړښت يې دی له خاورو که له غوښو
پـه کــې مـه سـاتئ د تـورې پـه شـان ژبـه
اوســـپنيزه تبکـــه نـــه ده خولـــه د غوښـــو
چې انسان سوځوي هــر راز کــوم وګــړي
سرې لمبې پورې کوي پـه غــره د غوښــو
انســـانانو تـــه کـــه وګـــورئ پـــه مينـــه
دي ګلاب ګلونــه ســپين او ســره، د غوښــو

**شیرین زوی** ته بــې دردي ســبب د درد دی
**شیرین زوی** ته خدای ورکړی زړه، د غوښو
۷ / ۱ / ۱۳۹۱ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ٦٤

په دنیا کې چې هر څه دي له فکرونو زېږېدلي
هغه ټول دي د انسان له ارمانونو زېږېدلي

خیر دی ښکلې که نظر مې ستا نظر سره په جنگ شو
ښه پوهېږې چې یو وخت کې د جنگونو زېږېدلي

هر یو نه وي له جفا او له ستمه پیدا شوی
ډېر داغونه وي په زړونو له نازونو زېږېدلي

بې کوښښه او بې زیاره څوک مړی تر خولې وړی نشي
راحتونه واړه دي له زحمتونو زېږېدلي

((په کتوی کې چې هر څه وي هغه لوښي ته راوځي))
ښه د ښو او بد د بدو له نیتونو زېږېدلي

دا چې واړه څړیکې څړیکې او درد، درد دي **شیرین زویه!**
دا شعرونه مې د زړه له پرهرونو زېږېدلي

۲ / ۴ / ۱۳۹۱ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



همېش غواړم په دعا دوا خبرې
شه پټې د ټپي زړونو زما خبرې

نه راګرځي له لیندۍ وتلي غشي
نه راګرځي بیرته خولې ته بیا خبرې

چې په عقل شي کره په فن سینګار شي
شي معقولې او مقبولې ها خبرې

که ټول تن لکه بادام پسې غوږ غوږ شي
حس به نه کړي له چا بې مدعا خبرې

له ګبین شانته خوږو درواغو ښې دي
د ترخو زهرو په شان رښتیا خبرې

ketabton.com - The Digital Library



د هر چا ژوند یو داستان، یوه کیسه ده
د هر چا په زړه کې شته بلها خبرې

که ټول جسم لکه ږمنځ کړې ژبه، ژبه
دي پر زلفو د یار کمې ستا خبرې

اوربدل یې له هر چا ښه دي ښېشکه
د منلو دي د بعضې چا خبرې

وي به ډېرې ویناګانې رڼاګانې
ځینې، ځینې وي برېښنا، برېښنا خبرې

((دلته دم او قدم دواړه په حساب دي*))
هم حساب دي ورسره پر تا خبرې

په غزل کې نه ځایېږي **شیرین زویه!**
ستا په زړه کې دي دنیا، دنیا خبرې

۱۱ / ۴ / ۱۳۹۱ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

---

* - پورتنی نیم بیتی د حضرت عبدالرحمن بابا (رح) دی

ketabton.com - The Digital Library



بنده تر در پورې يې تلو ته واسطه په کار ده
تر خپله ياره رسېدو ته واسطه په کار ده

چې د ښوونکي څو پوښتنو ته دې رنګ ژېړېږي
معنی شوه دا چې پرښتو ته واسطه په کار ده

په منصبونو د تنديو ماتېدل نه وينې؟
د ښه مقام لاس ته راوړو ته واسطه په کار ده

منصور په څه سبب تر داره پورې ورسېده؟
په تورو زلفو زنګېدو ته واسطه په کار ده

چې د ډېوې په اړتيا فکر وشي دا حاصل شي
چې رڼولو د تيارو ته واسطه په کار ده

د **شيرين زوی** د زړه وينا غواړي د زړه غوږونه
د دې خبرو اورېدو ته واسطه په کار ده

۱۵ / ۴ / ۱۳۹۱ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



خدایه په کرم یې راکړه، کړه یې په کرم سړی
لکه "خوشال خان ختک" د توري او قلم سړی

شته دي د دې ځمکې پرمخ ډېر کاره واره سړي
ربه له آسمانه راعطا کړه یو ښه سم سړی

خدایه! دې ټپي ټپي هېواد، پرهر پرهر قام ته
غواړو درنه مونږ لکه درمل لکه مرهم سړی

خدای مه کړه چې چا لره ښیښې د زړونو ماتې کړي
خدای مه کړه چې راشي دې نړۍ ته لکه بم سړی

خدایه ډېر کمي لرو خو یو کمـی مـو دا دی چـې
نلـروګلشـن تـه پـه زړه سـپین لکـه شـبنم سـړی

ربه ته زما **شیرین زوی** خلکو کې سړي ډېر کړې
ربه ته زما **شیرین زوی** قام کې نه کړې کم سړی

ketabton.com - The Digital Library



ستا له ښايست او ستا له نور هسې نه اور واخلم
د وصال وخت کې لکه طور هسې نه اور واخلم

اوس هم نيم سوی او نيم روغ د اورلړوني شان يم
ستا د رخسار له وړانګو چور هسې نه اور واخلم

ربه د مرستې لاس راوغزه، و مې ژغوره
ولاړ يم منځ کې د تنور هسې نه اور واخلم

له پردي هيڅ انديښنه نه لرم، خفه په دې يم
چې مې له لاسه د تربور هسې نه اور واخلم

حورې! چې ما سره مخ کېږې سرې سکروټې شونډې
سالو کې ونغاړې ضرور هسې نه اور واخلم

دلته خو شوم انګار انګار، لمبه لمبه **شيرين زوی**
چې هلته هم په څه قصور هسې نه اور واخلم

۱۷ / ۴ / ۱۳۹۱ لمريز لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



لکه منصور ځوړند په دار شي سړی
چې حق ویونکی اوس اظهار شي سړی

صحرا هم اوس د لېونیو نه ده
هلته هم ښايي چې هوښيار شي سړی

هلته يې دغه، دلته هغه بولي
نه شي د کلي، نه د ښار شي سړی

وتښتي ځمکه د سړي له پښو
چې پوه د ځينو په کردار شي سړی

ښايي خالي له کړلېچونو نه وي
روان که خو په سمه لار شي سړی

دا خومره جبر دی، دا خومره مينه؟
چې سر ښندنې ته تيار شي سړی

څوک يې اغزی له پښو نه نه وباسي
که له ډېر درده په کوکار شي سړی

**شيرين زوی** دغه شان بې کاره ښه يم
له کاره وځي، چې د کار شي سړی

۲۰/ ۴ / ۱۳۹۱ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



ربه کړې په حق راته ګویا ژبه
پرې که شي سل ځله راکړې بیا ژبه

خومره عجیبه ده، ورته پام مو دی؟
وایي هم کلا ده، هم بلا ژبه

سم د مچۍ نیش دی هم ګبین لري
هم خپروي زهر او سنکهیا ژبه

چا که ضمانت د ژبې وکړلو
کړې د جنت رسول الله ژبه

دا چې له پښتو سره مې مینه ده
دا مې ده د مور او د دادا ژبه

خدای‌دې شیرین زوی ورځنې وساتي
ملا ځنې تاوېږي چې د چا ژبه

۲۱/ ۴ / ۱۳۹۱ ل- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۷۲

دلته هم کرکه راغله بس ده نور دا هم پرېږدمه
د محبت د دعوهګرو دنیا هم پرېږدمه

حالات ښه ندي نور پټ پټ د دېوال سیوري ته ځم
نور نو لمنه د سپوږمۍ د رڼا هم پرېږدمه

څوک شته چې ووايي ما تول شرونه پرېښودل او
له همدې اوسه دل ازاره وینا هم پرېږدمه

د حال په ژبه راته وویل داغلي لاله
له بڼ بې برخې که چاره وي صحرا هم پرېږدمه

زړه د انسان له خنګه تېښتې ته اړ کړی یم، خو
که د انسان خوی په کې و، نو بلا هم پرېږدمه

باور مې نشي چې شي موم د ډبرزړو زړونه
چې مې په زړه کې ورته شته تمنا هم پرېږدمه

ما **شیرین زوی** له دغه ښاره په زور مه وباسئ
دغه ځنګل خو زه په خپله رضا هم پرېږدمه

۲۳/ ۴ / ۱۳۹۱ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



ناست یمه ټوله شپه شوګیر کومه
د ویده قام د خوب تعبیر کومه

غواړم تیاره رنګونه وباسم ترې
سوچ د حالاتو په تصویر کومه
لکه څراغ د زړه په وینو بل یم
په شپو به خامخا تاثیر کومه
لکه قلم ځان سره غلی، غلی
په بدو، بدو پېښو ویر کومه
د بلبلانو دي ترلې ژبې
ځکه خو ذکر د زنځیر کومه
دومره د زړه هم منل نه دي په کار
چې یم فقیر خوی د امیر کومه

خدایزده هوښیار یم که نادان شیرین زوی
تقدیري چارو ته تدبیر کومه
۲۵/ ۴/ ۱۳۹۱ لمریز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



زړه چې زما لکه لاله ورپسې داغ لري
ما به ورپرېږدي او که نه، هغه چې باغ لري؟

نه هغه بڼ کې د کوم گل تر خنگ اغزي ليدای شي
نه هغه بڼ کې کومه ځانگه تر خوا زاغ لري

عجبه لار ده پرې هيڅ پل نشته چې پل پرې کېږدم
عجب سفر دی نه کوم څرک او نه سُراغ لري

اورم تر ياره تللې لاره له تيارو ډکه ده
اورم چې هغه څوک ورتلی شي چې څراغ لري

که اور ته تلل نه مني گور ته خو بايد ومني
که يو ږدن هومره هم څوک مغز او دماغ لري

د شعر فن ورسره نشته **شيرين زويه!** کنه
هر څوک ډېر څه زړه کې له پاره د ابلاغ لري

۲۱/ ۵ / ۱۳۹۱ ل، د روژې مبارکې ۲۳مه- لغمان، مهترلام بناړ

ketabton.com - The Digital Library



ستا د یارۍ مې تمنا وه او تر پایه به وي
زړه کې مې همدا هیله زما وه او تر پایه به وي

منم چې ما بې له جفا هېڅ وفا کړې نه ده
خو اراده مې د وفا وه او تر پایه به وي

ښایي صورت او رنګ مې وخت وي بدل کړی، مګر
موخه د ژوند مې ستا رضا وه او تر پایه به وي

زړه کې مې ته، خوله کې مې ته، په فکر و خیال کې مې ته
ستا په نامه مې هره ساه وه او تر پایه به وي

زه **شیرین زوی** چې ښکه وم اوس هم هماغسې یم
له تا سره مې ملګرتیا وه او تر پایه به وي

۲۲/ ۵ / ۱۳۹۱ ل، د روژې مبارکې ۲۴ مه- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



چې چاودلې يې له درده د پېستې شان زهره نه وي
ښايي هېڅ يې لټولې د ټپونو پاهه نه وي

ځوانه! هر وخت سر د وخت دی د نېکۍ د پيل لپاره
که په طمع شې نو ښايي چې فُرصت دوباره نه وي

د نرگس په څېر ببخاره زندگي له ربه غواړه
د گلاب شان دې ولاړ درته اغزي په پيره نه وي

خدای نه غواړه چې بې ډېبه سم د ډېب مسلمانان شي
خدای نه غواړه چې نور چا ته د چا لاس کې دُره نه وي

څو يادونه، څو داغونه په کې ښه وي **شيرين زويه!**
لاله زار د گلو ښه دی، زړه دې تشه ميره نه وي

۲۳/ ۵ / ۱۳۹۱ ل، د روژې مبارکې ۲۵مه، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



که لږ خپل پلاو ډوډۍ باندې بدل کړو
په یو بل ساړه نغري کې به اور بل کړو

که مو خپله پرمختګ نه زده، نو بنايي
چې تعقيب د پرمختللو د پښو پل کړو

د ژوند موخه ټاکل غواړي که نه تل به
ورک منزل پسې په ژوبلو پښو مزل کړو

مونږ له خپلې نادانۍ ځان ته پخپله
ډېر ځل غوټه د ژوندون د چارو ول کړو

چې تياره په تــوره وشړو بيا راشي
راځئ! ختمه يې د علم په مشعل کړو

د فرهاد په خبر به غره کې لاره وکړو
**شيرين زويه!** که همت ځان سره مل کړو

۲۷/ ۵/ ۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



په اظهار مې تسکین نه شي، په پنهان پسې روان یم
پښه له خپل صورته اړوم، په خپل ځان پسې روان یم

د هوښیارو په پل نه ځم، پل په پل د لیونو ږدم
ما له ګټې لاس ایستلی، په تاوان پسې روان یم
په لاسونو کې یې پاتې، خو ما کانی په زړه ایښی
نه یې غچ اخلم او نه مې په ګرېوان پسې روان یم
ښامار نه یم روغ لال څه کړم، ترېنه ځمه، ترې تیرېږم
د خپل ځان په خبر په زړه سوري مرجان پسې روان یم
نور مې صبر تمام شوی، نور نو سپینې سپینې وایم
نور نو سپینه خوله ترې غواړم په جانان پسې روان یم
چې هم تللی هم روان دی، خو هېڅ پل یې په لار نشته
فکر وکړه! چې په داسې، یو کاروان پسې روان یم

دا چې زه یې **شیرین زویه!** کړم په دېرو منډو ستړی
دا دوران دی ما پسې که زه دوران پسې روان یم
۱۳۹۱/ ۵/ ۳۱ لمریز د کوچني اختر درېیمه

ketabton.com - The Digital Library



هېڅوک نـه کـړي دا خبـره سـپينه ولـې؟
چې دا ورونه څښـي د ورونـو وينـه ولـې؟

دې خبـرې تـه د ډېـرو هـيڅ پـام نشـته
چې يو روږدي لـوی واړه پـه مړينـه ولـې؟

لاملونــو تــه يــې لــږ فکــر پــه کــار دی
چــې مــو نــه ده زنــدګي حســينه ولــې؟

سوله هم د جنګ په څېر کېږي، خو مـونږه
پوه په کرکـې، نـه يـو پـوه پـه مينـه ولـې؟

غواړو هر څه وي زموږ، محروم ترې نور وي
نـه پـوهېږم! دومـره شـوو خودبينـه ولـې؟

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۸۰

په انصاف، عدل په شـان د ړنـدو پښـې ږدو
دومـره لـرې شــولو مــونږ لـه دينـه ولــې؟

هغه څوک چې د سعود په خوا يون غواړي
هغه خپل ځان ته کړي آس بې زينـه ولــې؟

هغه څــوک چــې بـاغرور او باوجـدان وي
د خـــاين نامـــه کـــړي دى زرينـــه ولـــې؟

ښه پوهيږو چې همدا شړی يې مـرگ دی
بيـا يــې تـروړو لـه غريـب، مسـکينه ولـې؟

خپلــه خــره جامــه زمــوږ پيژنــدگلوي ده
د پـردو پـه رنـگ مـو کـړه رنگينـه ولـې؟

بــاران نــه کــوي اغيــز پــه تــورو کــاڼو
لــه زړه وينــې څڅــوي **شــيرينه**! ولــې؟

۲۲ /۶ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



هو! ګرانه زه او هم زما تنهايي
غواړمه تا، غواړي مې تا تنهايي

ستا د يادونو ډيوې بلې غواړي
زړه کې زما په هره ساه تنهايي
ته شه پخلا، چې مروره شي دا
ته چې خفه يې، وي پخلا تنهايي
د لمر رڼا که وړي تياره له منځه
ختموي ستا د مخ رڼا تنهايي
هېڅ نه پوهېږم دا يې زه نيولی
که ما نيولې ده تر خوا تنهايي
دا به لحد وي زما پام به نه وي
که نه دا لوی جهان او دا تنهايي
**شيرين زوی** اورم درکې غږ مې د زړه
دا يو احسان دې دی پر ما تنهايي

اوس له ګناه پرې ژغورل کېږي سړی
اوس دې ځوک نه بولي ګناه تنهايي
۱۳۹۱/ ۶/ ۲۴ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۸۲

دا چې مونږه سپېلني، ماحول مجمر دی
دا کمی راکې د علم او هنر دی
په ببخیره ارادو مو خدای خبر دی
ځکه مونږ نه بخت خفه او مرور دی
اسماني کاڼی چې هر لور نه راغلی
راپرېوتی برابر زمونږ په سر دی
پښې مو بې له تیرې نه لګي په لوټه
هر یو ځای مونږ ته د تورو کاڼو غر دی
ازاریان د مور او پلار له مونږه ښه دي
دلیل دا، چې له هغوی مو حال بدتر دی
د لونګو خوشبو نشته په ګودر کې
د بارودو د بد ورېم پرې اثر دی
نه راغلی ګلورین پسرلی دلته
نه راغلی له خوښیو ډک اختر دی
ربه کوږ بار د کرېږ ورځې مو سم کړې
تنها ته یې چې په دې کار دې زور بر دی
د کرم پاهه دې زه **شیرین زوی** غواړم
زما قام تپې، تپې، پرهر، پرهر دی

۲۶ /۶ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



دلتــــه دغــــه تصــــور، دغــــه نظــــر دی
وايي ډک له کرکـې هـر زړه او ځيګـر دی

دلتــــه څــــه ســــايه د بــــد نظــــر پرېــــوتې
دلتــــه هــــر ســــړی لــــه ځانــــه مــــرور دی
دلتــه تــل تنــدي مــات شــوي د هېنــدارو
دلتــــه هــــر ســــړی د تــــورو کــــاڼو غــــر دی
دلته هر څوک غواړي هر پل يې پر سر وي
دلته هر څوک د چنګېز د خـوی پسـر دی
دلتــــه هــــر ســــړی غبــــار پــــه ســــړي نښــــلي
دلتــــه هــــر ســــړی بــــې زوره زورور دی
دلتــــه هــــر ســــړی تمثيــــل کــــوي د مېنــــې
دلتــــه هــــر ســــړی لــــه مينــــې نــــاخبر دی

دلتــــه ډېــــري انديښــــنې لــــري دا خلــــک
شــــيرين زويــــه! دا پيغــــام مــــې مختصــــر دی
۲۷ /۶ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۸٤

خدایه! ستا له دره دغه کرم غواړم
له الم ځنې ژغورل د عالم غواړم

بس چې ګل وي، که د بڼ وي که للمې
په خاطر د هر یو ترې شبنم غواړم

خوشحالي پخلا کوم زنه یې نیسم
مخ تور شوی په هر زړه کې د غم غواړم

چې له کریکو یې لږ سر په بالښت کېږدم
د تپي ملت لپاره مرهم غواړم

چې لاسونه یې له سپینې غاړې تاو کړم
د سپوږمۍ پر خوا مې پورته قدم غواړم

که امکان وي تر آسمانه پسې هم ځم
یو څو ستوري پر خلاف د تورتم غواړم

ته مې ملا کلکه را وتړه ښتنه
زه پر ځمکه خاتمه د ستم غواړم

تور ټوپک د جوړوونکي په سر موړ شه
شیرین زوی خپلو بچو ته قلم غواړم

۳ / ۷ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



چې یوه لوښتې له نورو ځنې بر وي
تر پښو لاندې به یې ګورئ د چا سر وي

لکه توره پندانه سپینه پمبه کې
ځنې سپینو کې هم تور زړه د کافر وي
نه چې سر دې وي ګریوان ځنې ایستلی
نه چې پښې دې له بړستن ځنې بهر وي
پښې مو کلکې لګوئ ښه ځان ډاډه کړئ
کله لاره سمه ښکاري، خو کمر وي
منم خدای انسان ته ښکر ورکړي نه دي
خو بیا هم یو، یو بې ښکرو ښکرور وي
لږ دې وکوي نظر په خپلو کړنو
مور چې چا لره میره او پلار پلندر وي
له امکانه دا خبره لرې نه ده
چې د ځینو خلکو دین او ایمان زر وي

**شیرین زویه!** له خطا پرې سړی ژغوري
فکر ښه دی باید دې ته دې نظر وي
۵ / ۷ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



# مقفا غزل

چې وږمې په خوی کې ونغاړي لونګ شي
چې نشې په خوی کې ونغاړي نو بنګ شي
چې يې زړه ايجاب د مينې شي ملنګ شي
چې يې زړه ایجاب د کرکې شي نو سنګ شي
چې د نورو په سرونو باندې دنګ شي
نو د نورو په لاسونو باندې ړنګ شي
په ايمان زړه په رڼو رنګونو رنګ شي
په ګمان باندې هم اوسپنه هم زنګ شي
د خليل لاره چې غوره کړي پتنګ شي
د نمرود پر پله چې پل کېږدي نهنګ شي
چې نظر د چا د لاس په چرک او منګ شي
نو له خپلو او پردو سره په جنګ شي
په منصب له زړه تړلو دې په څنګ شي
باور کله د پردې حمام په لنګ شي
د بخت باز چې لاړ له سره د اورنګ شي
ورته جوړ له ووړ لښتې څنې ګړنګ شي
شيرين زوی ته دې خدای مه کړي چې زړه تنګ شي
شيرين زوی ته دې د زړه رباب په ترنګ شي

۶ / ۷ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



لا ملامت نه ومه، پړ نه وم، تا پرېښودمه
لا مې سلګۍ وهلې مړ نه وم، تا پرېښودمه

لا په ډاګ شوی نه وم تاو ول دېوالونه رانه
لا خو وتلی له انګړ نه وم، تا پرېښودمه
لا مې په وړاندې د حالاتو زغم بايللی نه و
لا بې چاره شان په خپړ نه وم، تا پرېښودمه
تر ناکامۍ مې هم تم نه شوې بې صبرې دې وکړه
لا خو رنګ بدی نه وم، خړ نه وم، تا پرېښودمه
پام دې زما بد حالت ته و، خو زما همت ته نه و
لا خو بلا له مرۍ نغړ نه وم، تا پرېښودمه
قيامت نه و، آسمان و پر ځای، لوېدلی نه و
زه هم په شان د لوخ لغړ نه وم، تا پرېښودمه
چې د توبې په اوبو پاک نه شي د خدای حضور کې
په خير د هسې يو ککړ نه وم، تا پرېښودمه

د ازمېښت لړ غبار پرېوتی و په ما **شيرين زوی**
لټ پټ د ستونزو په چقړ نه وم، تا پرېښودمه
۲۶ / ۷ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



دا چې الوزې تر سترګو په هوا لکه غبار
ګوره! خاورې به دې ځای شي بېرته بيا لکه غبار

په څه شان چې د دوران برېبوکۍ پورته کړې له خاورو
همدا راز به دې کړي بېرته راخطا لکه غبار

ټول وګړي به دې وباسي له زړونو، نيت دې سم کړه
ټول به وځنډې هېندارو ځنې تا لکه غبار

د توبې سيند کې يې وينځه، کنه سپين زړه پرې تورېږي
شک يې مه بوله بې شکه، ده ګناه لکه غبار

په ليدو دې ولې خوک کړي مخ پر بله، سترګې پټې
ولې چا ته وربښکاره شي، څوک اشنا لکه غبار

**شيرين زويه!** هر انسان ترې، ټک وهي خپلې جامې
**شيرين زويه!** څوک چې نښلي په هر چا لکه غبار

۲۹ / ۷ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



چې درد يې نه ورځي     په درد يې نه ورځي
په درد يې نه ورځي     چې درد يې نه ورځي

چېرته چې زړه ورځي     هغلته پښې درومي
هغلته پښې درومي     چېرته چې زړه ورځي
زړه په بانه ورځي     بانه تر زړه ورځي
بانه تر زړه ورځي     زړه په بانه ورځي
گل ته اوبه ورځي     حسن ته خوا اوړي
حسن ته خوا اوړي     گل ته اوبه ورځي
په پښتانه ورځي     چې ماتبدل غواړي
چې ماتبدل غواړي     په پښتانه ورځي
هوښيار به څه ورځي     چې په لاس نه ورځي
چې په لاس نه ورځي     هوښيار به څه ورځي
ښه پسې ښه ورځي     بد ځي په بد پسې
بد ځي په بد پسې     ښو پسې ښه ورځي

ان تر کاڼه ورځي     دشيرين زوی آهونه
د شيرين زوی آهونه     ان تر کاڼه ورځي

۳ / ۸ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۹۰

ښــايي دا خبــره هـــم وړ د اظهـــار وي
چــې تــور کــاڼی ښــه تــر زړه د دل ازار وي

ازارداده! ازار شـــــوي نـــــه وېرېـــــږه
لــه ټپــي مــار ځنــې ځــان ســاتل پکــار وي
کــه دوه پښــو ځنــې هوښــيار مارغــه نښــلي
نو ښکاري ځنې ښکار شوی ډېر هوښيار وي
په خپل ځان به يې منئ، چې يې پر بل کړئ
وايــي کلــه وار د مــور کلــه د پــلار وي
که دې زړه نه وي لړ وروسته شه پرې کېږي
ويــل کېــږي د يــارۍ نازکــه تــار وي
چې ازمېښت وي د فرعون په موسی باندې
ســره لالونــه تــر ځنــګ ايښــي د انګــار وي
ورتــه څــه وايــي زمــا لــه فکــره ووت؟
هــو! رايــاد شــو بــد د بــدو طرفــدار وي

**شيرين زويه!** چــې پــرې ذهــن معطــر شــي
غزل بويــه د رنــګ، رنــګ ګلونــو هــار وي

۷ / ۸ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



چې اوبو شان په بې‌رنګه رنګ سینګار دي
دې حالاتو لره څه ویل په کار دي؟

دا ذهنونه ورانوي که جوړوي یې؟
نظریات د وخت بادام او که کوکنار دي؟

دا چې خپلو اوښکو ډوب کړل او وینښ نه شول
دا وګړي نو نور څه ته انتظار دي؟

یم حیران چې هر څوک وايي ژوندون خوږ دی
بیا نو ولې ځینې ځینې ترې بېزار دي؟

دا ستي ستي سینې، داغلي زړونه
شهیدان دي که د لاله د لاله زار دي؟

**شیرین زویه!** دا به غوښې د کباب وي
او که ایښي صورتونه په انګار دي

۸ / ۸ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلـونـه◊ ۹۲

چـــې کومـــه تماشـــا د ښایســـتونو
سـر کـې تـه یـې د دنیـا د ښایسـتونو
د شپېلۍ په څېـر شـم تشـه سـینه پـاتې
چې مې زړه لاړ شي پر خوا د ښایستونو
مینـان یـې دي دیـدار تـه دم ختلـي
رنځــوران غــواړي دوا د ښایســتونو
تـر هغـه تـورې بـلا خــوږلې ښـه وي
چــې خــوږلې وي بــلا د ښایســتونو
کله کله چې دي خپل زړګي ته ځیر شم
ســم محفــل وي د رڼــا، د ښایســتونو
پــه کتلــو ورتــه ســترګې نــه مړېــږي
لــري دومــره اشــتها د ښایســتونو
ګلابونــه تصــویرونه د ښــکلا دي
دي خپــې د ســیند، نڅـا د ښایسـتونو
زه درواغ ګــنم ســوغات د بــدرنګیو
زه ډالــۍ بــولم رښــتیا د ښایســتونو
**شیرین زوی** به مړه خـوا نشـي ټـول عمـر
پــه صــفت او پــه ثنــا د ښایســتونو

۱۶ / ۸ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



څــه غمونــه مــې د يــار څــه د ديــار دي
رانــه تــاو لكــه ســرتيري د حصــار دي

لاس د مرســــتې دې راوغځــــوه ربـــه!
پــه اوږو مــې غرونــه ايښــي، غرونــه بــار دي

ژونــد ككــرې شــان د ډيــرو اوږو بــار دی
ډيــر ككــرو شــان د ژونــد د اوږو بــار دي

اوس دا نشته چې چا اور واخيست، څوک سوځي
اوس تنــور كــې ولاړ لــوی، واړه كتــار دي

د منصــــور ميــــراث راپــــاتې دی پــــوهيږم
د منصــور پــه خبــر مــو ډيــر خلــك پــه دار دي

هســې شــان ول راتــاو شــوي لــه سنگســاره
تــا بــه وپلــې كــه راتــول مــرگ تــه د مــار دي

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۹٤

لکــه ســرې د نــاوې پښــې پــه ســرو نکریــزو
کانې، بــوټې زمــوږ پــه ســرو وینــو ســینګار دي

لـــه وژنـــې پرتــه بــل کمـــال مـــو نـــه زده
تــه بــه وایـــې جــلادان مـــو مــور و پــلار دي

لیونیــــانو شـــان ښیښــــې پــــه کـــاڼو ولـــو
لیونیـــانو شـــان مـــو کړنـــې دل ازار دي

د ســـینو بـــاغچو کـــې زړونـــه ګلابونـــه
اوس داغـــې، داغـــې لالــه د لالـــه زار دي

د وطـــن د نـــاوې غـــاړه مـــې زړه ســـېزي
ســرې سکروټې یــې نــن بیــا غمــې د هــار دي

بـــې رعیتــه پاچــاهي غـــواړې کــه څنګــه؟
چې څه خوښ په مرګ د کلي، څـه د ښـار دي

**شیرین زوی** ته مو تنــدی پــرې ګــونځې مـه شـه
حق که تریخ دی، بیا یې هـم ویـل پـه کـار دي

۱۷ / ۸ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



چې خليل ته پرې بل غرونه، غرونـه اور شـي
پـه هغـې ځمکـه بايـدګـلان سمسـور شـي

چې يې وېره لـه خـدای نـه وي، نـه وېرېـږي
که يې خـومره هـديرې مـخ تـه انځـور شـي
خودبيني شـوه دومـره ډېـره پـه انسـان کـې
چې هر چا ته خپل يو ځان ښکاره ځلـور شـي
"پـــه ســـبب د ظالمـــانو حاکمـــانو"
له مېشـځايه جـوړ سـړي تـه اور اوګـور شـي
عـادي کـاڼي بـه دې سـره لالونـه نـه شـي
که هر څو دې په سرو وينو رنـګ د ورور شـي
د تـــورزړو اشـــنايي تـــوره بـــلا ده
له تور لوښي سره خـوا کـې سړی تـور شـي
لـــه پلـــوه د بـــاور، وعـــده خـــلاف
داسـې وي لکـه سـند چـې قلـم خـور شـي

د رحـيم رحـم دې وشــي **شــيرين زويــه!**
خدای دې نه کړي چې پتمن ملت سرتور شي
۲۴ / ۸ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

◊غزلــونــه◊ ۹٦

په دوه زړي چې هم کله حالات نور شي
نو نظر يې هغه دم د خدای په لور شي

هغه ورځ به دې د ذهن شور ارام شي
هغه ورځ چې دې جوړ سر ته شورماشور شي
چې د دار په پړي بند شي منصوري شي
بده دا ده چې مرۍ بنده په پور شي
د احسان او ښه برخورد په مرسته کېږي
هغه کار چې نه په زر او نه په زور شي
اشنايي يې چې له علم سره نه وي
انتخاب کې د ښو بدو کروکور شي
که سليم عقل لري، نو هغه وخت، خو
بويه وپېژني حق د مور، چې مور شي
د خپل ژوند استاد مې دا راته ويلي
چې ښه دوست د سړي وياړ او بد پېغور شي

**شيرين زوی** چې په عالم کې فتنې ويني
د کور و، ښايي نور هم پسې د کور شي
۲۵ / ۸ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



باور وکړه نازنينې ستر دښمن دی
شک په زړونو کې د مينې ستر دښمن دی

هغه داغ چې پورې کيږي په لمنې
هغه تور د هرې سپينې ستر دښمن دی

چې دې څوک بهوي اوښکې ستر بدخوا دی
چې دې څوک بهوي وينې ستر دښمن دی

لکه مار چې دې وي مرګ پسې راغلی
که يې ګورې، که يې وينې ستر دښمن دی

**شيرين زويه!** د ارمان که د ايمان وي
بس چې وي سبب د مړينې ستر دښمن دی

۲۷ / ۸ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۹۸

ووتــې پــه حــــورو پســې ووتــې
ســـترګې د مهجـــورو پســې ووتــې

غم به د روزۍ او کــه د مهــر خــوري ؟
ډلــې د مـــزدورو پســې ووتــې
ژوبلو، ژوبلو زړونــو تــه مـرهم ګــوري
هیلــې د رنځـــورو پســې ووتــې
شــو پــه اباسـین لاهــو هغــه انسان
اوښــکې کــه د بــورو پســې ووتــې
سوځي که لمبه، لمبــه ښــېرې چېرتــه
خولــو نــه د معــذورو پســې ووتــې
بیا د تور ټوپک له شپېلۍ سرې مرمــۍ
لاړې بــې قصـــورو پســې ووتــې

ښایي **شـــیرین زویــه**! دښــمن وتښــتي
خــوکې خــو د تــورو پســې ووتــې

۲۹ / ۸ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



زنـدگي داسـي کيسـه ده — چې تر پايه تلوسه ده زندگي
چې تـر پايـه تلوسـه ده — داسـي کيسـه ده

هغـه تـوکی وسوسـه ده — چې ماغزه د هر انسان خوري
چې ماغزه د هر انسان خوري — هغـه تـوکی وسوسـه ده

هـر يـوه خـوږه خبـره — رسـول وايـي صـدقه ده
رسـول وايـي صـدقه ده — هـر يـوه خـوږه خبـره

د ګـدا د سـوال کاسـه ده — نظـر وړی سـترګې وړې
نظـر وړی سـترګې وړې — د ګـدا د سـوال کاسـه ده

هر څه کله صـرف پيسـه ده — نور هم ډېر څه د پام وړ دي
نور هم ډېر څه د پام وړ دي — هر څه کله صرف پيسـه ده

شـيرين زويـه! دسيسـه ده — خپل عمل هر چا تـه خپلـه
خپل عمل هر چا تـه خپلـه — شيرين زويـه! دسيسـه ده

۲ / ۹ / ۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



څه ستونزمن کار ته دنیا ته ښکلا راغله
له سینو د زړونو غلا ته ښکلا راغله

له مجنونه هغه ورځ لیلا زړه یوړو
صحرانۍ شان چې صحرا ته ښکلا راغله

د ګلاب د ښکلي مخ له برکته
د وږمې په نوم هوا ته ښکلا راغله

کم دیداره ده، نو ځکه ښایسته ده
په همدې وجهه بربښنا ته ښکلا راغله

کم ویل او ښه ویل چې هر چا زده کړل
د هغه انسان وینا ته ښکلا راغله

نور نو ځوک دی بس خو ښکلی هغه ځوک دی
چې له هر پلوه چا ته ښکلا راغله

**شیرین زویه!** اوس د ځینو په نزد ولې
د ثواب پر ځای ګناه ته ښکلا راغله؟

۵ / ۹ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



کاندي په وږمو د خپل نظر اظهار ګلونه
دومره په حکمت کړي په ذهنونو کار ګلونه

وږ د ستر اعزاز هغه وګړي شي چې خولې نه يې
اورې ښه پرځای ښه ښايسته ګفتار ګلونه
زړونه سخته سخته وينا سخت ټوټه، ټوټه کړي
بې شکه رژېږي د ډانګي په وار ګلونه
ښکلي شي په سپينو وېناګانو نور هم ښکلي
سپينو، سپينو پرخو باندې وي سينګار ګلونه
خوند چې د محفل د چا صحبت باندې جوړېږي
ښيندي خلک هغه ته د راتلو په لار ګلونه
هر ځای هرکلي کوي وږمې بلبل کلامي ته
هره خوا يې کاندي استقبال کتار ګلونه
خدای دې خزان خويه ځوک پيدا په دنيا نه کړي
خدای دې په چا نه کړي په هېڅ راز ازار ګلونه

جوړ يې له پستو لفظو بيتونه د غزل دي
او که دي پيېلي **شيرين زوی** په تار ګلونه؟

۹ / ۹ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۰۲

بې له ښکلي ګله دوا نه لري
زخم دې بلبله دوا نه لري

هر څو که مې هر چا ته زړه وښوده
هر يو ويل ځغله دوا نه لري

دا په ښکلاګانو باندې زړه بايلل
دغه رنځ نو څله دوا نه لري؟!

بې له ستر حکمته د يو ستر حکيم
هېڅ يو ناروغ بله دوا نه لري

اوس په توبه کېږي د عمل علاج
پرېوت که پر تله دوا نه لري

نورو ته طبيب دی **شيرين زوی**، مګر
خپل رنځ ته پخپله دوا نه لري

۱۱ / ۹ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



ناداناںو کې چې سر لړ د کار سر شي
ببل تنې ځنې د خپل ورور په خنجر شي

چې پرې خومره د ستم کړی شي تنګه
بنايي هومره سرکشۍ ته اړ بشر شي
په لمدې ختې چې لاس موټی او زور کړئ
نو د ګوتو له مينځو ځنې بهر شي
هغه خوک چې وي د چا ازار وهلی
سمې لارې نه هغه ته جوړ کمر شي
دا يو داغ خو دې خدای پاک کړي له دې ګلو
ځانځانۍ ځنې دې خلاص افغان ټبر شي
هغه وخت کار له هغه ځنې ورانېږي
چې په ستو پښو د چا زړه بازيګر شي

**شيرين زويه!** چې يې زړه له درده ډک شي
د بلبل او د رباب شان نغمه ګر شي
۱۲ / ۹ /۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



لکه خسږي او سرګړي په کې لولپه شول
ماحول تنور شو او وګړي په کې لولپه شول

په مخ د ځمکې کرکې دومره ډېر اورونه بل کړل
چې نور د مینې تخم و زړي په کې لولپه شول

وطن مجمر شو د افغان، د سپېلنيو پر ځای
د انسانانو د تن غړي په کې لولپه شول

په هره لوېشت، په هر يو پل، يو جهنم جوړ شوی
ژوندي خو څه کړئ، چې آن مړي په کې لولپه شول

ډېر ظالمان د کلالانو شان داشونه لري
ډېر مظلومان لکه کودړي په کې لولپه شول

ډېر شول منصور غوندې پرې ځوړند، خو د تن ګرمۍ يې
نه دار لمبه کړ، نه يې پړي په کې لولپه شول

جنګ د فيلانو دی پوهېږم **شيرين زويه**! اشنا
خو د مېږيو شان منځګړي په کې لولپه شول
۱۳ / ۹ / ۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



گلـــي! خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي
خپلـــې، خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي

عمـــر کـــه وي پـــاتې تېرېـــدو تـــه يـــې
تللـــې، خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي

خيال مې چې پرې ښکلی دی له هرې خوا
ښـــکلې، خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي

څـه وشــول کــه مــل نــه يــم ســپرو ســره
پلـــې، خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي

غلې چې پرې کـړم د پرهـر خوږيکـې مـې
غلـــې، خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي

بل ځای ته بل څـه زه **شـيرين زوی** غـواړم
دلـــې، خـــاطرې مـــې راتـــه بـــس دي

١٥ / ٩ /١٣٩١ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه ◊ ١٠٦

ښايستونه عجب    قدرتونه د رب
قدرتونه د رب    ښايستونه عجب

بنده بې بنده‌ګۍ    که غلبيل کړي نړۍ
سکون نه لري بل    کوم مقام او منصب

د بنده او د رب    د رضا دی سبب
په همدې دی طلب    ضروري د ادب

لوی جهان دی د خدای    قناعت دی په کار
خير دی مه تنګوئ    مېشتځايونه د کب

صابر اوسئ د ژوند    په سړو او تودو
شاکر اوسئ چې ږدئ    نعمتونه پر لب

کور د مينې دی زړه    همدا نوم يې دی ښه
ورته مه لټوئ    بل صفت او لقب

**شيرين زوی** که يو راز    درته کړم در ښکاره
د زړه خړيکې مې دي    د شعرونو سبب

١٧ / ٩ /١٣٩١ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



له امله د ډېر فکر ډېرې لتې
شي وړې وړې خبرې غتې غتې

زړه بايلل، د زړه ګټلو ښه هنر دی
له تاوان سره ترلی نوم د ګټې

دا زيارکښ د شيرينۍ تر فرهاد ښه دی
ماتوي چې په تناکو ګوتو ګټې

ځان ترې ساتۍ ګورۍ اور به ځنې واخلۍ
وي د آه تودوخه ډېره تر سکروټې

د انسان اوښکې سرې په سېلاب يوسي
د آسمان اوښکې کړي جوړې مازې ختې

يا دي زما **شـــيرين زوی** بـار پـه زړه غمونـه
يا کوچې دي په سور اوښ بار کړې ختـې

۷ / ۱۰ / ۱۳۹۱ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه◊ ۱۰۸

پیل چې کړي هر څوک د بل په زیان کیسه
پای یې شي په خپل خیرې ګرېوان کیسه
اوس څوک د پرهر تصویر ته نه ګوري
مه کوه د ژوبل زړه او ځان کیسه
جوړ کړه جنتونه دوزخیانو ته
خوښه وي د تړو د باران کیسه
مورې! ستا زیارکښ زوی ستړی شوی یم
سر دې په زنګون ږدم کړه بیان کیسه
ښایي امانت وي درته پام مو وي
چا که درته وکړه د مکان کیسه
مه وایه چې ته څوک یې او زه څوک یم
څه نا څه د یو بل وي یو شان کیسه
ټوله یې لیکلې په تخته د زړه
کړې **شیرین زوی** ته چې زمان کیسه

۱۱/ ۱۰/ ۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



ما درته ویل چې سترې کېږې یاره مه دروړه
زړه سره پر هره کړلېچنه لاره مه دروړه

دوه بېلې غوښتنې دي د یو صورت د دوه قوو
میل وایي ورځه، هوښ وایي نه، تر داره مه دروړه

یار زما په زړه کې اوسي، ومنه رښتیا وایم
ته ورپسې هسې په بل لور ریباره مه دروړه

تم شه ورته لاس ورکړه، راپورته یې له خاورو کړه
مرسته کې ثواب دی له دې نېکه کاره مه دروړه

لا د **شیرین زوی** د زړه د بڼ ګلان موسکي نه دي
خیر دی لږ وار وکړه دومره ژر بهاره مه دورمه

۲۱ /۱۰ /۱۳۹۱ لمریز

ketabton.com - The Digital Library



دا چې کوي درنه وجدان څارنه(*)
همدغه بوله د آسمان څارنه

د هوښيار يو صفت دا هم وګڼئ
چې کوي تل د خپل ګريوان څارنه

دا وطن دومره ارزان مه خرڅوئ
مونږه يې کړې په ډېر زيان څارنه

نهيلي کېږئ مه، ګناه مه کوئ
په اميد وکړئ د ارمان څارنه

کوتاه فکري به تر دې نوره څه وي؟
چې په دښمنو کړي د ځان څارنه

شرين زوی چا، چا ته کوکارې وکړي
چې په غله مه کړئ د کاروان څارنه

---

*دل کے دیوانے ہر موج پر
آسمانـــو کہ پیرے نہی

که څه هم په دغه بيت کې موخه د ځمکې اسمانونه «نيو ګکر يا ښکېلاګکر» دي، خو بيا همددې غزل مطلع د همدغه بيت په تاثر کې ليکل شوې. ۲۹ /۱۰ /۱۳۹۱ل

ketabton.com - The Digital Library



نرګس ښه، خو نرګسیت په کې ښه نه دی
د خودبینو دا عادت په کې ښه نه دی

مرکب د ښه صورت او بد خاصیت یې
شعر دی، خو شعریت په کې ښه نه دی

د ګرېوان محراب کې سر په سجده ښه وي
خو د خپل ځان عبادت په کې ښه نه دی

که څه هم انسان اشرف المخلوقات دی
خو د کبر دنګ قامت په کې ښه نه دی

د انسان د ښه او بد خُلاصه دا ده
ملکوتیت ښه، حیوانیت په کې ښه نه دی

ملګرتیا کې لا چا بیه د سر کړې؟
مړه پرېړده تجارت په کې ښه نه دی

معرکه که د ننګ شوله در له غاړې
بیا سر روغ او سلامت په کې ښه نه دی

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلـونـه◊ ۱۱۲

موږ په علم هيڅوک نه شته په دنيا کې
موږ له علمه! قناعت په کې ښه نه دی

يوه ګل ته مناسب د زړه ګلدان دی
د هر بوټي زراعت په کې ښه نه دی

په تياره کې د ډيوې له لټون پرته
بله چاره او محنت په کې ښه نه دی

کليواله سادګي شخصيت کې ښه وي
بازاري زيب و زينت په کې ښه نه دی

نن سبا په يو لبخند ياری جوړېږي
خو زما ملنګ قسمت په کې ښه نه دی

خاموشي انسان کې ښه ده تر خپل بريده
خو د مړي شان حالت په کې ښه نه دی

په غزل کې ياران نوري نخرې غواړي
شيرين زويه! نصيحت په کې ښه نه دی

۲۵ / ۱۰ / ۱۳۹۱ لمريز لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



د دردونـو يـې ټکـور پـه نصـيب نـه شـو
د ټپي زړونو يـې هيڅـوک طبيـب نـه شـو

بد نښتـی کـه د نـړۍ شـوې ور لـه غـاړې
خو افغان ورور سره ورور او حبيب نـه شـو

د ګرېـوان يـوه تنـې ور پـاتې نـه شـوه
د دې خلکو غـرور بيـا هـم غريـب نـه شـو

چـا ويلـې چـې پـر پـاڼې پـاڼې ګلـو
**شيرين زوی** سر پـه فريـاد عنـدليب نـه شـو؟

۲۱/ ۱۱/ ۱۳۹۱ل

شکل يې نشته لکه باد خپې وهي محبت
ترمنځ د مور او د اولاد خپې وهي محبت
نن مې بيا زړه کې سمندر توپاني شوی ښکاري
نن په کې بيا د چا په ياد خپې وهي محبت

ketabton.com - The Digital Library



## بړبوکی شان

ورتـه ځیـر کـه لـړ پـه ښـه توګـه انسـان شـي
خپل ژوندون ته به هک پک پاتې حیران شـي
چـې لـه مـور ځنـې پیـدا شـي پـه ژړا شـي
تـر هـر څـه لـومړی ملګـری یـې فغـان شـي
ماشـومتوب ورنـه پـه هسـې منـډو تېـر شـي
په تنکی ځوانی کې سـتړی او سـتومان شـي
چې لړ پوخ شي او پـه ښـه او بـده پـوه شـي
دګـرداب پـه ډول نـور هـم سـرګردان شـي
غرض دا چې بړبوکی شـان **شـیرین زویـه!**
پـر سـر خـاورې بـادوي بېرتـه روان شـي

## د یار پام، د رحم بام

لکه زړه وي له ارام ځنې پرېوتی
چې وي یار د یار له پام ځنې پرېوتی
هسې وتی وي له ښې لکه یو غړپ چې
د اوبو وي له کوم جام ځنې پرېوتی
د وجود غوښې یې توی په داسې شان شي
لکه پوست وي له بادام ځنې پرېوتی
**شیرین زوی** ته اندازه ده ټوک، ټوک کېږي
چې وي ستا د رحم بام ځنې پرېوتی

ketabton.com - The Digital Library



## د افغانانو د خوارۍ لاملونه

افغانان څکه لوګي لوګي په دود د سپېلني دي
چې يو لوري يې «سرې سکروټې» بلې خوا يې «تور لوګي» دي

بل سبب يې د ذلت او خوارۍ دا دی زما له انده
چې تېز هوښه دي بېلتون کې، خو يووالي کې غبي دي
چې اغيار په دروغو لاس ورته د يار په نامه ورکړي
له خپل سر او له خپل ماله ورته تېر لکه مريي دي
د ورور غوږ پسې يې واستوه چې سر يې درته راوړي
تر دې کچې باتوران دي، تر دې بريده مېړني دي(!)
د قابيل، اورنګ، بهرام که هر څوک غوره بېلګې غواړي
پښتانه يې نن سبا تر بل هر چا غوره ثاني دي
معرفت يې له هر کاره لږ فطري او ډېر کسبي دی
څکه ډېر په هر يو کار کې افراطي او تفريطي دي
خپل غوږ نه ګوري چې شته دی او کنه، سپي پسې څغلي
په همدې وجه ښکار شوي همېشه د هر ښکاري دي

**شيرين زوی** ته خپل وګړي ګلابونه، هېواد بڼ دی
خو يو څو منفي خويونه په دې ګلو کې اغزي دي

ketabton.com - The Digital Library



## دوه قوې

لکــه حــرص، لکــه هــوس پــه يــو بــدن کــې
دوه قــوې زور ازمــايي زمــا پــه وطــن کــې

لــه اغــزو ســره گــلان رېبــي چمــن کــې
تــوپير نکــوي پــه دوســت او پــه دښــمن کــې

مــاتوي لکــه ښيښــې هــر لــوری زړونــه
لکــه غرونــه لــرې کــاڼي پــه لمــن کــې

ژونــد لــه يــو ، بلــه پــه ســرو او ســپينو اخلــي
دا لا ښــه ده چــې جېــب نشــته پــه کفــن کــې

**شيرين زويه!** سر دې خلاص او خوله کړه بنده
که سر خلاص او روح دې بند غواړې په تن کې

۱۳۹۱/ ۱۱/ ۲۴ ل

ketabton.com - The Digital Library



یــو ســلنه ســیال د جــمال نلــري
دومـره ښایسـته دی چـې سـیال نلـري
هم یې ذات او هم صفات بې مثلـه دي
دواړو کــې هــېڅ مثــل و مثــال نلــري
یـار کـوي خـدایي، زه بنـده گـي کـوم
وحـدت الوجـودي سـم احـوال نلـري
هــر څــه دي د یــار ځکــه تلپــاتې دی
هــر څــه غونــدې مــرگ او زوال نلــري
نور د یار د ځـواک د زړه پـه نـور گـوري
نـور **شـیرین زوی** بـل کـوم کـمال نلـري

د زړه هینداري ته د چا چې کاڼې شان شي سړی
څه سود که بېرته پرې شیبه وروسته پښېمان شي سړی
محاسبه د خپلو سهوو هر وخت ډېره ښه ده
که ډېره نشي، لږ باید سر په گرېوان شي سړی

ketabton.com - The Digital Library



د بې قدرۍ بازار دی چا ځنې ګیله نه راځي
چې جوهري نه وي جوهر هلته په ښه نه راځي
شوګیره ستا له بدرګې نړۍ نړۍ مننه
رڼا خپره شوه له دې وروسته نور هغه نه راځي
ما **شیرین زوی** وړانګې د فن په لاس راونیولې
اوس یې تر تا د رسولو طریقه نه راځي

نن خو د خپل مئین دعوت ته یوه هوکړه وکـړه
نن خیر دی یاره! لږ صحبت ته یوه هوکړه وکـړه

نن خو مې لـږ زړه لـره وکـړه یـو نظـر مبـارک
نن دې جونګړې لره ست ته یـوه هـوکړه وکـړه

نن د حرم صـاحبه! لـږ زمـا ملنـګ **شـیرین زوی**
د زړه غوښتنې او حجت تـه یـوه هـوکړه وکـړه

ketabton.com - The Digital Library



خېروي چې رڼاګانې هرې خوا لکه فانوس
ستا يادونه په کې شمعې، زړه زما لکه فانوس

په داغلو انسانانو راته ښکاري لاله زار
په سپېڅلو خلکو بولم دا دنيا لکه فانوس

چې له درده يې پر سويو پتنګانو وي زړه شين
هغه شپه په رڼو ستورو وي سماء لکه فانوس

سپينې سپينې وينا ګانې چې په کې شي راښکاره
سپېنه خوله شي راخرګنده د اشنا لکه فانوس

دا بلېږي او ځلېږي سپينې پرخې پر ګلاب
که په زړه مې پرهرونه کړي ځلا لکه فانوس

پرې سوزېږم، ايرې کېږم، **شيرين زوی** لکه پتنګ
چې د اوښکو پر ډيوو وي مخ د چا لکه فانوس

۲۱ / ۱ /۱۳۹۲ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



بیا یې لېمې سرې دي بیا یې اوښکې څڅولې دي
بیا تر باران وروسته زرغونې په غرو ختلې دي

بیا یې دي لاسونه سره، ول ول پټکی په غاړه کې
بیا لکه چې بم د دې شپونکي مېږې وژلې دي

ګل یې نه کړې ګوره لکه ګل به پانې پانې شي
ښه ده چې په خېر دې د غوټۍ شوندې ګنډلې دي

هو! همدا ربښتیا ده، وي همداسې جنتي انسان
نه ګورۍ! لاسونه یې تناکې پښې چاودلې دي

ښکلې د بدرنګو بد نظر نه دې خدای وساته
سره سپین اننګي دې ګلان، سترګې دې بلبلې دي

زه خو یې نغمې د خپل زړګي د رباب بولمه
خلك راته وایي **شيرين زويه**! دا غزلې دي

۲۵ / ۱ /۱۳۹۲ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې خوږ د ژېړ ګل په اثر شو زړه
بیا مې د بلبل شان نغمه ګر شو زړه

بیا پرې لکه پېغلې خاطرې ټولې
بیا جوړې يو ځل راته ګودر شو زړه
ستا چې د رخسار ځراغ شو بل په کې
سم لکه فانوس مې منور شو زړه
و خو دې لیده! چې مخ دې اړاوه
لکه ووړ ماشوم په سلګو سر شو زړه
بم د غم دې ياره پرې پرېوتی دی
اوس يې ودان مه بوله کنډر شو زړه
شوق د پاچايۍ د منصب نه لري
بل مقام يې خوښ دی قلندر شو زړه

ژوند پرې **شيرين زويه!** څه کانې وکړې
کله شو خليل، کله اذر شو زړه
۲۹ / ۱ / ۱۳۹۲ لمريز

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۲۲

دا په سترګو کې دي سپين له توره تاو دي
که حاجيان دي او د خدای له کوره تاو دي

اميدونه يې خوړلي اوس مې زړه خوري
ستا غمونه اوس له تشه شکوره تاو دي
تور يې مه پورې کوئ په لېوه باندې
د يعقوب بچي له خپله وروره تاو دي
دا مې تاو د زړه له ګله بوراګان دي
که يادونه پرې له هره لوره تاو دي؟
د وطن غوښې يې وخوړې او خوري يې
توبه خدايه! لړمان له موره تاو دي
دا څوک اړوې زما په ارمان خاورې
که څوک مړی ښخوي له ګوره تاو دي؟
پتنګان په بلې شمعې راټول شوي
که په واورو کې غازيان له اوره تاو دي

چوپتيا تل رضايت نه وي **شيرين زويه!**
له ګلاب څنې اغزي په زوره تاو دي

۲۳ / ۲ / ۱۳۹۲ لمريز

ketabton.com - The Digital Library



له خپل وجدان سره وعده د ماتېدلو نه ده
زړګیه پام کوه توبه د ماتېدلو نه ده

که د اغزو په څوکو تلل آن په سينه وي نو هم
د يار د وصل اراده د ماتېدلو نه ده

تندی دې مات شي خير دی و دې لګي کاڼو باندې
خو له دې وېرې نه سجده د ماتېدلو نه ده

ځينې سخت زړي يې پروا نه کړي، خو زه وايم، چې
د هېڅ انسان د زړه ښيښه د ماتېدلو نه ده

سرې خولې بچې دې د مرغۍ په کې او ځاله يې ده
هيله ده دا ښاخ او خمبه د ماتېدلو نه ده

که وس دې نه شته، د رښتو حق دې هم نه شته دی
د خوار ملنګ د سوال کاسه د ماتېدلو نه ده

لړ مې دې خپلې بندګۍ ته په شا وډبوه
د ډاډګيرنو سلسله د ماتېدلو نه ده

ستا د رحمت له باران پرته، صدقه دې شمه
د **شيرين زوی** په زړه لمبه د ماتېدلو نه ده

۳۰ / ۲ / ۱۳۹۳ لمريز لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



نـــن بيـــا بڼـــه بدلـــه ددې ښـــار رامعلـــومېږي
غالـــب زړونـــو کـــې امـــن بانـــدې ډار رامعلـــومېږي

سـپاره چـې د ژونـدیو پـر سـرونو پـه کـې مـړه وي
ځان مـا تـه مېشـت پـه داسـې يـو ديـار رامعلـومېږي
د ډېـــرو دي د زړونـــو گوداموـــه ډک لـــه کرکـــې
ډېـــر بوخـــت دلتـــه د اور پـــه احتکـــار رامعلـــومېږي
پـه زړونـو بلـوي، چـې لـه هـر لفـظ سـره اورونـه
ورکـــړی مـــور شـــيدو ســـره انگـــار رامعلـــومېږي
جديــدگرڼــه دا، چــې مــړ شــهيد او شــهيد مــړ دی
تور سپين گڼـل، سـپين تـورگڼـل تکـرار رامعلـومېږي
انکـــار د يـــار پـــر شـــوندو د حـــالاتو تقاضـــا ده
کنـه زړه کـې يـې لمـر غونـدې اقـرار رامعلـومېږي
دا موږ چې ورځ تر بلې ډېر خپل منځ کې پاشل کېږو
پـرې شـوی د وحـدت د امېـل تـار رامعلـومېږي

دا بله ده فـانوس کـې سـپينه شـمعه **شـيرين زويـه!**
کـه سـتا پـه زړه کـې يـاد د ښـکلي يـار رامعلـومېږي
۷ / ۱ / ۱۳۹۵ لمريز- لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library



# ؟

راته وایه په دې هکله، څه نظر او رایه ستا ده
خوښوونکې کې ښکلا ده، که خوښ شوي کې ښکلا ده؟

په هینداره کې هم زه یم، مخامخ هم ورته زه یم
زه خو یو یم څیرې دوه دي، اوس نو کومه په کې زما ده؟
دا پوښتنه مې هر دم او هر زمان ذهن او زړه خوري
ژوند خواړونکی د انسان دی، که انسان ژوند ته بلا ده؟
یو مکان او یو زمان کې، یو ځوانیږي بل زړیږي
دا خاصه اینبې زمان کې، که ماده کې پاک الله ده؟
مرتکب د اشتباه یې، که هر یو دې کړو ترې غوره
ژوند له پاره د خوراک دی، که خوراک ژوند ته پیدا ده؟
مینه زړه ته له بهر ځنې ورځي او که دننه
غلې ناسته ده دا ناوې، او ترې تاوه دا کلا ده؟
چې ضمیر درته یوه او نفس دې بله درته وایي
سوچ دې کړی په یو تن کې دا جګړه د چا او چا ده؟

یو پرې ګل غوندې غوړیږي، بل پرې ګل غوندې رژیږي
**شیرین زویه!** فکر وکړه، دغه ساه ده، که هوا ده؟

۱٦ / ۱ / ۱۳۹۵ لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه◊ ۱۲۶

محمد دي فرمايلي چې سور اور خوري
هغه څوک چې د يتيم متاع په زور خوري

غم مکين د چا د زړه د مکان مه شه
دا کوربه يا دېوالونه د خپل کور خوري
د دې عصر هر انسان دی داسې روی
«لکه سر د کافر» سر په شوق د ورور خوري
زما د خاورې فرزندان دي لړم خويه
زما د خاورې بچي هر وخت خپله مور خوري
چې دې وينم د بېلتون غم دې زمری شي
چې دې نه وينم، نو بيا مې ستا انځور خوري
لکه ورځ او شپه چې ژوند خوري کموي يې
هسې ما د برګو سترګو سپين او تور خوري
ځوانه! ښکار د کمترۍ د احساس نه شې
دا ښکاري خپل ښکار په دود د سړيخور خوري

بې معنا چوپتيا که زړه د **شيرين زوی** خوري
نو ماغزه يې بې معنا غوغا او شور خوري
۱۳۹۵/۵/۳ل

ketabton.com - The Digital Library



د بـــورا او د بلبـــل خويونـــه زمـــا دي
ځکـه خــوښ لکـه د دوی ګلونـه زمـا دي

د غزل جبينه ستورى بـه دې خـال كـړم
سـتر تـر دې هـم د هنـر لاسـونه زمـا دي
شمېر يــې مـه كـړه تـر يـو لويـه لالـه زاره
له ډېـر غمـه پـه زړه ډېـر داغونـه زمـا دي
د پتنګ شان ډېرو شـمعو ډېـر ځـل سـوی
د رڼـا پــه پـار پــه اور وزرونــه زمــا دي
زه د زهـــرو لـــه پيـــالو ګوټونـــه اخلـــم
خلك وايې ټول خواږه خوندونه زمـا دي
«خوب خنـدا لـه بېغمــۍ كېـږي رحمانـه»
ورك لـه ډېـرو انديښـنو خوبونـه زمـا دي
زه ژبــاړن د يـــوې داســـې اجتمــاع يـــم
چې سلوك ته يې ساكت فكرونـه زمـا دي

د اوبو شان دي بـې رنګـه **شـــيرين زويـــه**!
رنګ اوبو شان په هر رنګ كدرونه زمـا دي
۱۳۹۵/۵/٦ل

ketabton.com - The Digital Library



تفکر د حقیقت د تر لاسي فکري کرده ده
مفکوره د تفکر د پلټنې نتيجه ده
فلسفه د تفکر او تعقل علم ته وايي
هم خاص شکل د شعور، هم د پنځون مطالعه ده
خپل نظر له خپل دليل او خپل منطق سره يو ځای
د يو څه په باب يو چا ته ښکارونه نظريه ده
تېروي چې له نظره زموږ غيرمريي توکي
تخيل او خيال انسان کې همدا ځواک همدا قوه ده
هڅوي چې يو فاعل د يوه فعل اجرا کېدو ته
د همدې ټکان، جنبش او عمليې نوم انګېزه ده
چې دننه په وجود کې پر نفس باندې خپل تاثير کړي
دا قوه د اروا پوهو له نظره عاطفه ده
د ماضي پېښه چې ثبت په سپينو پاڼو وي تاريخ دی
د ماضي پېښه چې ثبت وي حافظه کې خاطره ده
ورتوالی د يو شي يا د يو چا يا د يو حال
له بل شي يا له بل چا يا له بل حال سره تشبيه ده

ketabton.com - The Digital Library



د وګــــړو تـــر مـــابين د کشــــمکش او تضــــادونو-
هنـــري تـــاليف ګڼلـــی، ادبـــي تيـــوري، ســـوژه ده
شـــعر څـــه دی؟ د اهنـــګ، وزن، پيغـــام او ښايســـتونو
همـــدا راز د فکـــر و خيـــال او عواطفـــو مجموعـــه ده
چـــې د وزن او قـــافيې لـــه قيـــد او شـــرط ځنـــې آزاد وي
هغـــه نثـــر دی، پـــه نظـــم کـــې شـــرط وزن او قافيـــه ده
د واقعيـــت بيـــا ځـــل انځـــور او انعکـــاس تـــه هنـــر وايـــي
زړورتـــوب، تـــوره، مېړانـــه ګڼـــل شـــوې حماســـه ده
څوک چې څه لېږدول غواړي له خپل لوري مخاطب تـه
بـس پيغـام پـه هـر يـو فـن کـې د همدغـه شـي نامـه ده
د عقليونـــو پـــه انـــد علـــم، تصـــوف او کـــه عرفـــان دی
دغــــه هــــر يــــو د الله د پېژنــــدنې وســــيله ده
تقوا څـه ده، ذکـر څـه دی؟ د عرفـان پـه اصـطلاح کـې
تقـــوا ده د ذکـــر ور، ذکـــر د کشـــف دروازه ده
په معبود، که په صنم وي، پـه کـې دا قيـد و شـرط نشـته
د بـــاور دې کلمـــې تـــه ويـــل شـــوې عقيـــده ده
صـفايي د زړه تـر ټولـو غـوره کـار دی **شـيرين زويـه**!
دا مطلـــب تـــه د مطلـــوب د رســـېدو ښـــه طريقـــه ده
۱۱/۵/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



دا صـحیح نـه ده چـې لـه حالـه دې خبـر نـه لـري
خـو دا صـحیح ده چـې تکـل پـرې د نظـر نـه لـري
ښـــايي حکـــیم یـــې د ټکـــور اراده کـــړې نـــه وي
ګنـــې دا نـــه ده چـــې پاهـــه دې د پرهـــر نـــه لـــرې
ملامـــت تـــه یـــې تـــا کـــره ثبـــوت ورکـــړی نـــه دی
ملامـت تـه یـې چـې پـه مینـې دې بـاور نـه لـري
ښايي چې تا په کې تنـدی پـه اخـلاص ایښـی نـه وي
کنـــه دا نـــه ده چـــې د رحـــم ور او در نـــه لـــري
زړه کې دې هم هېڅکله تیر نه کړې چـې ظلـم کـوي
پـــه دې یقـــین لـــره پـــه دې لاره ګـــذر نـــه لـــري
که روژتي شان یې په مینه کې خپل ځـان تـږی کـړې
ښـکومي بـه و نـه وایـې تـا تـه چـې کـوثر نـه لـري
لا دې پخپل وجـود کـې پـروت ښـامار وژلـی نـه دی
لا دې ایمان د «مومن خان» پـه شـان خنجـر نـه لـري
لا دې تنې شته **شیرین زویه**! اوګرېـوان دې روغ دی
لا دې جنـون مجنـون تـه ورتـه ببـر سـر نـه لـري
۱۳/۵/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



چې زه یې نه راځي په خوله او همېش ته وایي
دا څومره ښکلې دی او دا لا څومره ښه وایي

دوه‌اړه لاسونه کړه ترې تاو ښکل یې کړه دواړه مخه
د هر یو ښکلي په لیدو مې داسې زړه وایي

څه وبا ګډه ده خلک ولې مري سبب یې څه دی؟
خلک ولې غلي دي، خلک ولې یو څه نه وایي؟

چې د مېږي ورکاوی راشي نو وزرونه شنه کړي
دغه متل د مغرور حق کې پښتانه وایي

ښکومي ته غوږ نیسئ ترې اورئ د ښکومۍ خبرې
ښکومي ته ځیر اوسئ او ګورئ یې چې څه وایي

د پند خبرې **شیرین زوی** تر کاڼو سختې کوي
د خوند خبرې بیا پستې لکه اوبه وایي

۱۵/۵/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه ◊ ۱۳۲

دا هنــــر ګڼـــه ســـمبال پـــه دا ادب شـــه
تیــټ کــه جــګ یــې برابــر د مخاطــب شــه
لــه وړوکــي ســره ووړ، زوړ ســره زوړ شــه
د هـــر قشـــر د پـــام وړ پـــه دا ســـبب شـــه
تــر کعبــې د تلــو ارمــان وریســې مــه کــړه
خپل ګریوان کې په طلب د خپل مطلب شــه
پــه هــوا کــې د ســترتوب مرتبــه نــه شــته
د دې کــار پــه پــار د خــاورو پــه نســب شــه
پــه تقــوا یــې مقــدم د یــار حضــور کــې
چــا ویلــې ؟ کــه عجــم یــې نــو عــرب شــه
که دې عرش لکه فرش غواړې تر پښو لاندې
پل په نفس کېږده راضــي پــه دا منصــب شــه
هوښیار اوسه ښایي هر څه دې پای‌مال کړي
وړی آس ګڼــه شــهوت ورتــه جلــب شــه
مه ویرېږه نــه یــې خورمــه، نــه یــې څښېښــم
د خــواږه کــلام لــه پــاره شــکر لــب شــه
خیر که لمر شان دې راڼــه ذهنونــه نــه کــړل
**شیرین زویه**! په همــدې موخــه کوکــب شــه

۱۷/۵/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



تېر پـه هېر، پـه تېرو پسې مـه‌ګرځـې! راوګرځـې!
خو به ځوک په سمه ځوک پـه غـره‌ګرځـې! راوګرځـې!

بس دی نور نو بس دی، نـور پـه وینـه، وینـه مـه مینځـې
بـس دی نـور اوبـه اوبـه‌ګرځـې! راوګرځـې!
راشې! او یو پل خو د ژونـدون پـه پـار هـم پورتـه کـړې
مـرګ پسـې بـه خـو واړه، زاړه‌ګرځـې! راوګرځـې!
تول که خپل ځانونه کـچ او مـېچ کـړې نـور عـالم سـره
تول به یې په وړاندې پـه‌ګـوډ خـره‌ګرځـې! راوګرځـې!
نـه پـوهېږم ولـې لـه درانـده خوبـه ویښـېږې نـه؟
دا د فیتنـو شـور کـې هـم ویـده‌ګرځـې! راوګرځـې!
لاره د هنـر او علـم غـوره کـړې، رڼـا مـومې
ولـې سـربداله پـه تیـاره‌ګرځـې! راوګرځـې!
بد دې ورک شي، بد که نه وای بـد، نـو بـد بـه یاد نـه و
بد چې ګرځي بـد پرځـي، لـږ ښـه‌ګرځـې! راوګرځـې!

زړه باندې خو زما **شیرین زوی** نه‌ګرځې چې تنګ بـه شـم
تـل مـې پـه یـاد، تـل راتـه پـه زړه‌ګرځـې! راوګرځـې!
۱۳۹۵/۸/۱۹ل

ketabton.com - The Digital Library



دا درته نه وایم چې هغه راکړه دا راکړه
ماته مې خدایه د دې خپل وجود معنا راکړه

که زه انسان یم، انسانان اوس ماتوي انسانان
نه، زه انسان نه یم، انسان ځنې پناه راکړه

ربه یوه کوچنۍ ارزو اظهارول غواړم
زړه ته مې نور راکړه او ذهن ته رڼا راکړه

هم دا وړتیا راکړه چې ښه ذهن نشین یې کړمه
هم راته فهم په رازونو د سبا راکړه

فکر کړه کب د سمندر د تل زما **شیرین زوی**
خیال ته قوت، قریب آسمان ته د عنقا راکړه

۲۱/۸/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



خپله خپل ځان وژنـم پـرې حملـه کـوم
خپل ځان تـه د ځـان د درد کيسـه کـوم

خپلـه خپـل گرېـوان پخپـل لاس نيسـمه
خپلــه ځــان ســره محاســبه کــوم

ځـان بـد تـه پـه بـد ويـل بـد نـه گـڼم
ځـان نـه هـم پـه بـدو فاصـله کـوم

کړم که درته خپل مـافي الضـمير اظهـار
ځـان سـره د بـل پـه سـر جگـړه کـوم

زړه مې له خپل ځانه بد شي هغـه وخـت
کلــه چـــې د ظلـــم ننـــداره کـــوم

تـل غيرمعقــول انسـان نـه ځـان سـاتم
تـل لـه هلـک خويـو نـه توبـه کـوم

شـور مـې د وجـدان غلـې کومـه پـرې
تـــل د خيـــر، ښـــېگڼې اراده کـــوم

مـوم بـه کـاڼي زړونـه پـه شـعرونو کـړم
زه **شيرين زوی** دې کار کـې وعـده کـوم

۱۲۹۵/۸/۲۳ل

ketabton.com - The Digital Library



# د «حیا*» د غزل ژباړه

د کوم مظلوم د زړګي غبر، د زړه صدا یادوه!
د هر راز ظلم تر انجام مخکې سزا یادوه!
چې بد حالات دربانديږ راشي، نو دې رب په یاد شي
کله خو بېه ساعت کې هم الله تعالی یادوه!
حقوق د ښځې دي په نر که غواړې پوه شې په دې
د پاك الله کلام کې سورة النسآء یادوه!
کله دې سوچ کړی، چې خلك دې ولې ښه نه ګڼي؟
کله له ځان سره خو لږ خپلې خطا یادوه!
ای اسرائیله! که غافل یې ته له خپل انجامه
نو قام د لوط او ورسره قام د سبا یادوه!
لاس چې دعا ته جیګوې کله، بس دومره وایم
چې خپل خپلوان دې یادولو نو «**حیا**» یادوه!
۱۳۹۵/۸/۲٦ل

---

* اغلې«حیا» د اردو ژبې غیر مسلمه شاعره ده؛ هغه وايي: له تاسو «مسلمانانو» سره مې ډېره مینه ده، ډېر څه مې درنه زده کړي؛ ستاسو له مذهبه مې هم ډېر څه زده کړي او پرې د پوهېدو هڅه مې کړې.
هېره دې نه وي، چې دغه غزل راته ښاغلي محمد روز محتاج له خپل موبایل څخه راولېږه، خوښ مې شو او له اوریدو ورسته مې وژباړه.

ketabton.com - The Digital Library



ته پـه خپلـه ښـه پـوهېږې! مجهـولات درتـه عيـان دي
جزوئيــات درتــه عيــان دي، کُليــات درتــه عيــان دي

راز د ځمکــــې آســـمانونو واړه تاتـــه درمعلـــوم دی
ســتوري تاتــه درڅرګنــد دي، کائينــات درتــه عيـان دي

ربښـــتيا تـــا تـــه ده بربنـــډه، درواغ تـــا تـــه بـــرملا دي
د وګـــړو فطرتونـــه، خصوصـــيات درتـــه عيـــان دي

ما يو خاځکی ستر درياب کړه، دا چې ځنګه او په څه شان
پـه دې تـه خپلـه پـوهېږې، امکانـات درتـه عيـان دي

سـتا رضـا لـره يـې غـواړم کنـه زه ظرفيـت څـه کـړم
زما ميلونه درمعلـوم دي، زمـا خيـالات درتـه عيـان دي

**شيرين زوی** ته پټ پوښلي، تا په خپل ځواک پيـدا کـړي
ته خـالق د کُـل اشـيا يـې، مخلوقـات درتـه عيـان دي

ketabton.com - The Digital Library



(*) نــــورو اســــرائيلو کــــې د اور ننــــداره وکړلــــه
مــا د خپـــل قـــادر خـــالق د زور ننـــداره وکړلـــه

خور د سوي ورور ايرې پـه لپـو کـې راټـولې کـړې
ورور پـه کـې د خپلـې سـوې خـور ننـداره وکړلـه

هوډ و د عصري فرعون چې غږ د حق خاموش کاندي
خـدای پـه ټولـو خلکـو د دې شـور ننـداره وکړلـه

خدايه! هادي ته يې، کنه ښـه پـه خلاصـو سـترګو نـن
ټولــو ســتا د ځـــواک د دې انځـــور ننـــداره وکړلـــه

ډېر ځل **شيرين زويه**! ما په رنـګ، شـکل ليـدلي، خـو
نــن مــې پــه رښـتيا د سـپين او تـور ننـداره وکړلـه

---

(*) د دې غزل سوژه او موضوع په يوې پېښې پورې اړه لري او هغه دا، چې همدغه وخت ۳/۹/۱۳۹۵ نېټه د اسرائيلو په ولسي جرګه کې د کوم عصري فرعون په غوښتنه په دې بحث کېږي، چې په خپلې ولکه کړې سيمه «اسرائيلو» کې اذان بند کړي، د مسلمانانو يو استازی دريځ «ستيج» ته پورته کېږي او په اذان پيل کوي، د يهودو له ډېرې غوغا سره سره اذان هم پای ته رسوي او مسنونه دعا هم کوي، په پايله کې يې په اسرائيلو کې داسې اور لګېږي، چې تر پينځه شپږ ورځو پورې يې هيڅوک په ګلولو نه توانېږي.

ketabton.com - The Digital Library



بربریت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
ستر وحشت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
انسان غوښې د انسان، لکه غوښې د څاروي خوري
حیوانیت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
انسان ستورو او سپوږمۍ ته په رڼا پسې لاړ نه دی
جهالت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
شرم ورک شو، حیا لاړه، عصمتونه لیلامېږي
خباثت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
که څه هم واړه، زاړه یې ټول په ګټه، په زیان پوه دي
کثافت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
جنتونه پلورل کېږي، دوزخونه پلورل کېږي
زوړ پاپیت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
جهان ټول د ښکومیتوب له دعوو ډک دی مګر بیا هم
محرومیت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
عجیبه ده هر انسان لکه مجنون مئین په مینې
خو نفرت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر
**شیرین زویه!** ټول وګړي مېږي نه دي په دنیا کې
قناعت لا اوس هم شته دی، په نړۍ کې له نړۍ ډېر

۱ / ۹ / ۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



گرانــه! لکــه شــمعه پــه ســر اور بلــول غــواړي
دا د وخـــت تيــارې پــه قربــانۍ رڼـول غــواړي

لافې شـافې اوس د سـاعتېرۍ وړ پـاتې هـم نـه دي
خلکــو تــه اوس خپــل مهارتونــه ښـودل غـواړي

وخت د شعارونو نه دی، بل څوک پرې تېروځــي نـه
خپــل بـاور لــه خپلــو تېروېسـتلو ژغــورل غـواړي

څنډ وهه سرڅنډ وهه، را پاڅه درانده خــوب څنــې
نــور نــو د خوبونــو دا ليــدل پرېښــودل غــواړي

مـلا د همـت وتـړه «کـروړ» شـه او ميـدان تـه شـه
سـل مصــيبتو ســره تنهــا جنګېــدل غـــواړي

زړه به دې په خپلو غوښو موړ کړې **شيرين زويه!** خـو
خبېـه، چــې شــي وړې پـه خـواړو مـړول غـواړي

۱۲/۹/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



چـــې د خپلـــو ارزښـــتونو دلال نـــه وي
اســـتعمار تـــه مناســـب انـــدېوال نـــه وي

تاييـدي د فرعونيـت چـې پـرې تحريـر شـي
د موســـى د خټـــې داســـې دېـــوال نـــه وي

هغـه هېڅكلـه ملتيـا د «عـادي» نـه كـړي
چې له خدای سره د شخړې په خيال نـه وي

د هغــه بــه څــه ښــكلا وي پــه تنــدی كــې
د بلال د رنګ رانجه يـې چـې خـال نـه وي

د مغـــل د آس د پښـــو غبـــار خپرېـــږي
**شيرين زويه!** كه يې مخ كې خوشـال نـه وي
۱۹/۹/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



بې وږرونو ټوپ کړي د هوا په نيلي سپور شي
لاس چې د الله خادر ته ور وړي رانسکور شي

ښايي چې مارغان په هواګرځي، چې وزر لري
پل د بې وزرونو بايد خاورو کې انځور شي

اوس چې دومره ګران نه دي بيا هم له ځينو پاتې دي
څه به کوي دين چې سره سکروټه د سور اور شي

سپين لوښي په تور لوګي توربږي او کنه واياست
هربد فعل لوګی دی تک سپين زړونه به مو تور شي

هر سړی که غواړي چې تقدير کړي په تدبير بدل
دا کار شونی نه دی، خو بس زړه پرې لږ ټکور شي

ښه وايي: چې دوه سره الضدين جمع کېدای نه شي
شونې چې خوک وګنډي، نو زړه يې سر په شور شي

دا د **شيرين زوی** د بېوسۍ غزلې مه ګڼۍ
دا خبرې نن سبا کولی په ډېر زور شي
۲۱/۹/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



# تضمین

((نن یې راته وویـل چـې دا سـتا د اوسـېدو نـه دی*))
زما زړګی کوچنی دی، غـر پـه کـې د ځایېـدو نـه دی

ما په اخـلاص زړه کـړ ورډالـۍ یـار پښـو تـه وویشـته
اوس نـــو رژېـــدلی ګـــل د بېرتـــه جوړېـــدو نـــه دی

اوس یــــې هوبهــــو د سیاســــیونو شــــعار وګڼــــۍ
اوس هــوډ د یــارانو، چــا ویــل د ماتېــدو نــه دی؟

اوس لکــه جــامې ســهار یــوه جــوړه، ماښــام بلــه
مــه وایــۍ پــوټکی د مــخ هــېڅ د بدلېــدو نــه دی

زړه چې دې لمبه کړې او لوګی درځنې پورتـه کـړې
دا فعـــل د ښـــلو دی، خـــو دا د هېرېـــدو نـــه دی

ښنګه **شــیرین زوی** کــانې پـه زړه کېښـود منـې کنـه؟
تــاګڼـل چـــې دا ســـړی لـــه تـــا د صـــبرېدو نـــه دی
۲۳/۹/۱۳۹۵ ل

* - پورتنی نیم بیتي د ښاغلي رحمت شاه سایل د غزل دی.

ketabton.com - The Digital Library



چې قاتل په کې اتل وي
هغه سیمه به مقتل وي

چې محیط اغزي، اغزي وي
ژوند په ژوبلو پښو مزل وي

بوس، غنم په کې یکسان وي
هغه ځای کې چې غوبل وي

د مثبت بدلون شعار کې
د سیاسیونو چل و ول وي

چې چارواکي فاسدان وي
هلته چارې معطل وي

چې تکل د سولې نه کا
د جنګ اور په هغو بل وي

د وحشت راج چې چلیږي
حال د ښار به د ځنګل وي

ketabton.com - The Digital Library



خوند چې اخلي له جنګونو
په کې ډېر به شتې او شل وي

لږ فعالیت دی تر ډېر غوره
په دې شرط چې مسلسل وي

په حسب او نسب نه دی
انسان غوره په عمل وي

ملنګانو زیری واورئ
د پاچا کفن ململ وي

هیڅوک مه ګڼئ یوازې
ارمان هر چا سره مل وي

که دوستان وي د تن غړي
نشته څوک چې مکمل وي

**شیرین زویه!** د زړه ډاډ ته
وایه دا به مې ازل وي

۲۵/۹/۱۳۹۵ ل

ketabton.com - The Digital Library



دومره يې خداى سپک کړي چې موسکۍ ورتـه ښکـې شـي
نــورو تــه چــې ګوتــه نيســي، ګــوتې ورتــه لکــې شــي

خــوک چــې ابرهــه جــوړ شــي د چـا د زړه کعبــې پسـې
تــورې تــوتکۍ ورتــه د خــداى پــه زور چــورلکې شــي

يـاد لـرئ! کـه هـر خــوک شـي، د بـل عـزت تـه لـر و بـر
خپلــې حياګــانې بــه يــې بــل تــه لکــې څکــې شــي

څنـګ کـې د نيکـانو او پـه ښـه جـوړه کـې شـته سـکون
بل ځاى مونـدى نـه شـي پسـې څيـرې کـه څپلکـې شـي

خپل به ترينه هير شي، د هغـې تـګ بـه هـم زده نـه کـړي
هــر څــو کــه کارغــه پــه تقليــد ســترې د کبکــې شــي

خداى دغـه ظرفيـت او څــواک ورکـړى شـنو توتيـانو تـه
نــه لــه چتکــې هيلــه د وينــا، نــه لــه چــوغکې شــي

ولــې شــي نهيلــى هغــه څــوک چــې دا بــاور لــري
چارې په قـدرت د خـداى (ج) هـم پخـې هـم چټکـې شـي

بـس کـړه **شــيرين زويــه**! نصـحت پـه چـا ښـه نـه لګـي
اوس د شــهواني کــلام لپــاره ښــې چکچکــې شــي

۲۷/۹/۱۳۹٥ ل

ketabton.com - The Digital Library



جنګ که ختموئ په اغيار، نه کېږي
مړينه په پردي لاس د مـار نـه کېـږي

خپل يـار تـه پخپلـه څـولۍ ونيسـه
بس دی، نور نو بس په ربار نه کېږي

ګونديې هغه غاړه هار تـه سـمه شـي
هغه چې سمښت يې په دار نه کېـږي

مه وايه چې نور نو چور ته مـلا تـړم
مه وايه چې نور نو په کار نـه کېـږي

زه **شيرين زوی** دومره درد لرمه، چې
هيڅ يې په لفظونو اظهار نـه کېـږي
۱/۱۰/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱٤۸

ســتا د انکــار، زمــا د اقــرار، و نــه شــوه
شـــرح د ماښـــام او ســـهار و نـــه شـــوه

سترګې په ټک، ټک د زړه د ور دې شــوم
کـــاڼې تـــه يـــوه ذره لار و نـــه شـــوه

زړه پـــورې ګنډمـــه پـــرې ټوټـــه د زړه
تــار د زلفــو راکــړه پــه تــار و نــه شــوه

زما په تصــوير اور پــورې کــوي، وايــي:
ستا د ســون چــاره پــه انګــار و نــه شــوه

ستونی مې له اوښکو ډک شو، پاتې شوه
زړه کــې مــې خبــره وه يــار! و نــه شــوه

زه **شـــيرين زوی** ولــې دومــره بــد شــومه
مــا تــه انــدازه د دې کــار و نــه شــوه
۱۳۹۵/۱۰/۳ل

ketabton.com - The Digital Library



ځوک دې په ین او ځوک په اَن شهید شي
خو باید مړ نه شي افغان شهید شي

ځومره عالي او غوره طرحه لري
نور که مري، مري دې، نه چې ځان شهید شي

خیر که ناګران بچي د کونډې ومړ
الله دې نه کړي، چې ستاګران شهید شي

د مسکین زوی، خو دی اوبو راوړی
نه باید زوی د شتمن خان شهید شي

ستا په مرام دې عالمونه ومري
ستا په هدف دې زوړ او ځوان شهید شي

مقام یې لوړ دی، مرتبه یې لوړه
**شیرینه**! ځوک چې په ایمان شهید شي
۱۳۹۵/۱۰/۵ل

ketabton.com - The Digital Library



که په تختـه د ډوبـې شـوې بېړۍ سـپور روان يـې
دا فکر مه کوه دا وخت، چې مخ پـه ګـور روان يـې

ژوند ته دې دومره امېد ولـره! چـې هـېڅ نـه مـرې
مرګ دومره لنډ بوله چې بطن کې د مور روان يـې
ځــان تېروېســتلو لــره نــه، ښــه انګېرلــو لــره
داسې ګڼه چــې بـره درومــې کـه نسـکور روان يـې
که سرې تڼاکې شي، سرې وينې دې له پښو وځاځي
تر خپـل منزلـه آه و نـه کـړې کـه پـه اور روان يـې
بـدۍ کــې هــېڅ بېـره ونکـړې قيامــت بعيــد دی
نېکۍ کې آس درته زين بوله پـه بـل لـور روان يـې
ځوری چمتو کـړه او سـفر ځانتـه اسـانه کـړه پـرې
څه مار خو نه يې چې تر سوړې هم تش تور روان يـې

مـخ دګنـاه لـه لـوګي ژغـوره **شــيرين زويــه**! اشـنا
ډېره ده بده، چــې د يـار مـخ تـه مختـور روان يـې
۱۳۹۵/۱۰/۷ل

ketabton.com - The Digital Library



گورئ! لـه هـر چـا ځنـې هيلـه د رازدار مـه کـوئ!
پـه هــر ســړي د راز ســاتلو اعتبــار مــه کــوئ!

سـيلۍ هـم شـته، زلـۍ هـم شـته ده ګلابونـو لـره
بـاور پـه هـر چـا د مـالي او د مليـار مـه کـوئ!

ژوند ته مو دار او خپلواکۍ ته مو دام هم کېداى شي
هرې حلقې لره نسبت هيڅ وخت د هـار مـه کـوئ!

پـه توکُـل او پـه تـدبير د همـت مـلا ورتـړئ
خو له تقـدير ځنـې هـم هيڅکلـه انکـار مـه کـوئ!

پـه ځـواک د تـورو او لفظونـو سـترګې مـه پټـوئ
چا ته ښيرې، چا ته ښکنځل، چـا تـه ازار مـه کـوئ!

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه ◊ ۱۵۲

د ناځوانـانو پـه نـوملړ کــې مــو نــوم مـه راولــئ
ناځواني مه کوئ لـه شـا پـه چـا کـوزار مـه کـوئ!

خپلو خواخوږو ته ټک مـه ورکـوئ ځـار مـو شـمه
اشرف مخلق یاست دغه بد خصلت د مـار مـه کـوئ

هیڅکلـه چـا تــه خپلـه خـوږه ګوتـه مـه ورکــوئ
هیڅ وخت د خپلې ببوسۍ چا ته اظهـار مـه کـوئ!

د ټول قوت کچه مـو هـیڅ انسـان تـه مـه ښـکاروئ
په یوه خولـه خنـدا پـه چـا یقـین د یـار مـه کـوئ!

د خزاني ساتل کـه غـواړئ، نـو یوسـف پیـدا کـړئ
هیله ده نـور، نـو پـه پیشـو د مسـتو څـار مـه کـوئ!

مـا **شــیرین زوی** تـه توصـیه مـه کـوئ د نـه لیکلـو
ما **شیرین زوی** نه هیڅ وخت طمع د دې کار مه کوئ

۱۳۹۵/۱۰/۹ل

ketabton.com - The Digital Library



بیـا یـې پـه شـا وډبـاوه جنـګ تـه یـې زړور کړلـو
بیا یـې د غریـب زوی د بـلا پـه خولـه کـې ور کړلـو

دا سـړی پـرون دومـره پېـر نــه و، مـا لیـدلی و
دا خدایزده چې چا د څـه غـرض پـه پـار ببـر کړلـو
څه سیرګره خوله دې سیاستوال ته خدای ورکـړې ده
څـه هوښـیار سـړی یـې خپلـو پېښـو لـره خـر کړلـو
څنګ یې د هنر په زور داخل کـړه موسـیقي پـه کـې
څنګ یې له جوماتـه څنـې جـوړ درتـه منـدر کړلـو
نــورو دې رڼـا څنــې افغانــه! ګټــه پورتــه کــړه
نورو دې د شمعې شـان اور بـل درتـه پـه سـر کړلـو
اوس به نو لاس څوک درکړي، چې خپل دې خپله وواژه
اوس خاورو کې رغړه مات دې خپله خپل وزر کړلـو

ما **شیرین زوی** پورته کړه پرده له څو رازونو نه
ما **شیرین زوی** خلک په یو څه باندې خبر کړلو

۱۰/۱۰/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



د شــمعې تــاریمــه د اور پــه دایــره کــې ولاړ
ســوځم، خــو یمــه د رڼـا مظــاهره کــې ولاړ

نن مې د یار ښایسته سترګو کې خپـل ځـان ولیـد
نـن یـو ملنـګ و یـوې ښـکلې منظـره کـې ولاړ

د ویښــولو بــې غبرګونــه نــارو ســتړی کړمــه
په پای کې پوه شومه، چې یم په هـدیره کـې ولاړ

خود به یې زه تـر قـدمو لانـدې مېږی ښـکاربږم
هغــه چــې دی د تکبــر پــه منــاره کــې ولاړ

په توره کرښـه د ډیورنـډ یـو هـم سـر نـه خـوږو
زه د شمشاد په څوکـه، ورور مـې تـاتره کـې ولاړ

چې **شیرین زوی** پرې سترګې یخې او نظر قوي کـړي
دا اســتعداد یــې دی د شــعر ممیــره کــې ولاړ
۱۳۹۵/۱۰/۱۲ل

ketabton.com - The Digital Library



په سبب يې چې سوځېږي د فاميل غړي په اور کې
داسې شال، داسې شړی دې پيدا نشي په هېڅ کور کې

دا متل دی، چې په خپلو بڼو سترگې نه درندېږي
زړه د يار چې مې د سترگو سپين کې اوسې او که تور کې

مصور دې نور رنگونه، په کې هم استعمال کړي
خو تور رنگ له حده ډېر دی د حالاتو په انځور کې

د راتلونکي ځوان دې پوه شي چې نر چپ او غلی ناست دی
د ماديات‌و د سيالۍ، په غوږ خواړونکي شورماشور کې

بده نه ده ته راته کړه محلونه، خو زه غواړم
چې ډيوه ځان سره وېسم، چې بلېږي مې په گور کې

چا ته ښکاري او کنه، خو شيرين زوی ته معلومېږي
د انسان د وينو نښې د قاتل د لاس په لور کې
۱۵/۱۰/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



څوک چې يو څوک يار او اشنا نه لري
د رازدارۍ ستره دنيا نه لري

د معقوليت دعوې دې نه کړي هغه
چې نن کې فکر د سبا نه لري

اخلاص چې نه وي په کې هغه انسان
داسې خراغ دی، چې رڼا نه لري

د کوکنارګل په ښکلا مه تېروځې
زهر لري د درد دوا نه لري

په هلك خويه چې زړه و نه تړې
د ځوانۍ عمر دی وفا نه لري

هر څه که ولري دا ستا **شيرين زوی**
ګنه! هيڅ نلري، چې تا نه لري
۱۳۹۵/۱۰/۲۲ل

ketabton.com - The Digital Library



(*)مونږ عجيبه يو، عجيبه غونډې خوندونه اخلو
د کابل جان په سپينو واورو کې عکسونه اخلو
د ژوند يوه ښکلې صحنه انځورول غواړو مونږ
د طبيعت له رنګينيو نه رنګونه اخلو
همدا حسينې شيبې مونږ ځنې دردونه اخلي
له دې حسينو شېبو مونږه ټکورونه اخلو
راځئ ملګرو! کړو راټولې د ديدن صدقې
راځئ! چې ټول په همدې موخه کچکولونه اخلو
دوه ورځې ژوند دی په کې دنګې مانۍ نه جوړوو
د مينې وېش کوو، په زړونو کې کورونه اخلو
نن مو په زړونو کې بندۍ مسکا تر شونډو راوړو
نن **شيرين زويه!** د بې دردو تهمتونه اخلو

---

* - د ۱۳۹۵يم لمريز کال د جدي ۲۴ نېټه د شاهين شيرين زوی د فراغت مراسمو ته، زه، سالم صيب او حاجي صيب امير محمدالدين کابل ته د ښاغلي محمد روز محتاج کره لاړو، قاري صيب تورخان ذاهد او نظيرالحق قريشي مو هم په زحمت کړل، دوه شپې او يوه ورځ مو د پرله پسې واورې له اورېدلو ځنې خوندونه واخيستل او د فراغت د مراسمو په پای کې مو په کې عکسونه هم واخيستل.

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۵۸

جنـــګ تـــه درومـــي کفنونـــه يـــې پـــه ځـــان دي
تــــــابوتونو کـــــــې ســــــپاره دي ورروان دي

څوک چې جنګ نه غواړي، ژوند غواړي هر چا تـه
څوک چې جنګ غواړي، له ژونـده سـره وران دي

رژوي چـــې د ژونـــد پـــاڼې کـــوم وګـــړي
پـــه طبيعـــت کـــې غـــوره بېلګـــې د خـــزان دي

چـــې خپســـې غونـــدې ژونـــد لـــه مـــرګ نيســـي
د الله د ســـــتر نعمـــــت، ســـــتر دښـــــمنان دي

عزرائيـــل خـــو روح د خـــدای پـــه امـــر اخلـــي
چـــې پـــه خپلـــه خوښـــه مـــرګ کـــوي، ښـــکاريان دي

«ارســـطو» ښـــه فرمـــايلي شـــــيرين زويـــــه!
«غلامـــان پيـــدا لـــه مـــوره غلامـــان دي»

۲۷/۱۰/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



پدې کې د شخصیت ښایست او زېب نشته ملګریه!
اړتیا په ملګرتیا کې د فرېب نشته ملګریه!

همت کوه دا ښه دی، خو له حرص ځنې ځان ساته
په قبر کې تاخچه، کفن کې جېب نشته ملګریه!

بس ژوند دی تېروو یې، ژوند کول ورته نه وایو
د چا په سر تیکری، د چا پیزېب نشته ملګریه!

نه ژبې د پخوا په ډول پاتې او نه نجونې
زوړ خوند اوس د آنار او هم د سېب نشته ملګریه!

د هند او د پنجاب لباس دود شوی **شیرین زویه!**
اوس دلته لمندار او لمن رېب نشته ملګریه!

۱/۱۱/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



ځـــوک شـــريکوي د زړه دردونـــه انټرنيـــټ کـــې
ځـوک شـماري پـر ټنـډو شـنه خالونـه انټرنيـټ کـې

چـا لکـه مچـۍ رس لـه ګـل،ګـل افکـارو پورتـه کـړو
چا وران کړل خپل روغ او جوړ ذهنونه انټرنيـټ کـې

ځـوک پـه کـې لګيـا دي د جنـت ګټلـو کـار کـوي
ځـــوک زيـــاتوي ځـــان تـــه عذابونـــه انټرنيـــټ کـــې

چا نه په کې خپـل ځانونـه ورک پـه ورکـو لارو شـول
چـــا ومونـــدل ورک پنهـــان رازونـــه انټرنيـــټ کـــې

ځوک په کې لـه راز راز آوازونـو ځنـې خونـد اخلـي
ځـــوک پـــه تصـــويرونو بـــايلي زړونـــه انټرنيـــټ کـــې

ځوک په دې بازار کې پېرېدونکی، ځوک پلـورونکی دی
شـــته د هـــر پېشـــه وو دوکانونـــه انټرنيـــټ کـــې

چـــا پـــه کـــې پرېـــوتي راولاړ او پـــه قيـــام کړلـــو
چا راټيـټ کـړل دنـګ، دنـګ قامتونـه انټرنيـټ کـې

ketabton.com - The Digital Library



څوک کړي په کې خپله تنده ماته څوک بې آبه شي
څوک يې خوري او څوک کړي ګوازونه انټرنيټ کې

څــوک بختــور مينــه وېشــي، څــوک بدمرغــه کرکــه
هر څوک ښکاروي خپـل، خپـل نيتونـه انټرنيټ کې

څوک په کې له ځاځکي بهر جوړ په ها او هـو کانـدي
څــوک يــوه قطــره کــړي دريابونــه انټرنيــټ کــې

چــا خپــل حيثيتونــه د هــوا مختــه بنګــه کــړل
چـا تـر سـپکو سـپک کـړل ارزښـتونه انټرنيـټ کـې

هـم پـه کـې فکرونـه بدلېـدلی، هـم خيالونـه شـي
هـــم شـــي بدلېـــدلی باورونـــه انټرنيـــټ کـــې

ډېر په کـې د ډېـرو مـنځ کـې ځانتـه دي، يـوازې دي
ډېـرو پسـې شـته ډېـر، ډېـر لاسـونه انټرنيـټ کـې

بـس لويـه دنيـا ده او دنيـا کـې هـر څـه شـوني دي
کېـږي **شـــيرين زويـــه**! ډېـر کارونـه انټرنيـټ کـې

۱۳۹۵/۱۱/۳ل

ketabton.com - The Digital Library



نه د کلي د زړه سوی ورږ، نه د ښاریم
زه د خپل زړګي په څړیکو ګناهکاریم
یو مې ګواښي له یو لوري، بل له بله
خوار ولس د ډانګ او پړانګ تر منځ ایساریم
منصور څه و، څو یو ځل په دار شو ومړ
لږ ما وګورئ، چې هره ورځ په داریم
تاریخ نوې څپره نورو ته ورښيي
ما ته وایي ستا لپاره بیا تکراریم
ما په خپله کړی علم باندې کبر
زه په خپله د خپل بد حال سزاواریم
دا نړۍ له ما په څه هیبت نیولې
دا زه څه یمه نهنګ یم که ښاماریم؟
زه په مینه باندې پوه یمه، پوهېږم
زه ترګله تللی تل په سر د خاریم
که د چا د ټپ پاهه شیرین زوی نه یم
نو په درد خو یې له درده په کوکاریم
۱۳۹۵/۱۱/۴ل

ketabton.com - The Digital Library



سپین وېښته مې بلې ډیوې وبولۍ
دا مې د ژوندون تجربې وبولۍ

ګورۍ! نه خفه او نه یې ژوبل کړۍ
زړه د مومن زیات تر کعبې وبولۍ

هېڅکله و نه وایئ، چې تېر شو وخت
ور همېشه خلاص د توبې وبولۍ

ملا مو پرې د ډاډ او باور مه تړۍ
عمر د ځوانۍ، مرتبې وبولۍ

مینه چې اوبه زه **شیرین زوی** ګڼم
زړه ځنې مې تاوې لمبې وبولۍ

۵/۱۱/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



ته مې يار ګڼې کنه، خو زه دې يار يم
ته هېڅ مه وايه، زه وايم له تا ځار يم

چې چربانګ کې هم ويده وي پاتې شوی
زه يو داسې روژتي ستا د ديدار يم

زوړ دريځ مې د زلمي بچي ځېل مات کړو
خير دی پړ مې نه کړئ! څه وکړمه پلار يم

لکه درد پايم د خپل لاس په تناکو
نه شبنم يم، نه د ګل د اوړو بار يم

ته نو څه وينې زما د زړه اورونه
**شيرين زوی**، خو د برېښنا پوښلی تار يم

١٣٩٥/١١/٦ل

ketabton.com - The Digital Library



بې سببه نه وايم واه ډېر ښه دی
وايم چې په دغې ښکلا ډېر ښه دی

ډاډ چې راکوي د خپل وجدان د شتون
درد د بې دردۍ له دوا ډېر ښه دی

پوه چې نه وم زه تر هر چا ډېر ښه وم
پوه چې شومه هر څوک تر ما ډېر ښه دی

هر څوک لکه اور په سوځولو بد
هر څوک لکه اور په رڼا ډېر ښه دی

تل چې دې باور ته وي ختک، سندان
له داسې اشنا، نااشنا ډېر ښه دی

حُب د غزل روح دی **شیرین زویه!** خو
ستا غزل په سپینه وینا ډېر ښه دی
۷ / ۱۱ /۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



سخت دی، خو په حقه اقرار غوره دی
زړه پرې باندې مومې قرار غوره دی

خپل عمل په چچ د توبې صف وهه
مل چې منزه وي په لار غوره دی

ځان خرپړ کول ښه دي، خو سترګې نه
سوال ځنې په هر لحاظ کار غوره دی

لاس کې سرې تڼاکې سره لالونه دي
تش لاس ځنې ډک په بازار غوره دی

سر به **شیرین زوی** ظلم ته ټیټ نکړم
لوړ چې پرې ځنګېږمه دار غوره دی
٩ / ١١ /١٣٩٥ل

ketabton.com - The Digital Library



مل يې دی اوميد د لقاء ښکلی دی
بد دی انتظار، خو په دا ښکلی دی

ذهن مې خالي ستا له سودا مه شه
دا کور په همدغې رڼا ښکلی دی

خپل زړه ته بار، بار ښکته کوم سترګې
ځکه چې همدومره په تا ښکلی دی

ستا رخسار څراغ له هر پلوه نور
ستا رخسار ګلاب له هر خوا ښکلی دی

تا ته به له ټولې نړۍ بد وي، خو
ما ته ژوند له ټولې دنیا ښکلی دی

ستا په توصيف جوړ د **شيرين زوي** غزل
ډېر غوره، ډېر ښه او بلها ښکلی دی
۱۱ / ۱۱ /۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



عمـــــر، انګېرنـــــې، ســــوداګانې دي
راز راز امیدونـــــــه، ارزوګـــــــانې دي

مینــه چــې لــه کومــو انګیــزو زېــږي
هغــه پــه ســلوك کــې ښــلاګانې دي
فکــر وکــړه! کلــه هــم لــه ځـان ســره
تــا شــمارلې خپلــې خطاګــانې دي؟
ستا نـه وېرېـدل ترېنـه ښـل بحـث دی
مګـــــر ښـــــېراګانې بلاګـــــانې دي
مــا تــه د ژونــدون ســفر اســانه دی
ملې مـې د خـوږې مـور دعاګـانې دي
ماتــه ښــه معلــوم دی د دنیــا فریــب
مــــا ســــره د علــــم رڼاګــــانې دي
زړونــه چــې پــه یــو نظــر ګټلــی شــي
ســــتا د ښایســــتونو اداګــــانې دي

شعر **شــیرین زویــه**! څــه جــادو نــه دی
بــــس د کیفیتونــــو معناګــــانې دي
۱۳۹۵/۱۱/۱۳ل

ketabton.com - The Digital Library



چې خپل فکرونه، خپل خیالونه ګورم
لکه جنت کې چې ګلونه ګورم
په یار او دوست چې خفګانونه ګورم
لکه په ژوند چې خپل مرګونه ګورم

وینم د خدای د قدرتونو خبرې
چې د ویښتو خالي منځونه ګورم

په کې رازونه د نوښت نه وینم
چې د تاثیر اسیر ذهنونه ګورم

زه د دوزخ د لمبو قهر وینم
زه چې دا ځینې ګناهونه ګورم

زړه په معاصر انسان ترلی نشم
د ارادو یې بدلونونه ګورم

زه **شیرین زوی** ډېر ځل د زړه په سترګو
د بې خبرو توکو شکلونه ګورم

۱۳۹۵/۱۱/۱۲ ل

ketabton.com - The Digital Library



مینه کوو، خو مـونږه مینـې تـه خـوك كلـه پرېـږدي
دلته سړی خبـرې سـپینې تـه خـوك كلـه پرېـږدي

مـونږ زنـدگي د جنتـي گلـو ورمـه گڼـو، خـو
مونږ تـنفس د دې عطرينـې تـه خـوك كلـه پرېـږدي

ټول خلك غواړي چې له مونږه ټول واكونه واخلـي
مونږه خپل ژوند او خپلې مړينې ته خوك كلـه پرېـږدي

مـونږ سـره اوس پـه لويـو، لويـو لارو وېـره ملـه ده
مونږ غم د هغـې لار مهينـې تـه خـوك كلـه پرېـږدي

ماښـام تـرې ټـولې د معلـول زوی پـوروړي اخلـي
د سوال پيسې موركۍ مسكينې ته خوك كله پرېـږدي

زه هغـوی وينمـه چـې نقـش د بېرنگـۍ لوبـوي
ما **شيرين زوی** غزل رنگينـې تـه خـوك كلـه پرېـږدي

۱۳/۱۱/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library



سر راباندې مه ګرځوه، سر دلته په کار دی
وخته لاره ورکو ته رهبر دلته په کار دی
دین د الله ښه دی، محمد هم دومره ښه دی، چې:
اوس هم بس هماغه پیغمبر دلته په کار دی
دلته هېڅوک نه وايي، چې خپله باید پلار شي
دلته هر څوک وايي: يو پلندر دلته په کار دی
هيڅ نمرود ته دلته د خلیل ضرورت نشته
برعکس هر نمرود ته یو آذر دلته په کار دی
ژېو ته په هر حالت کې زده کړه ضروري ده، خو
نجونو لره ښه خوندي ګودر دلته په کار دی
زړه دې باید تخت د رستم نه وي **شیرین زویه!**
ښکلو ته یو پُل لاره او ګذر دلته په کار دی

۱۵/۱۱/۱۳۹۵ل

ketabton.com - The Digital Library

◊غزلــونــه◊ ۱۷۲

نور به هم ویښ وي، خو هغوی بیا دغه کار نه کوي
خالونه شماري، خو په زړو د زخمو شمار نه کوي

هېڅوک شلېدلو ګرېوانو پسې ستن نه رااخلي
هېڅوک شلېدلو ګرېوانو ته غم د تار نه کوي

خوښ یم، چې زړه د مینې کور دی، خو خفه په دې یم
چې داسې هم نه دی، چې کرکه ورته لار نه کوي

ټول د صدیق په خبر صدیق ملګري نه دي ګورئ!
ځینې خو داسې کار کوي، چې هغه مار نه کوي

ناکام وګړي وي همېش د ښې موقع په طمع
بریالي خلک د چانسونو انتظار نه کوي

زه لېونی یم **شیرین زویه!** چې کوکارې وهم
هوښیار که زړه خوري، د خوړلو یې اظهار نه کوي

۱۳۹۵/۱۱/۱۹ل

ketabton.com - The Digital Library



لــه لالونــو او لاجــوردو ډک وطــن کــې
ګلابونــه خیــرات غــواړي پــه لمــن کــې

د پـالش بیکـې تـه ناسـت داسـې کـوچني دي
چـې شـکلا پـرې راجـوړېږي پـه چمـن کـې

نـه بـه ګـور کـې تـاخچې ومـومئ شـتمنو!
نــه بــه ومــومئ جبونــه پــه کفــن کــې

نـه خـوړلی نـه بـه وړلـی مـال متـاع شـئ
دغه ضُعف به ژر محسوس کړئ په خپل تن کـې

ســـخاوت ګنـــه فطـــرت د اصـــلو ګلـــو
خوشـبو نـه وي پـه کاغـذ انځـور سـمن کـې

د مـال ورکـړه کـار د نـر دی **شــیرین زویــه!**
د ساتلو یې خـوی نغښـتی خـدای پـه زن کـې

۲۲/۸/۱۳۹٦

ketabton.com - The Digital Library



راشنه شوې مې غنچه د زړه چمن کې
معطر یم پرې بارود بارود وطن کې

د ګل مخې، عنبربویې، نرګس چشمې
د خولو خوشبویي نشته په سمن کې

په لیدو د شمع مخې پتنګ کېږم
دا خاصیت مې الله نغښتی په بدن کې

د اوبرنګې په دیدار مې تنده نیسي
دغه ضُعف مې محسوس کړی پخپل تن کې

چې له «غټې» ځنې «جاج» کم کاندئ ملګرو!
شیرین زوی یم «کبک» شوی همدې سن کې

۲۳/۸/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library



لکه لمرګلی، چې د لمر له رڼا ښکته ګوري
درواغجن هسې د ربښتین په ربښتیا ښکته ګوري

دې سرې ټول عمر دې خلکو ته دوکه ورکړې
ښايي چې بیا هم خپل عادت کوي بیا ښکته ګوري

بده ده خپل ځان ته سجده د خپل ګرېوان محراب کې
بده ده څوک چې په سبب د انا ښکته ګوري

ځای به یې خاورې شي، خوراک به شي د ګېډو، بیزو
چې لکه پانې له هیبت د هوا ښکته ګوري

د ورکړې غر چې وکړې ټول سترګې درپورته کاندې
د راکړې غر چې وکړې ټوله دنیا ښکته ګوري

یو خاموشي د رضایت او اعتراف دلیل دی
بل به دې مخکې معترف او رضا ښکته ګوري

**شیرین زوی** خپل د صعود ځای هېڅکله نه هېروي
څومره چې پورته درومي هومره په شا ښکته ګوري
۲۳/۹/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library



داروونه زانګي په کې سخته سزا ښکته ګوري
حلقه، حلقه زلفې پر ولو، زيبا ښکته ګوري

دا به نرګس شان وي له ډېرې خودبينۍ راماته
که به د خيال او تفکر په بينا ښکته ګوري

له غمه سر د ښکلې ټيټ مه شه پر خوا د زنګون
خير که غوټې غوندې له ناز او ادا ښکته ګوري

باد چې يې کله ښکلې مخ څنې پلو پورته کړي
له شرمه سره شي او له ډېرې حيا ښکته ګوري

خدايزده چې څه احساس لري راته هيڅ نه پوهېږم
خدايزده چې ولې په ليدلو زما ښکته ګوري

پړه بارول پرې **شيرين زويه**! ضروري، خو نه ده
همدومره بس ده چې زه دې ته او دا ښکته ګوري

۲۴/۹/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library



چې په شپه کې لمر راوخېژي سبا شي
رڼا مه راوړه ته راشه چې رڼا شي
بیا دې لړ لړ لونګ څوړند په سینو شي
بیا خپره دې په ګودر خوشبو هوا شي
کاش چې بیا ببرته شپونکی نغمه په خوله کړي
کاش چې بیا مړوند له شرنګ سره پخلا شي
ګوندې لړ سُرور ترې زړونو ته حاصل شي
ګوندې ترنګ د مطرب غېږه کې پیدا شي
درد کېدل نه نارینتوب دی، نه مېړانه
کمال دا دی، چې څوک درد لره دوا شي
که نړۍ خوندې ژوند غواړي **شیرین زویه!**
بویه پاکه دړز و درز څنې دنیا شي
۲۶/۹/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلـونـه ◊ ۱۷۸

زه مغرور او خودبين نـه يـم زه پـه بـل مفهـوم عجـب يـم
زه د ځـــان حيرانـــونکی زه خپل ځان تـه متعجـب يـم

زه اســتازی د ضــمير يــم ضــمير زمــا د نــوم اســتازی
هم وکيل يم هم موکـل يـم هــم سـبب، هــم مسـبب يــم

نبه پوهېږم څوک مې غواړي نبه پوهېږم چې څوک غـواړم
يـو مکـان او يـو زمـان کـې هم مطلوب يم هـم طلـب يـم

پـه جهـان کـې يـو ذره يـم په خپل ځان کې يو جهـان يـم
د کُل جز يم د جـز کُـل يـم هم درياب يم او هـم کـب يـم

هم يـې ځـان تـه زده کومـه هــم يــې ځــان نـه زده کومـه
هم پخپل ذات کې طالب يم هم پخپل ذات کې مطلـب يـم

مــا تــه لنــډ تــر شــارګيو مــا نــه لــرې دی لــه ســتورو
يار لـه مـا څـومره بعيـد دی يـار تـه زه څـومره اقـرب يـم

هم معقول يم هم محسوس يم هم مکنون يـم هـم مکـون يـم
د پټ روح او څرګنـد جسـم لا تعريفـــه مرکـــب يـــم

**شيرين زوی** يې خپلـه وايـم **شــيرين زوی** يــې خپلـه اورم
هــم د ځــان مــتکلم يــم هم خپل ځان ته مخاطـب يـم

ketabton.com - The Digital Library



په بد سلوک چې د زړه سر سوځوي
ظالم د خدای د خونې ور سوځوي

مور له شیدو سره انګار ورکړي
خلک د هر لفظ په اثر سوځوي

د وخت له جبره درته څه ووایم
هم مې ساړه او هم مې لمر سوځوي

څنګه چې شمعه له خپل تاره سوځوي
داسې ما خپل وجدان اکثر سوځوي

بیا له چلم څنې لوګي پورته شول
بیا کوم نادان پرې خپل ځیګر سوځوي

شپونکي د زړه اورنه نغښتي په کې
سوز د شپېلۍ یې مازدیګر سوځوي

مومن له دینه سر او مال ځاروي
پتنګ په شمعه صرف وزر سوځوي

یو څه چې وسوځوي یو څه پاخه شي
**شیرین زوی** فن ته د وخت زر سوځوي

۲۸/۹/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلـونـه◊ ۱۸۰

مُضر، شـوخ، شـوخ يتيمـان لـه مـوره تـاو دي
توبــه خدايــه! لږمــان لــه مــوره تــاو دي

پلټــي يــې هــم پلــو، هــم يــې جيبونــه
دا بچــي كــه پوليســان لــه مــوره تــاو دي

مـور يـې شـمعه ورتـه سـوځوي ورتـه ژاړي
اولادونــه پتنګــان لــه مــوره تــاو دي

څوك دودی او څوك څپلۍ ورځني غواړي
پښــې يبلــې ګرســنګان لــه مــوره تــاو دي

زامــن، لــوڼې مغزخرابــه ورتــه وايــي
**شــيرين زويــه!** طبيبـان لـه مـوره تـاو دي

۱/۱۰/۱۳۹۶ل

ketabton.com - The Digital Library



### زشت او زيبا

لړ يې خلاص ونيسه غم مـې پـه زړه بـار دی
مخ کېدل په خلاص تندي د نېکـۍ کـار دی

لـږ وار وکـړه درتـه لاس کـې درکـوم يـې
د زکـات مـال مـې بېـل کـړی دی تيـار دی

وايي پرېږده چې پـه کـې وي مـه يـې باسـه
زړه مې خـوښ دی پـه ښـخ بانـه د يـار دی

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۸۲

پـــرې لګیـــا یمـــه پښـــې یـــې جګومـــه
اشنا کټ ته ختی نـه شـي سـخت بیمـار دی

لړ یـې مـه خوځـوه اوس یـې تـرې وباسـم
لا دې اوس هم پښه کې پاتې تللـی خـار دی

خوند به وکړي چې یې بې غوښـتلو راکـړې
بهـانې د پـور پـه ورکـړه کـې انکـار دی

صـبر وکـړه لا ایسـتلی مـې تـرې نـه دی
اوس دې هم خلې په سترګه کـې ایسـار دی

چې داخل شو په کې بیا مې ترې و نه ایست
نصحت زمـا حافظـه کـې پـروت د پـلاز دی

چې خوږ نشي په ورو، ورو یې تـرې وباسـې
لاس له تیګې لاندې بنـد د یـو هوښـیار دی

بېګاه ټوله شپه پرې پروت زه **شیرین زوی** وم
بېګـاه مـا یـو کتـاب لوسـتی پـه یـو وار دی
۱۳۹۸/۱۰/۲ل

ketabton.com - The Digital Library



پــه هنـــر مـــو اميدونـــه زرنگـــار کـــړئ
مشــاطې بانــدې د علــم يــې ســينګار کــړئ

تر مـرۍ وينـو کـې ډوب شـوئ نـور غرقېږئ
نــور بدلــه دا د مــرګ و مړينـــې لار کـــړئ

نور بايد نه ځوک هابيل، نه ځـوک قابيـل وي
د آدم زامـــن لـــه يـــو بلـــه ايســـار کـــړئ

بـس دی ژونـد د واک لپـاره ډېـر پـه دار شـو
خيردی يوځل خو واک هم له ژونده زار کړئ

چـې د غـوږ پـه تـاوولو ځـوک پـوه نـه شـو
لاس پرې راکاږئ پـه مينـه يـې هوښـيار کـړئ

تـر چـړې لانـدې دا يـو اسـماعيل بـه دی
**شيرين زوی** حلال د ديـن، وطـن پـه پـار کـړئ

۱۳۹۸/۱۰/۳ل

ketabton.com - The Digital Library



## محتمل الضدين

لــه اجــل ســره کــوي زورازمــايي د نــر بچــي
دېوالونــه لــه ځــانونو تــاووي د نــر بچــي
دنـده، فـرض او مسـوليت يـې، ده سـاتنه د بشـر
ځکه بوخت دي چې ځانونه کړي خوندي د نر بچـي
د ځانونو غم کې نه دي په خوښۍ اور ته وردانګي
بـد نظـر تـه لـوګي کېـږي سـپېلني د نـر بچـي
تر لېوانو يې ستر زړونـه پـه سـينو کـې دي پراتـه
انسـانان خيـروي سـم لکـه خـاروي د نـر بچـي
چې مراد يې له الفاظو هم ستايل وي هـم غنـدل
شــيرين زويــه! کــوي داســې شــاعري د نــر بچــي

۱۳۹٦/۱۰/۵ل

ketabton.com - The Digital Library



هــرې خــوا گــورم اذيــت، عــذاب، ازار دى
هــرې خــوا څنــې مــې وران د زړه بــازار دى

شرمښــانو راځــۍ ټــول مــې ګاونــډيان شــۍ
ماتـــه اوس لـــه انســـانانو څنـــې ډار دى
لکـــه لويـــه کړايـــي وي چـــا خـــوړلې
هســې مــوږ مــې زړه د غوښــو لــه ديــدار دى
دګلونـــو جنـــازې تـــرې پورتـــه کېـــږي
د پـــولادو بـــاران شـــوى پـــه ګلـــزار دى
خــداى نــه، نــه وېرېــږي غــواړي کاغذونــه
د مــادي پــه علاقــه کــې مــې بنــد کــار دى
لمـــر د غـــولي منځتـــه راغـــى خوبوليـــو!
ســـتوري تللـــي دي، روان درنـــه ســـهار دى
خوله چې خلاصه شي احوال د زړه څرګند شــي

کنــه څــه خبــر څــوک مــنځ نــه د آنــار دى
**شيرين زويه!** خيــر دى موســکې شــونډې ګرځــه
تبســـــم د محبـــــت غـــــوره اظهـــــار دى

۱۳۹٦/۱۰/۷ل

ketabton.com - The Digital Library



نن یې بوی د زلفو مل د هوا نه دی
معطر ځکه نن ذهن زما نه دی
هغه ورځ چې وروتلی ورپسې و
راستون شوی زړه ګوګل لره بیا نه دی
غږولې دي ما داسې چم کې سترګې
چې خپور کړی لا وزر پرې رڼا نه دی
د زیارکښ د لاس تناکې وې چاودلې
سر یې ایښی په بالښت تر سبا نه دی
څوک چې بدې ورکوي کار یې ځنډېږي
د شیدو خاروی پلورلی هیچا نه دی
دلته ډېر د درد د ورکړې ماهران دي
دلته فکر کړی چا د دوا نه دی
مري مې ملک کې د آدم بچي بې شماره
صرف حسین شهید په دې کربلا نه دی
**شیرین زوی** قدم په داسې ځمکه ایښی
چې مرګ چا ته په معنا د ګناه نه دی
۱۳۹۸/۱۲/۱۰ل

ketabton.com - The Digital Library



زما زړه کې یې ارزښت یوه انه وي
چې خودخواه مې د مور زوی که بېگانه وي

اسماعیل چې نه وي مه ترېځ پرې زړونه
ډبولې یې که سل ځله سینه وي

غوره دا چې تول غوړ، غوړ لکه بادام وي
نه چې ژبه خوږ لکه شانه وي

ښه هغه چې وي ویاړلی د خپل عصر
بد هغه چې پرې نومبدې زمانه وي

د خپل چاري، خودغرض مقتدي مه شه
شیرین زویه! که امام په مدینه وي
۱۳۹۶/۱۰/۱۵ل

◊غزلونه ◊ ۱۸۸

د یو چا شونډې ګلپاڼې    د یو چا خولګۍ کې ګل و
د یو چا رخسار ګلاب و    د یو چا کوکۍ کې ګل و

شین یې سترګوکې ګل مه شه    د یو چا سترګې نرګس وې
د یو چا زلفې سنبل وې    د یو چا کمڅۍ کې ګل و

یو یتیم ناست خوښ خرم و    د پالش بیکه یې نه وه
په کاغذ یې انځور کړی    د بابا پګړۍ کې ګل و

ګوندې پیل ویشتل، ویشتل شي    د یوه او بل په ګلو
نن مې ولید یو چا ایښی    د ټوپک شپېلۍ کې ګل و

دا چې رېږدي لکه پاڼه    دا چې ښکاري ژېړه پاڼه
باور وکړئ دا سپین ږیری    په تنکۍ ځوانۍ کې ګل و

څه عجب ګل، ګل لفظونه    څه عجب ګل، ګل کلام دی
**شیرین زوی** ښایي زبېښلی    د قلم مرۍ کې ګل و

۱۹/۱۰/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library



ژر يې کړه قبوله مولا لوېږي ترې
لپه مې سورۍ ده دعا لوېږي ترې
ګل غوندې لاسو کې اور نيواى نه شي
آه مې چې ملك وړي تر تا لوېږي ترې
کاڼي مې پخپله پښو ته توپ وهي
لال چې لاس ته راشي، نو بيا لوېږي ترې
خدايه! دا څه چل په غونچو شوى دى
وينم پرخه، پرخه حيا لوېږي ترې
څوك که د پرون فکر کې خوب ويوړو
پوه دې شي هغه چې سبا لوېږي ترې
دوه هندوانې يو لاس کې نيواى نه شوو
ډېر که ځان مادي کړو معنا لوېږي ترې
څه وکړم نصيب مې ملتيا نه کوي
ګل ته ځولۍ نيسم اشنا لوېږي ترې
ظرف د زړه مې دومره لبرېز شوى، چې
نور نو **شيرين زويه!** وينا لوېږي ترې

خيبرپښتونخوا، پېښور، حيات اباد ۱۵/۱۱/۱۳۹۶ ل

ketabton.com - The Digital Library



# د پښتنو د حق غوښتونکي لاريون په تاثر

د اباسين څپو شور جوړ کړئ چې جهـان راويښ شـي
د خوبولـــو پښـــتنو ويـــده وجـــدان راويښ شـــي

د لـر او بـر د وحـدت داسـې انګـازې جـوړې کـړئ
چې هم خيبر وموښي سترګې هـم واخـان راويښ شـي

د آزادۍ او اســتقلال داســې نــاره پورتــه کـــړئ
چې څمکه ولړزيږي خوب نه پرې آسـمان راويښ شـي

د حـق غوښـتنې غـږ تـر هـر غـوږ پـورې ورسـوئ
ګونـدې د «خــان» د لارې واړه لارويـان راويښ شـي

د خپل هويـت شـمعه کـړئ بلـه د نـړۍ فـانوس کـې
چې څان نتلو تـه هـر څـای کـې پتنګـان راويښ شـي

د دې وحشـت او دې دهشــت بـه تقابـل پيـدا شـي
کـــه د «عــــدم تشـــددد» معتقــــدان راويښ شــــي

کـه يـې خوبونـه درانـه نـه وي د غفلـت تـر بريـده
ښايي هغـوی د **شـيرين زوی** پـه دې بيـان راويښ شـي

خيبر پښتونخوا، پېښور، حيات اباد ۲۱/۱۱/۱۳۹٦ ل

ketabton.com - The Digital Library



# تاثر

د پرې شوي هار په خېر دښمن ښيندلي پښتانه
د وحدت په تار نن بيا منظور پېيلي پښتانه
د منظور پښتون ناره وه او که دم و د عيسى؟
کفنو سره راجيګ شول دمختلي پښتانه
نن راغلي د ټپونو د حساب او کتاب ورځ
مدعيان د خپل حقوق دي دردېدلي پښتانه
که خدای غوښتي وي، نو کړي به د بابا پلونه تازه
تر مشهد او تر ډيلي به درومي پلي پښتانه
ننګيالي د ننګ ډګر ته راوتلي په کلک هوډ
لکه مست زمريان غورېږي قهرېدلي پښتانه
ډېر وخت پس الله راوستی پسرلی په پښتونخوا
ډېر وخت پس لکه ګلونه غوړېدلي پښتانه
دی متل له نړېدلي کمره بويه ځان ساتل
پښتون بده! خطرناک دي نړېدلي پښتانه
ژړول دې، خو پوه نه وې، چې خوب تښتي په اوبو
وينښ دې کړل په خپلو اوښکو خوبولي پښتانه
په يووالي د پښتون يم دومره خوښ او دومره ښاد
**شيرين زويه!** لکه وي، چې هسک ته تللي پښتانه

خيبرپښتونخوا، چارسده، د حاجي رازمحمد حجره، ۲۴/۱۲/۱۳۹٦ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه ◊ ۱۹۲

چې پخپل درد د خپل حس لخوا محکوم شي
نو د نورو درد خو بويه ورمعلوم شي

له ډېرو وي د غرونو سينې ډکې
په نسبت د غوښې ښايي چې زړه موم شي

نر هغه چې ځواک سره وي بې ضرره
نېش خو مار نه چې هم وباسي معصوم شي

احترام د ژوند ځپلو ځکه بويه
چې ظالم هم ستم ووينې مظلوم شي

د زړه مه منۍ د عقل رايه ښه وي
زړه خو ډېر ځل لوی سړي ته هم ماشوم شي

د کره فکر يو داسي مزی راوړئ
چې منثور پښتون ملت پرې لړ منظوم شي

خپل خواخوږی به دې بولي **شيرين زويه!**
هرچې پوه ستا د غزلو په مفهوم شي
۱۳۹۷/۲/۳۱ل

ketabton.com - The Digital Library



دلته په منصب ځوانۍ لؤ کېږي ځوانان مري یاره!
دا خلك خواړو سره د خپل لاس ګوتې خوري یاره!

دلته سیاست د ړندو جنګ دی په سر لاس نیسه
دلته سیاسیون ولي غونډاري اتکلي یاره!
دلته هرې خولې ځنې خلیل د حق نارې وهي
دلته په هر زړه کې آذر کاندي بُت سازي یاره!
دلته دی د خلکو د نظر او عمل دا توپیر
یو لکه د مور قربان، بل وهم د پېرې یاره!
دلته چې له جنګه خوك د سخت نفرت اظهار کوي
دلته هماغوی لمن همدې اور ته وهي یاره!
دلته هر یو کس ښه ممثل د ښو اړیکو دی
دلته په رښتیا نه کوي خوك د چا یاري یاره!
بله نړۍ هم ګڼه د دې خلکو د دې په خیر
پته د غرمې شي لګېدای له سبناري یاره!

پرېږده **شیرین زویه!** زړه په دې خبرو څله خورې
ربېې به هماغه څه، کوم څه چې خوك کري یاره!
۹/۳/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۱۹٤

خولـه پرانسـتې دلتـه نـن داسـې بـلا ده
چې نغړونکې هـم د شـیخ هـم د مـلا ده

جنازه یې بیـا د کـوم ځـوانیمرګ راوړه
بیا د کلـي مـنځ کـې کریکـې دي ژړا ده

معلــومېږي چېرتــه بیــا شــوې چاودنــه
امبولانســو جــوړه کــړې بیــا غوغــا ده

ځنګــه وژغــورو ډېــوې او څراغونــه
هــر پلــو پســې خــوره وره هــوا ده

دلتــه هــر ســړی لــري پــه زړه ټپونــه
دلتــه ورکــه لــه هــر چــا ځنــې دوا ده

الله معاف بنـي اسـرائیل کـړل پـه وژلـو
مونږ چې نه بښي جوړ ستره مـو خطـا ده

**شیرین زویه!** هرې خوا تیارې خپـرې دي
مــروره مــو لــه کلــي نــه رڼــا ده

۲۱/۳/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library



عجیبه وخت راغی خپل سیوري ځنې ډار کېږي
په ائینه کې له خپل شکل نه انکار کېږي

د زړونو کلیو ځنې کړي باورونو کډې
په پراته پړي باندې اوس ګمان د مار کېږي

بویه چې خلك د نامردۍ تور ځنې وویرېږي
برعکس چې ګورې په هر چا له شا ګوزار کېږي

د ګل په لاس په ګل د ګل ویشتل خیالي مفهوم شو
اوس په ګل هم د ګل له خوا د کاڼي وار کېږي

چې د الله په نوم یې غواړې په الله دې سپاري
خو که رنګین کاغذ وروښیې، نو کار کېږي

چې د یوې خاورې بچي جوړه و نه کړي خپله
بربنډ درواغ دي که څوك وایي په اغیار کېږي

د شعور سطح لوړوي، د ذهن غوټې سپړي
**شیرین زوی** څه پوښتې، چې څه کار په اشعار کېږي
۱۳۹۷/۴/۱٦ل

ketabton.com - The Digital Library



پـه دوزخ کـې بـه غوغـا وي د نسـکورو
مونږ رانجه تروږل له سـترګو د کمـزورو

ځلور پښيز پـه دوو پښـو ورپسـې نـاځي
دوه پښيز جبـر د رزق کـړل پـه ځلـورو

منکرات لکه معـروف شـول مسـلمان تـه
خوک به ځرنګه جلا کړي سپين له تورو

شب کور نه ويني يو څه په توره شپه کې
«لويه ورځ» نظر کې نشـته د ورځ کـورو

د انسان ژوند هغه وخت د زهرو ظرف شو
چې يې زده کړل په سينه تلل د منګـورو

په ((الصراط المستقيم)) ځان برابـر کـړه
شـــيرين زوی ټکــوه مــه ســر لــه نــورو

۱۹/۴/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library



ږیره مې لږ سپینه ده، خو پام مو وي، چې زوړ نه یم
یو سلنه هم تر اوسه زه په مینه موړ نه یم

کاڼی یم د طور د غره د خدای نور مې لیدلی دی
مینه کې یې اوس هم هسې سره لمبه یم سوړ نه یم

سلو دښمنانو ته تنها ډګر ته وتی یم
څوك وايي، چې زه د دغه خپل عصر «کروړ» نه یم

زه د نوح بېړۍ یم لاس دې خلاص د توپانونو وي
هر لور یې چې باد وړي کاغذباد لاس کې د ووړ نه یم

زه به **شیرین زویه**! اوس سرلاری د سیالانو وای
دا مې بدمرغي ده، چې له خپل ورور سره جوړ نه یم
۲۱/۴/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library

◊غزلـونـه◊ ۱۹۸

ښه د پړانگ لري، ځواک د زمري سترگې
مشرانو ښه ویلي، کاڼي چوي سترگې
تور یې داعي د کفر، سپین یې د نور جلوه
د لږ سرُخۍ په لمبه، زړه سوځوي سترگې
ځنگه پرې نه شم مئین، ناصحه ووایه
د خدای کیسه، چې راته، بیانوي سترگې
ستر تفاوت شته په کې، ځینې لمر نهویني
د ځینو درک لره وي، ذره بیني سترگې
د یار رضا به سخته، یوه ذره نه وای
که د هر زړه په کور کې، نه وای د سپي سترگې
په **شیرین زوی** کړي خدای، دوه احسانونه دي
یو یې غنا ورکړې، بل د زړگي سترگې
۲۴/۴/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library



بويه د شاعر مقام پينځه حسييز نه پاس وي
ډېر دي پينځه ګوتي، خو يو يو شپږګوتی لاس وي

ډېر ورسره ناسته او ولاړه کې احتياط کوئ
زړه د هر شاعر د ړندې ګوتې په قياس وي
نور به هم د نورو د خير فکر لري سر کې، خو
ذهن د شاعر آب حيات ځنې ډک طاس وي
بې شکه هر يو انسان خپل حُسن خپل ارزښت لري
نور ښکلي لالونه، خو شاعر په کې الماس وي
ښايي د شاعر په نوم څوک چا لره خنډ شوی وي
ښايي کوم اغزي اغوستی هم د ګل لباس وي
څنګ چې شاعران دي شاګردان د مهربانه رب
هسې همدوی ښايي وارثان د خيرالناس وي

پرته له شاعره وايه څوک دي **شيرين زويه!** چې
وقف يې د ګلو اوبه خور ته خپل انفاس وي؟
۲۴/۴/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۰۰

که څه هم په بارودو الوده د ملک هوا ده
بیا هم د جنتي ګلو وږمه د ملک هوا ده

هر خوا په سبزه زار ده سپینه پرخه وریدلې
ساه ځان پلو ته راکاږه تازه د ملک هوا ده

د ګلو خوشبویۍ یې په سر بار درومي، را درومي
معطر مې دی پرې ذهن عجیبه د ملک هوا ده

له هرې خوا چې راشي د چا یاد ځان سره راوړي
له هرې خوا چې راشي مېلمنه د ملک هوا ده

تندي د څپو ښکل کړي بیا راغاړې ووځي ماته
تر څنګ زمونږ د سیند سره، سره د ملک هوا ده

ترمنځ د مازدیګر، ماښام یې دي چېرته لمبلي
نن ستا د لمدو زلفو شان لمده د ملک هوا ده

په مینه یې د حس په ژبه وڅکئ ملکوالو!
باور وکړئ تر شاتو هم خوږه د ملک هوا ده

په طمع **شیرین زوی** د پسرلي د وږمو نه یم
ذوقپالې مې هر وخت هره شېبه د ملک هوا ده

۲۹/۴/۱۳۹۷ل

ketabton.com - The Digital Library



نــه د ثــانيو، نــه دقيقــو، نــه دګړيــو کــار دی
د ځينــو زړه تــه کوزېــدل اوس د پېړيــو کــار دی

ستا له نښترو بڼو بار سـترګې مـې زړه کـې ګرځـي
پـه سـمندر کـې روان کـړی بـار بېړيــو کــار دی

مادي ياران پرې پورته شـوي تـر مطلـوب مقامـه
تل يـې اخيسـتی زمـا بـاور نـه د پوړيـو کـار دی

هر څوک په بده ورځ کې يار پاتې کېدلی نه شـي
لوېــدلي بېرتــه ودرول صــرف د ســړيو کــار دی

بد يې عادت کړم خاموشۍ کې راته خوب نه راځي
اوس **شيرين زوی** ويده کول ستا د بنګړيو کــار دی

۱۳۹۷/۱۱/۳ل

ketabton.com - The Digital Library



چې ښېرا دې د ابۍ شي درپسې
که شې غل نو به سپوږمۍ شي درپسې

لکه وږی د غنم به دې مات، مات کړي
که د مور اوښکې ږلۍ شي درپسې
د ژوند خوله به دې بېخونده بېمزې کړي
که بېخونده يې خولګۍ شي درپسې
ټينګ به نکړې خپل دستار په دواړو لاسو
که د مور د آه سيلۍ شي درپسې
ابرهه که شوې د مور د زړه کعبې ته
نو به توري توتکۍ شي درپسې
بچ به نشې که غټ غټ ګامونه واخلې
چې د مور وړې سلګۍ شي درپسې

چې وي مور درنه ناراضه **شيرين زويه!**
مړې ايرې به سرې سپرغۍ شي درپسې
۹/۸/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library



نېکمرغۍ به د نړۍ شي درپسې
چې د مور دعا ډالۍ شي درپسې

په سیرت به دې وګړي مریدان شي
په صورت به ښاپېرۍ شي درپسې
رسوي دې لکه غشی خپل هدف ته
چې رضا د مور لیندۍ شي درپسې
غم د مور پلار د سرو او تودو وکړه
چې سوړ آب ګرمه ډوډۍ شي درپسې
که دې ګل د مور د زړه کړلو ترلاسه
بوراګان به د خوښۍ شي درپسې
د جنت کیلي د وګړه په لاس کې
که لاس پورته د ابۍ شي درپسې

**شیرین زویه!** د مور لپه یې ده دفع
که هر لور نه تربرۍ شي درپسې

۱۱/۸/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه ◊ ۲۰٤

چې بلا د غریبۍ شي ورپسې
سربېال شي برېبوکۍ شي ورپسې

بې علمي له سړي لوری د ژوند ورک کړي
ګڼه توره تربږمۍ شي ورپسې

له دې ښاره په ژړا وتو ته اړ شي
چې خیرګر لکه مچۍ شي ورپسې

د کور منځ ځنې یې جوړ د کلي منځ شي
چې بدخویه ګاونډۍ شي ورپسې

ځنې خلک چې شتمن شي ښکر پیدا کړي
چې بې شتو شي نو لکۍ شي ورپسې

غم د نن کړه پرون بېرته نه راګرځي
په ژړا که دې ژبۍ شي ورپسې

**شیرین زویه!** شي د زړه په خوراک روږدی
غم چې ډېر د بیغمۍ شي ورپسې
۱۳/۸/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library



نه طامع د چا د ډاډ او نه د داد يم
مستغني د ښکلي يار په ښکلي ياد يم

درباريان دې په دربار کې وي خوشحاله
زه مې خپل د خسپوشک په ګوټ کې ښاد يم

مه ويرېږئ زما ګوتو کې قلم دی
نه چاړه لرم په لاس کې نه جلاد يم

زما خته د باران د ټينګې نه ده
زه د اوښکو په يوه څاڅکي برباد يم

انسانان خو څه چې ژوي دې ډاډه وي
نه مې ګوته په ماشه ده نه صياد يم

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۰٦

یــو لــه وېــرې پــه لــرزان شــو لکــه پاڼــه
چــې یــو بــل ورتــه ویلــې آدم زاد یــم

د ویشــتلو لــه نامــه مــې کرکــه کېــږي
زه په‌گل هــم لــه ویشــتو ســره تضـاد یــم

چې لونګک کرو، نو بنګک ترې زرغــونېږي
ځکه سـر لــه تـاوتریخوالي پــه فریـاد یــم

چې بنده یې نــو پــه سـلو ځُمــو بنـد یــې
ته نو څنګه ځان تــه وایــې چــې آزاد یــم

د چنار په شان چې سوی مې ګوګـل دی
د ســکروټو پــه ډېــرۍ بانــدې ابــاد یــم

چې مېرې ترې په ژوند نه و ازار شوی
**شیرین زوی** وارث د هاغه اروابناد یم

۱۷/۸/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library



نه مې شپېلۍ په غوږ ښه لګي نه رباب زړګيه!
غم د لمبه لمبه ټاټوبي کړم کباب زړګيه!
ګوتې پخپل غوږ کې منډم ځای ورپرېږدم ترینه ځم
چېرته چې څوک د ورور وژل بولي ثواب زړګيه!
چاره د تشو خبېتو نه کېږي په تشو وعدو
تنده د چا کله ماتېږي په سراب زړګيه!
وګوره اوس هم نجونې وړي اوبه سرونو باندې
دعوې د ښځو د حقوقو دي کذاب زړګيه!
هم لړل شوي دي په زهرو د دې خلکو ژبې
هم يې ذهنو کې چپه شوي دي شراب زړګيه!
دلته څلور لسيزې ژوند خلکو تياره کې کړی
څکه رڼا ته کتی نشي د افتاب زړګيه!
خپل قلم وړم د قام د زړه د رانيوي بولۍ ته
چې پېرودونکو د يوسف کې شم حساب زړګيه!
ما **شيرين زوی** د غواص کړنه په دې نيت پيل کړې
ګوندې څوک وژغورم د ستونزو له ګرداب زړګيه!

۱۹/۸/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۰۸

لمر مې ځراغ، ستوري مې شمعې او سپوږمۍ مې ډیوه
راپسې لپه کې نیولې ده ابۍ مې ډیوه

موسم چې خړ شي ورته ژر پرده کړم خپل لاسونه
وایمه هسې نه چې ګل کاندي سیلۍ مې ډیوه

د ماڼۍ والو شان يې بله پرېښودلی نه شم
ما سره ډار وي چې لمبه نه کړي کيږدۍ، مې ډیوه

چې مې په سترګو تیاره جوړه کړي د لوږې شدت
راته ښکاره شي د خپل شکور سره ډوډۍ مې ډیوه

شیرین زوی چا ته شوګیرې، چا ته شعرونه لیکم
څه سود ویدو ته که رڼا کړي ترږمۍ مې ډیوه؟

۱۲/۹/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library



د زمانې توره دوره کې ډيوې بلوم
د دربېلو محاصره کې ډيوې بلوم
غواړم چې دنګ په ترږميو کړم قامت د رڼا
په هره دنګه مناره کې ډيوې بلوم
د ويښېدو نارې وهم پرځای پرتو کاڼو ته
لکه مجنون تشه ميره کې ډيوې بلوم
که نوراني وي که خاورين په ستورو کار نلرم
زه د دې ځمکې سياره کې ډيوې بلوم
انځوروم د خوشحالۍ له اوښکو ډکې سترګې
د ښايستونو منظره کې ډيوې بلوم
له حده نه ووځمه حد ته درناوی لرمه
بس د نړۍ په دايره کې ډيوې بلوم
شوپرکي دې رابلي تور ماښامونه ورته
زه د خپل ملک هره دره کې ډيوې بلوم
چې قتلعام په کې د شعر د ذوقونو شوی
**شيرين زوی** داسې هديره کې ډيوې بلوم
۱۳/۹/۱۳۹۸ل

ketabton.com - The Digital Library



زموږ غريبي وه مونږه ډېره ښه ساتله ډيوه
مونږه په خپلو خولو ځان ته بلوله ډيوه
مونږ يې رڼا ته صرف ډوډۍ خوړله، لمونځ مو کاوه
نور مو په نيت د سپما ژر ژر ګلوله ډيوه
منم بې شکه رڼا ښه ده، خو اسراف ښه نه دی
بې اړتيا هسې توله شپه بلوئ څله ډيوه
مونږ به چې کله هم تر نيمې شپې کيسې کولې
نو د الله ډالۍ سپوږمۍ به موګڼله ډيوه
بېګاه مې مور له پښو اغزي وېستل، خو ستن ورکه وه
تر نيمې شپې يې پسې لاس کې ګرځوله ډيوه
زه مې د هر زوی د بريا امتياز د لور ګڼمه
دوی به چې درس لوسته د شپې، دې به ورووړله ډيوه
مانۍ پرې خنګه راپرېنوته صابره خدايه!
چې له جونګړې يې د خوار ورته ترووړله ډيوه
همدا رښتيا ده، چې په مونږه يې تياري لورېدې
هغوی چې خپل وطن ته وړله له کابله ډيوه
ژوند دې نو داسې شپې هم تېرې شوې په ما **شيرين زوی**
چې مې د هر بانه په څوکه بلېدله ډيوه

۱۳۹۸/۹/۱۵ل

ketabton.com - The Digital Library



خومره تور اندي يو په شك د دښمن ورور وژنو
خپل ځواك په كار اچوو، خپله پرې خپل زور وژنو

مونږه جنګ نه وژنو په جنګ وژنو اوبرنګه زلمي
نور خلك اور په اوبو مونږ اوبه په اور وژنو

مونږ ته زمونږ اصلي څهرې راښکاره نه کړۍ ګورۍ!
مونږ ائيني هم په سبب د خپل انځور وژنو

خبره واورۍ! څوك چې غم راوړۍ بې غمه ګرځۍ
مونږ هرڅوك څه كوو،خپل ښكومى،خپل غمخور وژنو

په دې وينا د نورو خولې او خپلې سترګې ترړو
كه سپين هم وژنو ووايو شور مه كوۍ، تور وژنو

تر جلادانو د وژنې په چل ښه پوهېږو
په دې مو څه؟ كه څوك په توره كه په لور وژنو

په رواني رنځ مبتلا يوو **شيرين زويه!** اشنا
په خيال كې هم څوك وژنو درې او څوك څلور وژنو
۱۹ /۹/ ۱۳۹۸ل لغمان، مهترلام ښار

ketabton.com - The Digital Library

◊غزلــونــه◊ ۲۱۲

نور به مې خيال وبنسي، نور به مې ستا ياد وبنسي
دومره برباد يم، چې به ما هېڅ يو اباد وبنسي

حالات خراب دي بس له دې خبرې ډېر وېرېږم
چې پت پرې پټ ساتم دا شرېږ رانه باد وبنسي

هيڅوک به هېڅکله له لوړې سر و نه ټکوي
چې ترې مشروع حقوق چارواکي په فساد وبنسي

د حرص تازي يې په داړلو يم له ښې اېستلی
ښکار به مې کړي، خو ځان سره به صياد وبنسي

فکر کوم دنيا قسم کړې، چې ځي به ترې ټول
خو يو به هم ورځنې خپل زړه خوښ او ښاد وبنسي

که زندګي دې د ناروغ بې مزې خوله نه غواړې
نهيلي بويه درنه هيله او مراد وبنسي

پند دې ترې هم او خوند دې هم ترې **شيرين زويه!** واخلې
خو چې ارزښت مې له غزل ځنې نقاد وبنسي

۱۳۹۸/۱۰/۸ل

ketabton.com - The Digital Library



# د کوچنیانو لپاره د پښتو الفبې د تورو منظومه

د مور د سترګو توره څه! (الف) او (ب) زده کړه
بلا دې واخلم (پ) او (ت) ورسره (ټ) زده کړه

بیکه دې واخله هله ژر کوه ناوخته شوله
مکتب ته لاړ شه! (ث) او (ج)، (چ) (ح) او (خ) زده کړه

کتاب دې پرانیزه! (څ) (ځ)، (د) (ډ) او (ذ) ووایه
معلم ته کېنه! (ر) او (ړ)، (ز) (ژ) او (ږ) زده کړه

د زړګي سره (س) او (ش) هم پښتو (ښ) حفظ کړه
هم په ښه توګه (ص) او (ض) هم (ط) او (ظ) زده کړه

د (ع) او (غ) ، (ف) (ق) او (ک) په تورو فکر وکړه
(ګ) (ل) (م) (ن) او ورسره (ڼ) (و) او (ه) زده کړه

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۱٤

بې ټکو نرمه يا مفرد او مذکره (ی) ده
لکه (سپين ږيری، لوی، سړی) ډېرې کيسې زده کړه

د نارينه جمع نومونو په اخر کې راځي
دوه ټکي څنګ په څنګ لري څرګنده (ي) زده کړه

له اوږدې (ې) لاندې دوه ټکي لاندې باندې کېږده
(ښکلې، خوږې او نورې داسې کلمې) زده کړه

د ښځينه نومونو پای کې لکۍ واله (ۍ) وي
(نجلۍ، غوټۍ، سپوږمۍ) په توګه د بېلګې زده کړه

په وکړئ! مه کړئ! څه شوئ؟ څه کړئ؟ لاړ شئ! راشئ! کې
زورکي واله (ئ) کارېږي، دا قاعدې زده کړه

چې توري وپېژني او زده کړې ليکل او لوستل
له **شيرين زوی** څني بيا نورې طريقې زده کړه
۱۳۹۹/۲/۲ل

ketabton.com - The Digital Library



خو تېونه بې پتې او بې دوا دي
سببونه د اذيت او ازار زما دي
خو خپسو شان کړدو خپلې منګولې
ښخې کړې په مرۍ زما د اروا دي
زړه او ذهن به مې څه سکون پیدا کړي
تل مستورې خاتمې ته په سودا دي
د بې وسو لمدې سترګې، وچې شونډې
قاتلانې زما پر شونډو د مسکا دي
د ورغويو سرې تناکې، د پښو چاودې
زما د زړه خوراک ته خوېندې د بلا دي
د خوب غلې راته د شپو په خاموشۍ کې
له سوز ډکې سوې ساندې د هر چا دي
خپل ضمير او خپل وجدان راته ملګرو!
ناصحان په هر يو پل، په هره ساه دي
يار اوربل ته څنډ ورکړی **شيرين زويه!**
بيا ورمې په اوربو ناستې د هوا دي
۱۲/۲/۱۳۹۹ل

ketabton.com - The Digital Library



چا په ایران، چا په پنجاب، چا په روسیې پلورلی
د سترګو تور وطن مې هرچا په پیسې پلورلی

چا په ریال صیغه ورکړې خپله خور عرب ته
چا په ډالر باندې خپل ورور په امریکې پلورلی

چا د پلار توره، د پلار ډال تر کباړې وړی دی
چا **شیرین زویه!** دی پړونی د ادې پلورلی
۱۶/۲/۱۳۹۹ل

څه به یې درشمارم، چې نرګیس، ګلاب، غاټول دی یار
لنډې یې درته وایم د همه ګلو کهول دی یار

څه به یې د حسن ببلابېل اړخونه ستایمه
زه په دې باور یمه، چې وړ د صفت ټول دی یار

تل یې **شیرین زویه!** په کې خیر د بشر غوښتی دی
تل خدای ته نیولی په همدې موخه کچکول دی یار

ketabton.com - The Digital Library



لاس چې خالي شي، نو په دا نظر نه لوېږي سړی
له چا هېرېږي او د چا نظر نه لوېږي سړی

ومنمه! هیڅوک مات بانه سترګو کې نه خوښوي
چې شي بې ګټې خامخا نظر نه لوېږي سړی

بلا پسې که په تیاره کې یو څوک نهویني څوک
ارمان په دې، چې په رڼا نظر نه لوېږي سړی

که لکه ګل د ناز اوربل نه په مستۍ پرېوځي
نو په غرور او په هوا نظر نه لوېږي سړی

منم ریښتنی یار خپل یار ارادي نه غورځوي
خو! لکه اوښکه د اشنا نظر نه لوېږي سړی

سر په سجده ورته کښېږدې **شیرین زویه!** اشنا
په محبت کې د دنیا، نظر نه لوېږي سړی
۱۰/۷/۱۳۹۹ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۱۸

گرمۍ کې باد، يخنۍ کې لمر، شپو کې سپوږمۍ وګوره!
ناشکري مه کړه د رحمان خالق ډالۍ وګوره!

شکر په دې کوه چې تاو دي ديوالونه درنه
نه چې دا خاورې درنه هم وېسي سيلۍ وګوره!

که د خپل تن غړي په تله د انصاف وتلې
د هر يوه ارزښت به وي يوه نړۍ وګوره!

چې درمعلوم درته اهميت د خپلو دوه سترګو شي
خيال کې ځان ړوند کړه او عذاب د تربږمۍ وګوره!

ستونزه دې څه ده؟ زه پوه نه يم، خو که کور نلرې
بې ځالې ځانګو باندې ناستې دي مرغۍ وګوره!

پښتنې خپل پلو کلک ونيسه په دواړو لاسو
په لوپټو پسې رااوتې بوربوکۍ وګوره!

لږ فکر بويه **شيرين زويه!** هغې ورځې لره
کله چې ځمکه شي پښو لاندې سره تبۍ وګوره!
۲۷/۷/۱۳۹۹ل

ketabton.com - The Digital Library



# قرآن

په زړه او ذهن کې د هر یو سوال ځواب دی قران
د معرفت د بې سرحده نړۍ باب دی قران

که په لنډيز دې عقل کار وکړي او سر دې خلاص شي
له مختصرو مرغلرو ډک درياب دی قران

هم يې لوستل، هم اورېدل، هم زده کول، هم ښودل
له هرې خوا خير، برکت، اجر، ثواب دی قران

د خدای بنده! که دې خپل ذهن معطر غواړې
نو د نادرې خوشبويۍ نادر ګلاب دی قران

که دې د اخذ ځواک نيمګړی **شيرين زويه!** نه وي
د هر يو علم او هر فن ام الکتاب دی قران

يکشبه، د روژې مبارکې شپږمه
۱۴۰۰/۱/۲۹ ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۲۰

پوره کوونکی منل شوی د ایمان دی جانان
ځکه په ما لکه ټوټه د ایمان ګران دی جانان

زمونږ تر منځه د حقوق په نوم شر مه جوړوئ
زه ترې قربان یم او له ما ځنې قربان دی جانان

زړه به له دې ستم نه وروسته څه سکون ومومي؟
چې په شاګوري او په مخ رانه روان دی جانان

زه د آدم او د حوا خلقت نه ښه خبر یم
زه په دې پوه یمه چې برخه مې د ځان دی جانان

ما ته یې ښه ارزښت معلوم دی، ته یې مه راښیه
ما **شیرین زوی** لره ډالۍ د پاک یزدان دی جانان

۱۱ / ۷ /۱۴۰۰ ل

ketabton.com - The Digital Library



که غواړئ مرسته د یو بل اړمن وګړي وکړئ
خیر دی په خپل نفس لګبتونه لږ نیمګړي وکړئ

خوا کې مو وګورئ څوک څاه ته د نېستۍ لوېدلی
چې پرې راجیګ شي انتظام ورته د پړي وکړئ
زړې جامې دانا ته نه، نادان فقیر ته ورکړئ
ژوندی ځپل ځان شي پټولی غم د مړي وکړي
د قام تعبیر مو یې بدل کړو سخیان شول ګدایان
یو څه تدبیر د بې وزلۍ د دغه زړي وکړئ
دې پرمختللې زمانه کې هم نن وویل چا
جومات پرش نه لري، زلمو لاړ شئ سرګړي وکړئ
یا به نهیلی وي او یا به قناعت نه لري
تحقیق که ژوند ځنې فرار کې د هر سترړي وکړئ

**شیرین زوی** وایي موندی نه شي ساحلوالو سره
د زړه سکون ته لاسنیوی د اوبو وړي وکړئ
۲۱ / ۷ / ۱۴۰۰ ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه ◊ ۲۲۲

ښه ورتیا ده ارزښتمنه خاموشي
ارزي ډېره په ستاینه خاموشي

په ځنګل کې هم له ډال او هم تورې
له سړي کړي ښه ساتنه خاموشي
که دې عیب د رسوایۍ له یخنۍ ژغورې
ورته ده غوره برستنه خاموشي
په کوم ځای کې چې اظهار د نظر سخت وي
هلته هم نه ده ستونزمنه خاموشي
نه سړی غلاموي د خپلې ژبې
نه سړی تړي په ژمنه خاموشي
د سیرت او د صورت دواړو ښایست ته
نادر خال ګڼه په زنه خاموشي

په محفل کې د ناپوهو **شیرین زویه!**
له هر څه ده عالی کړنه خاموشي

۳۱ / ۳ /۱۴۰۱ ل

ketabton.com - The Digital Library



د غنم رنګو له تاثیر ځنې انکار ریا ده
دې حقیقت نه د ادم د زوی فرار ریا ده

هاروت، ماروت د تورو زلفو دام کې ونښتل
له پرښتو چې په ځان ډېر کړې اعتبار ریا ده

نه خوښونکي ښایي وي د یاقوتي شونډو، خو
د نه ارزښت یې چې هر څوک کوي اظهار ریا ده

چې د پۍ مخو په لیدو سبحانه الله نه وایي
په بل نعمت شکر د ده شکرګزار ریا ده

په زړه راښکون د ښکلو سترګو، پټول د سترګو
د **شیرین زوی** په نزد د هر چا دغه کار ریا ده

۱۴۰۱/۵/۶ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۲٤

کج روی شوې د انسان له حده زښتې
دومره زښتې چې هېڅ نه دي د منښتې

حقيقت که د سپين روبو درځرګند شو
له رڼا به د تيارې په لوري تښتې

زه د اوښکو په رڼوالي هم شکمن یم
په تاودو اوبو کې دوی هم مالګه نغښتې

پيل د هرې چارې ډېر په ښه شان بويه
د دېوال عاقبت ټاکي لومړۍ خښتې

د غليم خادم د خپل ملت خاين دی
زېږولی بېټنی وې که غرغښتې

د منصور انجام چې ښه درته معلوم دی
**شيرين زويه!** حال نو څله رانه پوښتې
۱۴۰۱/۵/۲۲ل

ketabton.com - The Digital Library



# شعر

له ما مخکـې فرمـايلي سـتر خوشـال
نلـري فاسـق، فـاجر د شـعر مجـال

معماري د تـاج محـل ده تـرې اسـانه
ګران اعمـار دی د لفظونـو د دېـوال
دي پېيــل د ملغـــلرو پـــه هنـــر
شــعر مــه ګڼــه د پښ، ټټــار کمــال
ناممکن، ممکن کول دي پخپل فکـر
نامريي، مريي کول دي پـخپل خيال
د حـدودو رعايـت تـه فهـم غـواړي
علــم غـــواړي د ثـــواب او د وبــال
د زړه وينې غواړي شونډو ته سُـرخي
ږدي د سترګو تور نه زنه باندې خـال

د مغز غـوړ يـې دی کيـريم د اننګيـو
**شيرين زويه!** غواړي ډېرخه يې جمال
۲۴/۵/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۲٦

د اولـــــس امانتونـــــه راســـــره دي
خـــو ناچاپـــه کتابونـــه راســـره دي
د ذهني صـعود، فکـري توسـعې لپـاره
پـه زړه پـورې اسبابونـــه راسـره دي
په لټون چې پسـې سـترې دي ذهنونـه
د هغــه ســوال ځوابونـه راســره دي
ما پرې کړې شوګیرې دي، ځکـه وایـم
د تهجـــد شـــان ثوابونـه راســره دي
ارمان دا، چې پښتنو کې غواص نشـته
د ســــپیو دریابونـــــه راســـــره دي
بـس خـو قحـط العطـار الله راوسـتی
ګنــې رنـګ رنـګ ګلابونـه راسـره دي
چې رڼه اندونه نور هم پـرې رڼـه شـي
یـو لمـر نـه دی، آفتابونـه راسـره دي
بدمرغۍ چې پرې له ځانه لـرې وېسـۍ
د انـــدونو ســـېلابونه راســـره دي
**شیرین زویه!** چې پرې جوړ شي محفلونه
د تیوریــــو ربابونـــــه راســـــره دي

۱۴۰۱/۸/۳ل

ketabton.com - The Digital Library



بس ماښام په کې سهار، سهار ماښام شو
ژوند د دغو څو شېبو نوم و تمام شو

د بې پایه امیدونو سلسله وه
نه ارمان په کې پوره، نه کار انجام شو
د ثواب او د عذاب په فکر تېر شو
د امید او وېرې ځای و، ګز او ګام شو
خدای پیدا کړ انسان خپلې بندګۍ ته
دغه اوړی بند دانې پسې په دام شو
هواګانې یې په کې دوه چلولې
چې اختیار به د هر چا لاس د بام شو
ګلابونو په کې هم سرې وژلو
چې په مینه به دې کله ورته پام شو

**شیرین زوی** ورځنې دومره بهره وېوړه
چې الف غوندې قامت یې په کې لام شو
۱۴۰۱/۱۰/۱ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه ◊ ۲۲۸

چې خفه ښکلي د خپل ځان په هستۍ دي
له امله ای هستۍ! ستا د نېستۍ دي
له هغو واړن، واړن له غرقېدو دی
چې خلاف يې عادتونه د راستۍ دي
آه د خپلې زنده گۍ مقصد ترې هېر دی
نادانان نړۍ کې بوخت په خرمستۍ دي
له دې ځايه د عمل هيله عبث ده
چې راړول په کې وګړي له سستۍ دي
په رغبت د **شيرين زوی** ښه خبر اوسئ
تور وېښته يې سپين په حُسن پرستۍ دي
۱۴۰۱/۱۰/۳ل

يــوه لوېشـــت نـــړۍ تـــه راغللـــې بربنـــډ
خــالق ځنګــه ښــه او خــومره ښــه کــړې پنــډ
مــنم ځــوان هــډوکي کلــک لکــه فــولاد دي
خو وياړ ښه نه دی پرې ځينې وخت شي خوږنډ
د نــاروغي ارتينــې ســر تــه ناســت ښــه يــې
لــه هغــه چــې ديوالــه تــه ناســت يــې کونــډ
په کې ځـای خـو ځـه؛ بـې شـکه درکـوي يـې
**شـــيرين زوی** ځنــې کــه زړه وغــواړې غونــډ
۱۴۰۱/۱۰/۵ل

ketabton.com - The Digital Library



زوږ پیمان دې څه پیمان و، چې دا نـوی بـه دې وي
اور د حُسن به دې نه وي، خو پرې سـوی بـه دې وي
له تا پس به مې پـه زړه کـې د سُـرور زړی شـین نشـي
ته به نـه یـې، خـو د یـاد بـې رحمـه ژوی بـه دې وي
تا له تللو وروسته تـل دی، نـامرېي درد را پـرې ایښـي
ته به بیا هـم راتـه شـاکـړې، خـو دا روی بـه دې وي
د شیدو په څېر اشعار دې ښایي وخت له مرۍ نغړ کړي
**شـــیرین زویـــه!** د شـیدو د سـر پېـروی بـه دې وي
۹/۱۰/۱۴۰۱ل

په ښه خوی سړی قادر زړه تـه پـه لار شـي
په بد خوی له سړي شته یـاران بېـزار شـي
د پېژنـــد بشـــپړ ګـنـهـــل یـــې نیمګړتیـــا ده
تـاګڼلـی وي انسـان، خـو هغـه مـار شـي
چـــې چـــوپړ د بنـــدګانو یـــې مـــرام وي
پـــه بهتـــان د بنـــدګانو ریاکـــار شـــي
**شیرین زویه!** خدای خدای وایه چې اور نشـي
څه خلیل نه یې، چې اور درته ګلـزار شـي
۱۱/۱۰/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library



خدای خلق کړی مختلف دی له عالم ځنې شاعر
په مزاج کې ډېر نازک دی له شبنم ځنې شاعر

زړه کې تل له خدای سره وي، زما دی پرې دا باور
خو په خوله تل قربانېږي له صنم ځنې شاعر

محبت کې د رڼا دی، له پتنګ ځنې ورتېر
تقدس کې مقدس دی له قلم ځنې شاعر

دا بې لاسو او بې پښو کب، محروم مه شه له اوبو
ربه! هېڅ وخت لرې مه کړې خپل کرم ځنې شاعر

د تناکو زغم خو څه چې، د لیدو یې نه شته تاب
په امان لرې د وړې خبټې غم ځنې شاعر

**شیرین زویه!** شاعر بوله د ځیګر د تپ ټکور
**شیرین زویه!** کم و نه ګڼې مرهم ځنې شاعر
۱۴۰۱/۱۰/۱۳ل

ketabton.com - The Digital Library



**مینه کوې، خو د کولو یې اظهار نه کوې**
**شېخه! منمه دې، چې ته د ریا کار نه کوې**
**نور که چوپړ ته د ظالم په پښو ځې، ته په سر ځې**
**ربښتیا ده! هېڅ د چا له سرو سترګو نه ډار نه کوې**
**چې مخامخ یې ماتوې او ماتوی شي زړونه**
**بیا خو صحیح ده، چې له شا په چاګوزار نه کوې**
**که څه هم خدای دی پرهېز کړی د خوړو له څکې**
**شیرین زوی بیا هم خوړ دی دې نه به انکار نه کوې**
۱۵/۱۰/۱۴۰۱ل

**ودانۍ ته د ژوندون مې د سېلاب په څېر اړم دی**
**ډېر غمونه کول غواړې، ارمان دا دی چې وخت کم دی**
**بې دردي ده، د یتیمې نجلۍ مخ په اوښکو لوند دی**
**بې دردان وایي غوټۍ ده اورېدلی پرې شبنم دی**
**اننګې یې ګلابونه، بوراګان یې تورې سترګې**
**تورې زلفې یې ماران دي کړې وریځې یې لړم دی**
**په دې کلې کې خوښي د انځر ګل، د قدر شپه ده**
**شیرین زویه! په کې خپور هر ځای تېغ د درد او غم دی**

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه ◊ ۲۳۲

بې دوسته، بې ملګري، بې اشنا اوسېدل ګران دي
تنها نړۍ ته راغلم، خو تنها اوسېدل ګران دي

دراک ته د شپېلۍ آه و فریاد غوره دلیل دی
د خپل وجود له برخې نه جدا اوسېدل ګران دي
باور په اوو جنمو، که په خو پراوه ژوند وي
باور لرم په ټولو کې بې تا اوسېدل ګران دي
الله ج چې له آدم، ابن آدم یم پیدا کړی
څرګنده ده، چې بې بنت حوا اوسېدل ګران دي
عشق تنده، عاشق تږی، معشوقه لکه اوبه ده
اوبه چې کب ته نه وي ورته بیا اوسېدل ګران دي
ایمان چې زړه ته ښکته شي، نو ژوند کې قرار راشي
په بې سکونه زړه کې د اروا اوسېدل ګران دي
مکان خو بلها ښکلی دی، مکین چې ښکلي نشي
ای ربه! په کې ښکلیو ته بلها اوسېدل ګران دي

رښتیا ده **شیرین زویه!** چې هیڅوک چا پسې نه مري
خو ډېرو ته ښکه چې بې چا اوسېدل ګران دي

۱۴۰۱/۱۰/۱۷ل

ketabton.com - The Digital Library



څه شان چې په يو مړ باندې ژوندي اړوي خاورې
همدا راز په بې علمه خپل پردي اړوي خاورې

تا انګېرل، چې ښايي په ميراث کې برخمن شي
اُمت دې اوس په هغه ګاونډې اړوي خاورې

پښتون دی، چې يې کړه پاچا خاني تر خاورو لاندې
هندو کله په فکر د ګاندي اړوي خاورې

د عصر انسانان داسې مدار ته رسېدلي
چې سستو باندې چست او ګړندي اړوي خاورې

په ځينو **شيرين زويه!** له خپل لاسه خاورې اوړي
په ځينو **شيرين زويه!** خپل تندي اړوي خاورې

۱۹/۱۰/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲۳٤

خنګ به پوره شي دا نيمګــړې کيســه
د زمــــانې ســــيلاب را وړې کيســـــه

نور هم زما ستړي په خپر ســتړي شــي
چې ورته وکــړم خپلــه ســتړې کيســه

داسې بد پيل يې دی بــد فعلــو کــړی
چې هيڅ پای نلري زوی مړې کيســه

د هــيڅ تــدبير پــه تينــر نــه پــاکيږي
په داســې بــد رنــګ يــې لړلــې کيســه

سړی حيران شي، چې له چا وپوښتي
چــې خنګــه وه، هــا د بــابړې کيســه

خلاصون يې نشــته **شيرين زويــه!** اشــنا
پـــه ســـل و زر لومـــو تړلـــې کيســـه
۱۴۰۱/۱۰/۲۰ل

ketabton.com - The Digital Library



نور څه نه غواړم بس دا له خدايه غواړم
مغفرت مې د ګناه له خدايه غواړم

زه چې زړه، ذهن او روح ته سکون غواړم
نو پر شونډو دې مسکا له خدايه غواړم

مخکې ما له خدايه ته هر وخت غوښتلې
اوس زه هر وخت ستا رضا له خدايه غواړم

ګڼه نورو غوندې ما هم بدلون کړی
پخوا اوس او اوس پخوا له خدايه غواړم

په باران د رحمتو او نعمتو کې
**شيرين زوی** به تل لقاء له خدايه غواړم

۱۴۰۱/۱۰/۲۳ل

ketabton.com - The Digital Library



چې د وګړو د خدمت په پار په ور کې ناست وي
بويه هغه د ټول محفل زړه او ځيګر کې ناست وي

چې انسانانو سره اوسي او ضرر يې زغمي
تر هغه ښه دی چې له دې وېرې په غر کې ناست وي

مسافر ياره! په وطن کې د ژوند حال څه پوښتې
د اوښکو څاڅکي دی همېش د باڼه سر کې ناست وي

چې ښه په صدق د بادار ګډې بزې څراوي
غوره تر ده دی په ريا چې په ممبر کې ناست وي

د خپلې خوښې فتوې داسې ورکوي **شيرين زوی**
لکه مفتي د مرافيه چې په دفتر کې ناست وي
۲۴/۱۰/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library



د ژوند سینګار ته په مقدار د اړتیا بده نه ده
هیڅ څوک دښمن د دنیا مه شه دنیا بده نه ده

مه وایه دا چې دا دې وي او دا دې نه وي په کې
د شخصیت زېب او زینت ته وړتیا بده نه ده

په دې کې شک نشته تیاره ښه خوب ته ډېره ښه ده
په مغز کې هم بله د علم رڼا بده نه ده

زما په خپل رازق پوره، پوره، پوره باور دی
خو د حلال او پاکیزه رزق ادا بده نه ده

په ځان بې وخته محشر مه راوله ژوند وکوه
بده د مرګ ده د ژوندون تمنا بده نه ده

منم د هرې ستونزې حل ته یو الله کافي دی
خو **شیرین زویه!** د رنځورو دوا بده نه ده
۱۴۰۱/۱۰/۲۷ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلـونـه ◊ ۲۳۸

زه چې کله ستا له فکر نـه پـه خنـګ يـم
د خپل زړه اوسپنه خورمه ورته زنګ يـم

نـه مـا عقـل او نـه زه عقـل قـانع کـړم
شمعه وايي سـوځې، زه وايـم پتـنګ يـم

نه ما وواژه وجـدان نـه يـې قاتـل شـوم
نه برلاسی له خپل نفس سره په جنګ يـم

نـــه د ژبـــې پـــه شـــان اوړم او رااوړم
نه اوبو غوندې په رنګ د هر يو رنګ يـم

کله ښکل کړمه دنيا، کلـه يـې تـف کـړم
نـه روان پـه سـمه لار نـه پـه ګـړنـګ يـم

په تيارې لارې درتلـل دي، نـو زه ځکـه
انتظـار سـتا د بنګړيـو د يـو شـرنګ يـم

وخت مې ټول ستا محبت ته وقف کړی
**شيرين زوی** ستا د يوې موسکا ملنګ يـم
۱۴۰۱/۱۱/۷ل

ketabton.com - The Digital Library



د هستۍ ذاتـي قـانون کـې شـخص مجبـور دی
محدوده کـې د خپـل مـن یـې خپـل قصـور دی
د اختیـــــار ســـــرچینه خپلــــــه اراده ده
د اختیـار تـړی لـه دې چینـې مهجـور دی
اراده تبـــــدیلوي پـــــه عمـــــل پوهـــــه
نـاپوه دې برخـه کـې مـات دی او مقهـور دی
خپـل اختیـار بولـه د خپـل علـم پـه کچـه
دې کـړی نـه یـې بهـر حـاکم تربـور دی
جبـــر نشـــته دی د پـــوهې دایـــره کـــې
نـاپوهي د شـخص لپـاره سـور تنـور دی
د گـورگـران، مـړي ناکـام کیسـه د مـړه ده
د ژونـدي بیوسـي دا ده چـې معـذور دی
بهـره ور چـې خـوک لـه خپلـې وړتیـا نـه وي
پـه ذهنـي او روانـي لحـاظ رنځـور دی
د اوږد لاس خاوند اسمان کې سپوږمۍ لمس کړه
د لنډ لاس ښتن ته جیګ تاک کې انګور دی
**شـیرین زویـه!** پـه رڼـا کـې مسـتور ښـکاري
پـه تیـاره کـې څرګنـد تـوکی هـم مسـتور دی
۱۱/۱۱/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلونه◊ ۲٤۰

چې کوم فعل مې د بشر په خیر انجام شي
کشمکش مې د ناارام ذهن ارام شي

فرق زما او ځینو نورو دی په دې کې
چې نور وخت د کار، زه غواړم کار تمام شي

دا داړلی بني ادم، کوم بني ادم دی
د لیوه نوم پرې خدای مکړه، چې بدنام شي

خدای یې وباسي خپل درد له فکر و خیاله
چې د بل درد خپل ګڼل د چا مرام شي

که پاخه یاست! هڅه وکړئ چې خام نه شئ
خام پخیږي، خو پخیږي نه چې خام شي

څه اغیز په **شیرین زوی** د مینې شوی
د سبا په نیت په شپه کې په قیام شي

۱۳/۱۱/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library



دنیـــا د هـــر شـــخص تمنـــا وګڼـــه
اوس، خو د اوس انځور همدا وګڼـه

د مصلحت بشـپړ تعریـف مـې نـه زده
بـــس د دردونـــو یـــې دوا وګڼـــه

څراغ د شپې د [رڼا وېشـې] نـوم دی
پـــه علـــم تـــوره ورځ رڼـــا وګڼـــه

پـه دېوالـه ځوړنـد تصـویر تـه ورتـه
بـــې حرکتـــه ارتقـــاء وګڼـــه

د **شیرین زوی** پـه نـرخ اوبـه شـعرونه
اوبـــه زمـــا د ژونـــد اړتیـــا وګڼـــه
۱۷/۱۱/۱۴۰۱ل

ketabton.com - The Digital Library



مه خوږوه سر پرې نړۍ ځای د امتحان دی
هر زړه پرېښان دی په کې، عقل سرگردان دی

هر چا د کلال منگې بار کړي، په دبه سپور دی
بس په یو کوچني ټکان د هر یوه کور وران دی
هر څه په کې خپله د خپل ژوند په بیه اخلو
گټه کې تاوان نه دی، تاوان کې مو تاوان دی
هره تېغنه دلته د درد زړي کې راشنه ده
هر زړه لکه زړی چاودی دلته په هجران دی
یو له عقل پلی، بل هغه ښایي بې غمه وي
چا چې پخپل لاس باندې وژلی خپل وجدان دی
دا څو ورځې ژوند به هم بلهاگران او ستونزمن و، خو
هیله ده او هیله ده چې لږ پرې ژوند اسان دی

غواړم **شیرین زوی** چې درتعریف کړم مسلسل غزل
لکه دا غزل چې مرکزي خیال یې جهان دی
۱۴۰۱/۱۱/۱۸ل

ketabton.com - The Digital Library



یوه شیبه چې دې په خپل ژوند اعتبار نشته
ولې نو غلی ناست یې، ولې ستا څه کار نشته؟

موخه د ژوند ښایي وي ستا په خېر له ډېرو ورکه
خو ستا په څیر ناست لاس تر زنې څوک قرار نشته

په بې خطره لاره تلل هسې یو خوب او خیال دی
د ژوند د لارې پای کې کوم ژوندي ته دار نشته

د زمانې تم کېدل مه غواړه څوری چمتو کړه
آس درته زین دی، خو بس امر د بادار نشته

د ژوند مالک که نشته! ولې نو ددې امانت
د نه سپارلو چا سره هیڅ واک، اختیار نشته؟

تر نه منلو یې منل **شیرین زوی** غوره بولم
خپلې خطاوې شمارل غواړې که یې شمار نشته
۱۴۰۱/۱۱/۲۰ل

ketabton.com - The Digital Library

## ◊غزلــونــه◊ ۲٤٤

خلاف د زړه او عقل ودرېدل اسانه نه دي
پوټکی له خپل ځان ځنې اېستل اسانه نه دي

ثبوت مې د وفا هر بې وفا ته دی ورکړی
که څه هم بد په ښو ځوابول اسانه نه دي

د خپل اخلاص طعنې او پېغورونه مې زغملي
په يېبلو پښو سکروټو باندې تلل اسانه نه دي

محفل کې د بې دردو يم له درده خندېدلی
ژړا ته د خندا رنګ ورکول اسانه نه دي

ما ډېر نازونه وړي دي په خپلو باڼو باندې
نښتر د چا و پښو ته ټيټول اسانه نه دي

چې دومره سختو پېښو ته ولاړ يمه، نو غر يم
د کاڼو بارانه ته سر نيول اسانه نه دي

ما تل فکر د نورو د مفاد په خپل زيان کړی
زما **شيرين زوی** نوم نور هېرول اسانه نه دي

۱۴۰۱/۱۱/۲۲ل

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*